بسم الله الرحمن الرحيم

د اسلامي تاريخ له پانو څخه

د رسول الله ﷺ ترونه او د ترونو زامن

(9)

ډاکټر کفايت الله وردګ

د کتاب په اړه

د کتاب نوم : د اسلامي تاريخ له پانو څخه (9)

ليکوال : ډاکتر کفايت الله وردک

د کمپيوتر چارې : محمد نذير (ذبيح)

د چاپ وار : لمړی

د چاپ شمېره : ۱۰۰۰ ټوکه

ZamZam

Publication Company



زم زم

خپرندويه ټولنه

Zamzam_publication@yahoo.com

00923009808094

00923009101098

Unit R 7 Alwajid Plaza, Faisalcolony Chawk, Dalazak road Peshawar, KPK, Pakistan





د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

په زړونو کې د اسلامي جذبې لرونکو څو ورونو زمونږ ددې لپاره ملا تړلې ده چې تر پورتني نوم لاندې د کتابونو يوه سلسله روانه وساتو پدې هلو ځلو کې زمونږ هېڅ مالي او دنيوي فايده نشته زمونږ غرض صرف د الله تعالى رضا ده او پدې سلسله کې مونږ څو نکتې تر نظر لاندې لرو چې مونږ دې تولو هلو ځلو ته هڅوي .

۱. پښتنو ورونو ته ددوی په خپله خوږه ژبه کې ديني معلومات ورکول.

۲. د اسلامي تاريخ د مهمو واقعو ياد را تازه کول .

۳. مسلمانو ورونو ته د دوی د مقدس دين په اړه د مطالعې ضمينه مساعدول.

٤. په تېر تاريخ کې د قربانيو مثالونه د نن زمانې ويده مسلمان امت ته ور په زړه کول .

٥. د اسلام په تاريخ کې د تېرو مسلمانانو د صبر واقعې هغه خلکو ته ور په يادول چې اوس هم په کومه نه کومه وجه د کفر له لوري نه ځوريږي .

۷. موجوده مسلماني جامعې ته موقع ورکول چې د خپلو تېرو مسلمانانو د ژوند، مېړانې، ځوانمردی، قربانی ... نه عبرت واخلي .

او بالآخره نوي ځوان تنکي نسل ته د اسلامي تاريخ د لويو کتابونو څخه لويې خبرې د وړو رسالو او کتابونو په شکل کې ددوی د اسانتيا لپاره وړاندې کول .

دا پورتنی او څه نورې داسې نکتې دي چې مونږ ددې سلسلې رواني ساتلو ته هڅوي او ان شاء الله ترڅو مو چې وس وي دا لړی به مونږ همداسې روانه ساتو لله الحمد داده ستاسې تر لاسونو پورې ددې مبارکې لړی نهمه کړی هم در ورسيږده او پدې کړی کې مونږ د رسول الله ﷺ د ترونو او د ترونو د زامنو ذکر کړی دی امید دی چې ستاسې د خوښې وړ به و ګرځي او که کوم ملګري دې لړی ته د لا زياتو ښه کولو لپاره په ذهن کې مشورې لري او يا خدمت کول غواړي زمونږ غيږه ورته خلاصه ده او که ددې کتاب او يا دې لړی په اړه ستاسې څه ډول اعتراض، سوال، نیوکه، نکته، نظريه او يا مشوره وي نو ددې سلسلې چلونکي به يې لټاسې نه د کور ودانې په ويلو سره په ورين تندي واوري او په راتلونکو کتابونو کې به يې په ياد لري . مننه

د زمزم خپرندويه ټولنې اداره

E-mail: zamzam_publication@yahoo.com

عبد المطلب بن هاشم (د رسول الله ﷺ نیکه)

نسب یې :

د پلار له لوري : عبد المطلب خپل نوم یې شیبة الحمد بن هاشم بن عبد
مناف بن قصي بن کلاب بن مرة بن کعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن کنانة بن
خزیمة بن مدرکة بن إلیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان .
مور یې :سلمی بنت عمرو النجاریة الخزرجیة.
خپل نوم یې شیبة الحمد وو شیبة ځکه وو چې دده په سر کې له ماشوم توب نه سپین وېښتان وو او الحمد تکی یې ځکه ورسره اضافه کړو چې دوی ویل چې دا لوی شي نو د ښې ستاینې خاوند به شي خلک به یې ستاینه کوي او دی به له خلکو سره ښه رویه کوي او له خلکو سره به په مشکلاتو کې مرسته کوي .
په ٤٨٠ میلادي کې پیدا شوی وو د یو ضعیف قول له مخې په ٤٩٧ کې پیدا شوی وو او په ٥٧٨ کال کې په حق ورسېدو .

په مدينه منوره کې پيدا شو او بني النجار چې په مدينه منوره کې قبيله وه هغه يې ماماګان وو له هغوی سره پاتې شو بيا يې تره المطلب پسې ورغلو او له ځان سره په اوښ باندې سپور مکې ته بوتلو کله چې مکې ته ورسېدل هلته خلکو نه وو ليدلی نه يې پېژندلو نو يې وويل عبد المطلب (د المطلب غلام دی) ده ورته وويل : نه ! دا زما وراره دی شيبة .

کله چې را لوی شو د عزت او شرف نه ډک انسان وو د ځوانمردي او سخا وربانديې انتها وه ټول عمر يې د حرم په خدمت کې تېر کړو او حرم ته د راتلونکو خلکو خدمت به يې کولو د مکې له لويو کسانو څخه وو د کعبې سره يې د کېناستلو ځای درلود هلته به ناست وو د مکې مشران او خلک به ترينه چاپېره ناست وو خبري به يې کولې او دخلکو خبرې به يې آورېدلې ټولو خلکو ده ته د خپل مشر او احترام په نظر کتل او تر مرګه پورې يې د قريشو مشري په غاړه درلوده او دده په قدر کې هغه وخت ډېر زيادت راغلو کله چې ده د زمزم چينه وروسته ددې را وکيندله چې يو ځل پټه شوې وه او حقيقت يې دا وو چې زمزم هغه اوبه وې چې ټولو عربو ورته د عزت په نظر کتل او دا يې د حضرت اسمعيل عليه السلام يوه نښه ګڼله لکن کله چې عمر بن الحارث بن مضاض الجرهمي دا اوبه پټې کړې وې او خښې کړې يې وې مخکې ددې چې د جرهم قبيله له دې ځای نه وتله

د هغې نښې او نښانونه يې ټول ورک کړي وو او تر ډېره وخته پورې د زمکې مخ ددې اوبود نعمت څخه محروم وو حضرت علي 8 فرمايي چې بېرته کله عبد المطلب را لوڅه کړه نو ماته خپل نيکه هغه قصه داسې کوله .
يوه ورځ زه ويده وم چې په خوب کې چا راته آواز وکولو طيبه را ژوره کړه !
ما ورته وويل : طيبه څه شی ده؟
ده راته غږ ونه کړو رانه لاړو .
بيا مې سبا بيا خوب وليدو چا راته آواز کولو بره را ژوره کړه (را وکينده) !
ما ورته وويل : بره څه شی ده؟
هغه بيا را څخه لاړو او زما څواب يې را نه کړو .
بيا يې په بله ورځ راته وويل المضنونة را ژوره کړه !
ما ورته د المضنونه پوښتنه وکوله لکن ده بيا څواب رانه کړو بيا يې په آخري ځل راته وويل : زمزم را ژوره کړه ما ورته وويل زمزم څه شي دي؟ ده راته وويل دا هغه اوبه دي چې کله هم نه کميږي او نه وچيږي حاجيان يې څښي پاکې اوبه دي او داسې نور ټکي يې راته وويل او په اشارو اشارو کې يې ځای راته په نښه کړو چې پدې ځای کې دي نو چې کله د ځای نښاني ماته وشوه نو زه پوه شوم چې دا خوب ريښتونی خوب دی سبا مې د قريشو څه کسانو ته وويل :

راخي دا ځای را ژور کړو دلته د زمزم پخوانی چینه وه د مکې قريشو لما سره دا خبره ونه منله او هېچا راسره په را كيندلو کې مرسته ونه كوله او لويه وجه يې دا وه چې کوم ځای ماته را په نښه کړل شوی وو هغه د دوی د دوو لويو بتانو (اساف او نائله) په مينځ کې وو او دوی ددې بتانو دا د مينځ ساحه خرابول نه غوښتل پدې وخت کې عبد المطلب دې لوی کار ته يوازې پاتې شو او ده دا كار خامخا كول غوښتل نو يې ارمان وكولو چې اوس مې شه ځوانان زامن وی نو اوس به يې زما خبره تائيد كړې وه او پدې وخت کې دده صرف يو زوی الحارث بن عبد المطلب وو پدې ځای کې يې په ځان باندې نذر كړه كه الله ① ماته لس زامن راكړل يو به د الله په نوم ذبح كوم (قصه يې ددې سلسلې په آتم كتاب کې تېره شوه) اوس يې په يوازې ځان د زمزم اوبو را كېندل شروع كړل او زوی يې ورسره مرسته وكوله كار يې كولو او په قريشو کې يې هېچا هم مرسته ونه كوله .

دوی چې كار كولو نو د څه وخت سخت كا رنه وروسته عبد المطلب ته نښې را ښكاره شوې نو په زوره يې الله اكبر وويل قريشو ورته را منډه كړه پوه شول چې دوی لكه چې كامياب شول .

راغلل ويې ليدل چې عبد المطلب رشتيا خپل مقصد ته ورسېدو نو يې ورته وويل : عبد المطلبه !

دا خو زمونږ د پلار اسمعیل ؑ کوهی وو پدې کې مونږ لتا سره شریکان یو .

عبد المطلب ورته وویل : دا کوهی اوس ماته راکړل شوی دی او اوس دا زما حق دی زه ددې په مِلک کې هېڅوک هم نه شریکوم .

دوی ورته وویل : پدې کې مونږ لتا سره دعوه کوو .

ده ورته وویل : سمه ده څوک چې په مینځ کې حاکم کوئ نو زه د هغه فیصلې منلو ته تیار یم .

هغوی ورته وویل : د بني سعد بن هذیم قبیلې په کاهنانو باندې به فیصله کوو .

ده ورته وویل : خوښه مې ده .

دا خلک چې دوی ورباندې فیصله کول غوښتل د شام په ساحو کې وو عبدالمطلب د څه نورو قریشو د مشرانو سره روان شول چې هلته ورشي او له هغوی نه فیصله واوري چې د چا په حق کې یې کوي او د قریشو د هرې کورنۍ نه کسان پکې روان شول په یوه دښته باندې سر شول چې د حجاز او شام په مینځ کې وه چې د دښتې نیمایي ته ورسېدل نو د ټولو سره اوبه ختمې شوې او ټول په داسې حالت کې تږي شول چې لا تراوسه ابادي نه ښکاره کېده نو ټول پوه شول چې اوس به مونږ د تندې له لاسه مړه کیږو هلته نورې قافلې وې له هغوی نه یې اوبه وغوښتې هغوی ورته وویل : کوم حالت چې په تاسې باندې راغلی دی دا په مونږ هم راتلی

شي او مونږ له ځان سره دومره اوبه را اخيستې دي چې زمونږ بس شي عبد المطلب خپلو ملګرو ته وويل اوس څه کوو؟ دوی ورته وويل : مونږ خو نه پوهېږو ته چې څه وايې هماغه به کوو .
عبد المطلب ورته وويل : نور څه کولی شو؟ بس اوس ټول تر اوسه په قوت کې ياست هرڅوک دې ځان ته خپله ځای ژور کړي چې کله څوک له تندې څخه مړ کيږي نو ملګري به يې په هغه ځای کې خښوي په آخر کې به يو کس پاتې شي نو خير که هغه خښ نه کړل شو نو يو کس به د خښولو نه بغير پاتې شي نو خير دی تردې چې ټول پاتې کيږي يو دې پاتې شي .
دوی ټولو ځان ته ځايونه ژور کړل او د تندې له لاسه يې د مرګ انتظار کاوه پدې وخت کې عبد المطلب ورته وويل : زما په نظر دا څه ښه کار نه دی چې مونږ صرف د خپل مرګ انتظار وباسو راځئ چې په کومه خوا باندې حرکت وکوو کېدای شي کوم ځای ته ورسېږو کله چې عبد المطلب خپلې سپرلی ته ورغلو وربانددې سپور شو هغې چې قدم واخيستو د قدم سره يې اوبه را پورته شوې عبد المطلب الله اکبر وويل ملګرو يې هم تکبير وويل او ټولو ترينه اوبه وڅښلې او بيا يې ورته وويل :
تاته چې الله ① پدې دښته کې اوبه درکړې بېشکه چې زمزم يې هم تاته درکړېده زمونږ درسره هيڅ ډول دعوه او اعتراض نشته بېرته له هماغه ځای

نه را ستانه شول او زمزم یې عبد المطلب ته ور پرېښوده . (کتاب سیرة الرسول محمود المصري)
عبد المطلب د ځوانی نه په نېکو صفاتو باندې مشهور وو مثالونه یې په لاندې ډول دي:
د سخاوت یې حد دې ځای ته رسېدلی وو چې کله به یې حیواناتو او مارغانو ته په دښته کې خوراکونه کېښودل او حلالې به یې ورته کولې چا به چې هم څه ورځخه وغوښتل څومره به چې دده وس وو ورکول به یې لکه مخکې چې تېر شول د کعبې سره په خوا کې یې د کېناستلو لپاره ځای درلود هلته به ناست وو څوک به چې حاجتمند ورته راغلو ده به ورسره مرسته کوله .

ایمان یې :

دده په اړه ویل کیږي چې په الله یې ا یمان درلود او مشرک نه وو او خلکو ته به یې ویل څوک چې د دنیا نه ګنهګار وزي نو الله ① به ورته عذاب ورکوي او ویل به یې ددې دار نه وروسته بل دار شته څوک چې نېکي کونکی وي له هغه سره به نیکي کیږي او هغه چې بد عمله وي له هغه سره به بدي کیږي .
همدارنګه د فیل په واقعه کې کله چې ابرهه د مکې ورانول غوښتل دی ورغلو دهغه دربار ته هغه فکر وکاوه دی به اوس لما څخه وغواړي چې زه مکه ورانه نه کړم لکن دی چې کله ورغلو

ورته ویل یې ستا کسانو زما اوښان نیولي دي زه غواړم چې هغه ماته را خلاص کړي .
هغه ورته وویل : ما خو دا فکر کاوه چې ته صاحب الحرم یې اوس به ته وغواړې چې زه مکه ړنګه نه کړم او ته ایله د خپلو اوښانو په غم کې راغلی یې؟
ده ورته وویل زه د اوښانو مالک یم کعبه خپل مالک لري او ساتنه به یې وکوي .
ده به د بتانو د عبادت نه کرکه کوله ، د هغه وخت د رواج مطابق یې په غېشو باندې فال نه اچولو او په بتانو یې قسم نه کولو .
څرنګه چې دده په وخت کې یو شریعت نه وو چې ده ورته خلک را غوښتی وای یا یې تابعداري کړې وای د هغه وخت عبادت د الله ① په قدرتونو نعمتونو او مخلوقاتو کې فکر کول وو او ده به کول او خلک یې ټول عمر نېکو اخلاقو او پاکو خویونو ته را غوښتل او تشویق کول .

کرامتونه یې :

ده ته چې د زمزم د کوهي ځای ور ښکاره شو دده کرامت ګڼل کیږي .
او کله چې په سفر وو (لږ مخکې یې واقعه تېره شوه) دده د سپرلی د پښې سره د اوبو را وتل هم دده کرامت وو .

کله چې اصحاب الفیل کعبه ورانول غوښتل عبدالمطلب راغلو او د کعبې کړی یې ونیوله ویل یې :

ای ربه ستا نه بغیر زه د دوی نه بل چاته شکایت نه کوم ای الله ① پخپله د دوی له لاس نه خپله کعبه وساته .

بیا یې قریشو ته وویل : تاسې مه ډارېږئ دوی دې کعبې ته نشي را رسېدلی ددې کعبې یو رب شته چې دا کعبه به وساتي بیا همداسې وشول الله ① کعبه وساتله او هغوی ورته نېږدې هم را نغلل .

هغه نیکې طریقې یې چې اسلام هم تائید کړې :

تر اسلام وړاندې ده څو قاعدې جوړې کړې وې چې اسلام هغه تائید کړې :

د غله به لاس پرې کول کېږي .

د کعبې طواف به لوڅ نه کېږي .

دیت به سل اوښان وي .

چا چې نذر وکولو هغه به پوره کوي .

د کعبې نه به خلک اوه ځله طواف کوي .

څوک به د خپلو محارمو سره نکاح نه کوي .

شراب څښل یې نه خوښول او چا به چې دده خبره منله ده به ترې منع کول .

خپلې لوڼانې ژوندې په خاورو کې مه خښوئ.

خلکو ته به یې ویل په چا ظلم او تجاوز مه کوئ
.

په خلکو ترحم یې :

ډېر اوښان یې ساتلي وو او دهغوی نه به یې شودې را ټولولې په حرم کې یې ځای ورته جوړ کړی وو هلته به یې له شاتو سره ګډولې او ټولو خلکو ته عامه اجازه وه هرچا چې غوښتل نو څښلی یې شوې .
مميز به یې اخيستل او د زمزم په اوبو کې به یې خیشته کول او په هغه کسانو باندې به یې څښل چې مکې مکرمې ته به د زيارت لپاره راتلل
.
هرچا به چې لیدلو خوښېدلو به یې د رسول الله ﷺ مبارک نور یې په تندې کې له ورایه ښکاره کېدو
.

د رسول الله ﷺ په نبوت یقین:

هروخت به یې د الله تعالى شکریه اداء کوله چې محمد ﷺ یې ده ته ورکړی دی او زیات ورته خوشحال وو او دده چې خاص د کېناستلو ځای وو بل چا ته اجازه نه وه چې په هغه ځای باندې کینې وړوکی جنتي ماشوم حضرت محمد ﷺ چې یوه ورځ په هغه ځای باندې ناست وو د کورو نورو

هلکانو او خلکو دی له هغه ځای نه لري کولو ځکه دا د عبد المطلب د شرافت او عزت ځای دی بل ځوک پدې نه کیني نو ده ولیدل ورته یې ویل : مه یې لرې کوئ دا بچی به مې یو ځوک جوړیږي .

د رسول الله ﷺ په اړه دده وصیت :

کله یې چې بیماري سخته شوه ابو طالب د رسول الله ﷺ تره ته یې وویل : بچیه ددې وراره ساتنه دې په غوره سره کوه ستا د وراره په اړه نجومیانو مخکې خبرې کړې دي او دده په اړه له مخکې نه خبرې شوې دي او ما په ده کې نښې پیدا کړې دي چې دا هماغه ماشوم دی چې دنیا یې د راتلو انتظار کاوه د یهودو څخه یې ډېر ساته چې هغوی یې دښمنان دي .

عبد المطلب د ۱۲۰ کلونود یو روایت له مخې د ۱٤۰ کلونو په عمر کې په حق ورسېدو پدې وخت کې د رسول الله ﷺ عمر آته کاله وو قریشو یې د مړي زیات قدر وکولو او په ښه بوی لرونکو اوبو سره یې غسل ورکړو په داسې کفن کې یې تاو کړو چې ډېر زیات قیمتي وې او ډېر زیات قیمتي مشک یې ورباندې تش کړل او په ډېر زیات عزت او احترام سره یې خاورو ته وسپارلو .

د عبد المطلب مېرمنې :

صفية بنت جنيدب بن حجير من بني عامر بن صعصعة (د الحارث والده)
نتيلة بنت جناب بن كليب من بني النمر بن ساقط (د ضرار ، قثم او العباس والده)
فاطمة بنت عمرو بن عائذ بن مخزوم القرشية (د أبو طالب ، عبد الله ، الزبير ، أم حكيم ، عاتكة ، برة ، أميمة او أروى والده او همدا د رسول الله ﷺ نيا وه)
هالة بنت وهيب بن عبد مناف بن زهرة بن كلاب القرشية (د المقوم ، المغيرة ، حمزة او صفية والده)
لبنى بنت هاجر بن عبد مناف الخزاعية (د أبي لهب والده)
ممنعة بنت عمرو بن مالك الخزاعية (د مصعب والده)
زامن يي :

الحارث بن عبد المطلب (د رسول الله ﷺ تره)

د عبد المطلب مشر زوی وو او هغه وخت چې عبد المطلب د زمزم کوهی یو ځل له پټېدلو وروسته بیا را ژوندلو ده ورسره مرسته کړي وه په هر کار کې د پلار لاس وربانډي سپک وو او د عبد المطلب کنیة نوم هم ابو الحارث دده له نوم

نه جوړ وو او دی د پلار په ژوند کې په حق رسېدلی وو دده په اولاد کې عبیدة بن الحارث، المغیرة أبو سفیان بن الحارث ، نوفل بن الحارث، أروی بنت الحارث، ربیعة بن الحارث، عبد شمس بن الحارث طفیل بن الحارث، حصین بن الحارث شامل وو

ابو سفیان بن الحارث (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

أبو سفیان بن الحارث بن عبد المطلب د رسول الله ﷺ رضاعي ورور هم وو ځکه ده ته هم شودې حضرت حلیمې بي بي ورکړې وې خپل اصلي نوم یې مغیرة وو څرنګه چې د رسول الله ﷺ همزولی وو رسول الله ﷺ ورسره ډېره مینه درلوده او ده هم د رسول الله ﷺ سره مینه کوله تردې چې رسول الله ﷺ مبعوث شو بیا هغه مینه پاتې نه شوه او بیا ده د رسول الله ﷺ سره ډېره کینه کوله او په شعرونو کې به یې ورپسې ډېر بد ویل تردې چې په اسلام مشرف شو تفصیلي قصه یې ددې سلسې په دوهم کتاب کې تېره شوېده دلته یې زه صرف د تکمیل د موضوع لپاره را ګرځوم .
د دوو کسانو په مینځ کې ډېر کم داسې خواږه تعلقات پیدا کیږي لکه د رسول الله ﷺ او د سفیان

ابن الحارث په مینځ کې چې وو البته دا هغه سفیان ابن الحرب نه دی دا سفیان ابن حارث دی چې د رسول الله ﷺ د سکه تره زوی دی او څرنګه چې د یو څه وخت لپاره دده پالنه هم حضرت حلیمې بي بي کړېده نو د رسول الله ﷺ رضاعي ورور هم دی په یو ځای سره لوی شوي او ډېر وخت یې سره یو ځای تېر کړی دی او ډېر وخت په یوه کور کې هم سره اوسېدلي دي او په عمر کې هم سره همزولي وو ، او ددې تولو خبرو تقاضا دا وه چې کله رسو ل الله ﷺ د خپل دعوت شروع کړې وای نو ابو سفیان باید اول هغه کس وای چې دې آواز ته یې لبیک ویلي وای لکن بیا هم داسې ونه شول او کله چې رسول الله ﷺ د خپل دعوت اعلان وکولو نو پدې وخت کې ابو سفیان ابن الحارث د قریشو نامتو جنګیالی او نامتو شاعر هم وو هغه خپل ځان او قلم دواړه د رسول الله ﷺ په خلاف استعمالول شروع کړل او کله به هم د قریشو او مسلمانانو په مینځ کې جنګ کېدو ابو سفیان ابن الحارث به د قریشو د لوري نه ښه ونډه پکې اخستله آن تقریباً تر شلو کلونو پورې هغه پدې خپل ضد باندې پاتې شو او دهغه دریو نورو ورنو نوفل، ربیعه او عبدالله له مخکې نه اسلام قبول کړی وو لکن ده نه وو قبول کړی د هجرت په آتم کال د مکې تر فتح وړاندې دده حالت بدلون ته تیار شو او دده حالت پداسې توګه بدل شو لکه

دی چې وايي چې کله ماته ښکاره شوه چې هري خواته د اسلام خبري کېدلي او اسلام خپرېدلو او هر لوري ته د اسلام ترقي مخ په وړاندي تله نو ما خپل ځان تنګ محسوس کولو ماته خپل ځان داسې ښکاره کېدو لکه زه چې په دام کې ګير شوی یم او ما به ويل چې زه به چېرته ځم ؟ او داسې نور سوالونه وو چې زما په زړه کې به را تاوېدل آخر مې خپل کور واله او ماشومانو ته وويل چې ځانونه تيار کړئ مکه پرېږدو او چې مسلمانان مکې ته راشي نو يقيني خبره ده چې ما به وژني زما کور واله ماته وويل چې ته اوس پدې خبره بايد پوه شې چې عربو او عجمو د محمد دين قبول کړی دی او ته تر اوسه پورې په خپل ضد باندې ولاړ يې او ته بايد اول هغه کس وای چې دهغه مرستې ته تيار شوی وای ، تا بايد په اول وخت کې دهغه تصديق کړی وای او د هغه مټ دي مضبوط کړی وای هغوی ددې کوښښ کولو چې زما دماغ دېته تيار کړي چې زه د رسول الله ﷺ سره په خپله رويه باندې بيا فکر وکوم ددې خبرو په دوران کې الله ② زما زړه د اسلام خواته خلاص کړو پدې وخت کې ما خپل غلام ته امر وکړو چې زه چېرته ځم يو آس او يو اوښ راته تيار کړه خپل زوی جعفر مې له ځان سره ملګری کړو او په تيزی سره مو د الابوا په لوري حرکت وکړو دا د مکې مکرمې او مدينې منورې په مينځ کې يو ځای

دی ما آورېدلي وو چې رسول الله ﷺ دلته دمه کړېده په هغه وخت کې چې د مکې په لور د ټولو مسلمانانو سره را روان وو کله چې مونږ هغه ځای ته ور نږدې شوو نو ددې لپاره چې ما څوک ونه پېژني هسې نه چې پېغمبر ﷺ ته له رسېدو نه وړاندې مې څوک مړ کړي نو خپل مخ مې په څادر کې پټ کړو او چې ډېر ور نږدې شوم نو په پښو باندې روان شوم او چې د صحابه وو اوله ډله په مخه راغله نو له هغوی نه مې لاره چپه کړه و ډار شوم هسې نه چې څوک مې و پېژني او همداسې په غلې غلې توګه ما ځان تر هغه وخته پورې وساتلو چې تر څو رسول الله ﷺ په یوه ټولې کې راته ښکاره شو چې را روان دی زه ورته بالکل مخامخ شوم او چې ښه ور نږدې شوم نو له خپل مخ نه مې څادر لرې کړو هغه زه ولیدلم او ویې پېژندلم لکن لما څخه یې مخ تاو کړو زه یې مخې ته ور تاو شوم لکن هغه بیا هم لما څخه مخ تاو کړو او نه یې غوښتل چې زما مخ ته وګوري دا کار یې را سره څو ځله وکولو پدې وخت کې ټولو مسلمانانو زما لوري ته بد بد کتل پدې وخت کې چې زه د ابوبکر صدیق ❼ سره مخامخ شوم هغه هم راته بد بد وکتل او بلې خواته را څخه لاړو بیا همداسې د حضرت عمر ❼ سره هم مخامخ شوم او هغه هم همداسې بد بد راته وکتل او ما ولیدل چې زما په اړه یې د یو

انصاري سره څه وویل او هغه انصاري بیا ماته بد بد کتل او راته یې وویل د الله ① دښمنه تا رسول الله ﷺ او دهغه صحابه وو ته ضرر رسولی او تا ددوی سره جنګونه کړي دي انصاري په لوړ آواز سره ماته سپکې سپورې ویلې چې ټولو مسلمانانو ماته په غصه کې کتل پدې وخت کې ماته خپل تره حضرت عباس د خلکو په مینځ کې ښکاره شو ما دهغه خواته ور منډه کړه او دهغه لوري ته د پناه اخستلو په نیت ورغلم او ورته مې وویل ای زما تره ته پوهېږې چې زه پدې تمه وم چې که زه د اسلام قبلولو په نیت پیغمبر ته ورشم هغه به زما په اسلام راوړلو خوشحال شي ځکه چې دهغه سره زما ښه او نېږدې خپلولي ده او بل دا چې په خلکو کې زما د ښه مقام له امله به هغه زما اسلام ته خوشحال شي او اوس هغه لما سره خبرې نه کوي او لما څخه مخ اړوي خیر دی ته ورته ووایه چې هغه لما سره خبره وکوي زما تره ماته وویل چې نه ... زه خو و الله که ورته ووایم چې لتا سره دې خبره وکوي ما هغه ته ډېر منت وکولو او ورڅخه مې و پوښتل نو بیا زه چا ته ورشم؟ ته اوس ما چاته پرېښودل غواړې او ګوره زه لتا څخه نور هېڅ هم نه غواړم صرف رسول الله ﷺ ته ووایه چې زما سره خبرې وکوي خو بالآخره دده څخه هم زما څه کار ونشو چې په خلکو کې حضرت علي ❼ را

ښکاره شو هغه ته ورغلم او خپله قصه مې هغه ته تېره کړه خو د هغه جواب ماته همداسې وو لکه زما د تره حضرت عباس ❼ چې څنګه وو زه بېرته تره ته راغلم ورته مې وویل چې نو بیا شه ده که ته د پیغمبر ﷺ زړه زما لپاره نشې نرمولی نو بیا خو لږ تر لږه هغه کس ته خو ووایه چې ماته د نورې ښکنځلې نه کوي او زما سپکاوی دې بند کړي ماته تره وویل چې ته ماته را وښایه هغه کس څوک دی چې تاته خبرې کوي ... کله چې ما ورته وښودو نو تره مې راته وویل چې شه دا خو نعمان ابن الحارث النجاري دی بیا مې تره هغه ته احوال ور ولېږلو او ورته یې وویل چې ګوره دا ابو سفیان ابن الحارث د رسول الله ﷺ د تره زوی دی او زما وراره دی که نن رسول الله ﷺ دده سره خفه دی یوه ورځ به لده سره خوشحال شي دا پرېږده (خبرې مه ورته کوه) زما تره هغه لما څخه تردې حده پورې منع کړو چې هغه وویل چې سمه ده زه به نور ده ته هیڅ نه وایم دا وخت تېرېدو چې رسول الله ﷺ جحفه مقام ته را ورسېدو (د مکې مکرمې نه اوس هم د څلورو ورځو منزل دی) زه یې د خیمې په دروازه کې کېناستلم او زما زوی جعفر زما په خوا کې و درېدو او اوس هم چې را سره مخامخ شو رسول الله ﷺ را څخه مخ تاو کړو خو زه اوس نا امید نه

وم او چې کله به هم هغه چېرته دمه وکوله نو زه به دده د خیمې مخې ته کېناستلم او زوی به مې مخې ته ودرېدو زه سخت پدې حالت کې تنګ شوم له ځان سره مې ویل زما د قسم په الله ① وي چې یا خو به رسول الله ﷺ زما لپاره خپله خوشحالي ښکاره کوي او یا خوبه زه دښتې ته ځم او په دښته کې به زه او زوی به مې دواړه پاتې کېږو تردې چې د لوږې او تندې نه مړه شو رسول الله ﷺ زما چې دا خبره واورېده هغه له خپلې خیمې نه را ووتلو او ماته یې دا ځل ډېر په ځیر ځیر وکتل او زما په زړه کې را غله چې کېدی شي اوس به مسکی شي لکن هغه جدي کتل او بیا یې راته وویل چې ابو سفیانه اوس په تا باندې څه ملامتي نشته هغه حضرت علي ❼ ته وویل چې دتره زوی ته دې ور وښیه چې هغه اودس څنګه وکوي اودس پرې وکوه بیا یې بېرته ماته راوله کله چې حضرت علي ❼ بېرته را وګرځېدو رسول الله ﷺ ورته وویل چې خلکو ته اعلان وکوي چې زه د ابو سفیان څخه خوشحال یم دوی دې هم ترې خوشحال شي بیا چې پیغمبر ﷺ مکې ته ننوتلو زه هم ورسره وم او هرځای ته به چې تلو زه به ورسره تلم او کوښښ به مې کولو چې دده سره یم او په هېڅ صورت کې به

ورڅخه نه جدا کېدم تردي چې يو وخت داسې راغلو چې د حنين د جنګ وخت شو د عربو قبيلو د رسول الله ﷺ د جنګ لپاره تياری شروع کړو او ډېر کسان يې را ټول کړل په لوی قوت او طاقت سره مشرکين جنګ ته را مخې ته شول چې کله ما د مشرکانو زيادت او دهغوی زور وليدو ما له ځان سره وويل چې زما دې قسم په خدای وي چې نن به زه داسې کار کوم چې خپلې ټولې د پخوازمانې بدی له خلکو نه وربانديږ هيرې کړم او داسې کار به کوم چې ال ① له او دهغه رسول ﷺ وربانديږ خوشحال کړم کله چې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې نو د مشرکينو فشار په مسلمانانو زيات وو حالت خراب شو او مسلمانانو حوصله د لاسه ورکړه او ځينې مسلمانان بې زړه شول خو ما رسول الله ﷺ وليدو چې توره يې په لاس کې وه او لکه د غر داسې کلک ولاړو وو او په خوا کې ورسره څه صحابه وو په جنګ باندې ښه ګرم آخته وو ما پدې وخت کې له خپل آس نه را ټوپ کړل او دده مبارک لورې ته ورغلم او دده په خوا کې مې جنګ شروع کړو په زړه کې مې غوښتل چې که د رسول الله ﷺ په خوا کې مې شهادت نصيب شي زما تره حضرت عباس ❼ د رسول الله ﷺ د قچرې واږې نيولې وې او په خوا کې ورسره ولاړ وو ما په ښې لاس باندې د رسول الله ﷺ څخه دفاع کوله او په چپ لاس مې

دخپلې سپرلۍ واږې نیولې وې د رسول الله ﷺ په خوا کې ځای مې نیولی وو او چاته مې هم اجازه نه ورکوله چې لاس یې تر رسول الله ﷺ پورې ورسیږي کله چې رسول الله ﷺ زما مقابله او په دښمنانو باندې زما پر له پسې ګذارونه وکتل نو یې زما له تره څخه پوښتنه وکوله (زما مخ ورته نه ښکاره کېدو) چې دا څوک دی؟ حضرت عباس ❼ ورته ویل د الله رسوله دا ستا ورور او ستا د تره زوی ابو سفیان ابن الحارث دی ته ترې خوشحال شه هغه وفرمایل چې زه ترې خوشحال یم او الله ② دده ټولې پخوانۍ غلطیانې ورته وبښلې چې له ما سره یې هرڅه کړي دي زه پدې خبر زیات خوشحال شوم او په رکاب کې مې د هغه پښه ښکل کړه او په ژړا شوم هغه زه قرار کړم او ماته یې حوصله راکړه او ددېنه وروسته مو خپل خپل ځایونه ونیول او جنګ تر خپله وخته پورې ادامه پیدا کړه او ددې جنګ نه وروسته به زه د رسول الله ﷺ سره ډېر زیات خوشحال وم او د هغه سره به مې د خپل ژوند نه ډېره زیاته مزه اخسته خو ده تر آخره پورې د رسول الله ﷺ سترګو ته مخامخ نه وو کتلې دهغه شرم له امله چې ده په زړه کې دهغه کارونو له امله محسوس کولو چې ده له رسول الله ﷺ سره د جهالت په دور کې کړي وو خو اوس به ابو سفیان ❼ ټوله ورځ په

تلاوت او د الله ② په ذکر او فکر باندي مصروف وو او ټوله ورځ به يې ددين په زده کولو کې کوښښ کولو يوه ورځ پداسې حالت کې چې هغه جومات ته ننوتلو رسول الله ﷺ د حضرت عائشه ❼ څخه پوښتنه وکوله ته پوهېږې دا څوک دی؟ هغې ورته وويل نه .. رسول الله ﷺ ورته و فرمايل دا زما د تره زوی حضرت ابو سفيان دی تر ټولو وړاندې جومات ته ځي او تر ټولو وروسته له جومات نه بېرته ځي .

د حضرت عمر❼ د خلافت په زمانه کې چا وليدو په بقيع کې يې قبر کېندلو او شائسته کولو خلک حيران شول چې دی څه کوي؟ ددېنه دری ورځې وروسته د بيماري په حالت کې په کور کې پروت وو او د کور خلکو ورته ژړل ده وويل چې زما په حالت مه ژاړئ قسم دی د هغې ورځې نه چې ما اسلام قبول کړی دی ما بد کار نه دی کړی . ددې خبرې سره وفات شو الله ② يې دې مرتبې لوړې کړي .

عبيدة بن الحارث (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

دا عبيدة بن الحارث بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف وو له رسول الله ﷺ څخه لس کاله مشر وو مور ئې : سُخَيْلة بنت خُزَاعي بن الحُويَرْث الثقفية وه .

کله چې رسول الله ﷺ دعوت شروع کړو د اسلام په ابتداء کې تر دارالارقم مرکز څخه وړاندې په اسلام مشرف شوی وو د هجرت شرف هم الله ﷺ ورته ورکړی وو له دوو ورونو حصين او طفيل سره په يو ځای يې هجرت کړی وو او په بدر کې دری واړه ورونه شريکان وو .

کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په مدينه منوره کې د مهاجرينو او انصارو په مينځ کې ورورګلوي جوړوله نو دده ورور ګلوي يې د عُمير بن الحُمَام الأنصاري السلمي رضي الله عنه سره جوړه کړې وه

حضرت عُبَيْدَةُ بْنُ الحَارِثِ بْنُ المُطَّلِبِ رضى الله تعالى عنه د رسول الله ﷺ په وړاندې ډېره ښه مرتبه درلوده د هجرت په اول کال په ربيع الاول او د يو قول له مخې په شوال کې رسول الله ﷺ د لمړي ځل لپاره ده ته د اسلام بيرغ په لاس ورکړی وو او د شپېتو په يو قول د اتيا کسانو مهاجرينو

مجاهدینو سره ئې په یوه سریه کې لېږلی وو کله چې د احیاء نومي ځای ته ورسېدل د کفارو د یوې ډلې سره مخامخ شول چې تقریباً دوه سوه کسان وو چې مشري یې ابو سفیان بن حرب په یو قول ابو جهل ، په یو قول مکرز بن حفص الاخیف کوله خو په تورو سره مخامخ نه شول صرف د غیشو د وارولو مقابله وشوه او بېرته سره شاته شول او د علم تاریخ ماهرینو دلته اشاره کړېده چې پدې وخت

باندې په اسلام کې اول غیشی د حضرت سعد بن ابي وقاص ❽ په بل قول د سعد بن مالک ❽ له لوري وار کړل شو .

او په همدې وخت کې له مشرکینو څنې دوه کسان مقداد بن عمرو البهراني د بني زهرة حلیف او عتبة بن غزوان بن جابر د بني نوفل بن عبد مناف بن قصي حلیف مسلمانانو ته را و تښتېدل او دوی دواړو له وړاندې نه اسلام راوړی وو او اوس د مشرکینو په صفونو کې صرف ددې لپاره راوتلي وو چې د مسلمانانو صفونو ته ځان ورسوي .

د بدر په جنګ کې چې کله دری کسان جنګي ماهرین میدان ته را ووتل عتبة بن ربیعة او ورور یې شیبة بن ربیعة او زوی یې ولید نو یې وغوښتل چې ددوی مقابلې ته دې دری کسان ورشي نو د رسول الله ﷺ د حکم مطابق دوی ته حضرت حمزة بن

عبد المطلب ❽ ، علي بن ابي طالب ❽ او عبيدة بن الحارث ❽ ور ووتل د يو قول له مخې حضرت حمزة ❽ د شيبة سره مقابله وکوله او ډېر زر يې کار ورختم کړو او شيبة يې ووژلو حضرت علي ❽ د وليد سره په جنګ شو لږ شيبة وروسته يې مړ کړو او حضرت عبيده بن الحارث ❽ د عتبة سره په جنګ شو هغه هم ووژل شو او حضرت عبيدة ❽ زخمي شو په يو قول کې حضرت حمزة ❽ د عتبة سره او عبيدة ❽ د شيبة سره جنګ وکولو .

حضرت عبيدة ❽ په زخمي حالت کې د مجاهدينو مرکز ته نقل کړل شو او په بدر کې تر ټولو مشر مجاهد وو چې پدې وخت کې يې عمر ٦٣ کاله وو همدا حضرت عبيدة رضی الله تعالی عنه وو چې کله د مسلمانانو مرکز ته نقل کړل شو رسول الله ☸ يې له مخ مبارک نه ګرد پاکولو او د غزوة بدر د ختمېدلو نه يوه شپه وروسته مدينې ته په لاره کې په شهادت ورسېدو او په صفراء نومي ځای کې دفن کړل شو رسول الله ☸ يې پخپله قبر ته ور ښکته شوی وو او دده لپاره يې د ښه والي ګواهي ورکړه .

وايي چې يو وخت رسول الله ☸ د څه صحابه وو سره نازية نومي ځای ته لاړو نو صحابه وو ﷾ وويل

چې مونږ ته د مشکو بوی راځي رسول الله ﷺ ورته وویل : دلته د ابي معاویه یعني عبیدة ❽ قبر دی .

نوفل بن الحارث ❽ (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

نوفل بن الحارث بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بني قصي
مور يې غزية بنت قيس بن طريف بن عبد العزى بن عامرة بن عميرة بن وديعة بن ا لحارث بن فهر .

د نوفل بن الحارث هم يو زوی وو حارث نوميدو ددې امله به ده ته ابوالحارث ويل کېدل دی له خپل تره عباس نه مشر وو په بدر کې يې د کفارو له لوري شرکت کړی وو او ژوندی نيول شوی وو بيا يې عباس فديه ا داء کړه او را خلاص يې کړو او د يو روايت له مخې رسول الله ﷺ ده ته وويل :
ای نوفله اوس د خپل ځان فديه ورکړه .
ده وويل: زه څه نه لرم څه شی ورکړم؟
ده په جده کې په يو ځای کې پداسې پټ ځای کې ۱۰۰ نيزې ايښودې وې چې دده څخه بغير هېڅوک ورباندې نه وو خبر رسول الله ﷺ د معجزې په ډول ورته وويل هغه په جده کې دې چې پټې نيزې ايښې دې هغه د خپل ځان په فديه کې ورکړه .
ده بيا هغه ټولې د خپل ځان فديه کړې بيا تر هغه وروسته په اسلام مشرف شو او د خندق په کال يې هجرت وکولو په بيعة الرضوان کې شريک وو د

حنین جنګ ته چې کله رسول الله ﷺ تیاری کولو ده ورسره په لویه پیمانه مرسته کړې وه او درې زره نیزې یې ورکړې وې او کله چې په حنین کې د جنګ په شروع کې مسلمانان د یو څه ماتې سره مخامخ شول په میدان کې د جنګ لپاره رسول الله ﷺ او یو څه کسان محدود لس کسان د یو روایت له مخې دولس کسان ورسره پاتې شول نو دی مبارک هم په هغه کسانو کې وو چې د رسول الله ﷺ په بنی خوا کې یې مقاومت کړی وو او دی د رسول الله ﷺ سره ډیر نیږدې وو خپل ځان یې په خطر کې ورکړی وو لکن د رسول الله ﷺ څخه یې دفاع کوله .

دی د بني هاشم په کورنی کې تر ټولو مشر مسلمان وو له خپلو ترونو حضرت عباس او حضرت حمزه رضی الله تعالی عنهما څخه هم مشر وو او له خپلو ورونو څخه هم مشر وو .

د رسول الله ﷺ په وخت کې یې یو ماشوم پیدا شوی وو عبد الله بن نوفل د رسول الله ﷺ سره ډیر زیات مشابه وو په شکل کې هغه ﷺ ته پاتې کېدو په اسلام کې هغه اول کس وو چې قاضي مقرر شوی وو د حضرت معاویة رضي الله عنه د خلافت په دوران کې په مدینه منوره کې قاضي شو حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي : دا ما په اسلام کې اول قاضي ولیدو د نوفل بل ماشوم عبد الرحمن بن نوفل وو بل یې ربیعة

بن نوفل وو بل يې سعيد بن نوفل وو چې ښه فقيه عالم ترې جوړ شو .

د حضرت عمر ❽ د خلافت په دوران کې وفات شو حضرت عمر ❽ وربانديې مونځ وکولو او بيا بقيع ته يې له جنازې سره لاړو او هلته يې دفن کړو .

ربيعة بن الحارث ❽ (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

ربيعة بن الحارث بن عبد المطلب بن هاشم کنية يې ابو اروی وو

مور يې غزية بنت قيس بن طريف وه .


اولادونه يې محمد، عبد الله ، حارث، عباس، امية، عبد الشمس، عبد المطلب، اروی کبری، هند، اروی او آدم دا آدم په هذيل قبيله کې وو ماشوم وو هلته يې د شودو د خوراک موده تېروله هلته جنګ وو دا ماشوم چې د کورپه دروازه کې په داسې حالت کې ګرځېدو چې نوی په قدمونو باندې راغلی وو په جنګ کې په تېره باندې ولګېدو او ووژل شو .

ربيعة ❽ د بدر د جنګ په وخت کې شام ته مسافر وو ددې امله دی له هغه مصيبت څخه په امن پاتې شوی وو .

او کله چې حضرت نوفل او حضرت عباس رضی الله تعالی عنهما د خندق په کال باندې مدینې منورې ته هجرت کولو نو دی هم ددوی سره د ملګرتیا کولو لپاره تر ابواء مقام پورې لاړو او دوی یې رخصت کول غوښتل هلته یې غوښتل چې د دوی سره خدای په امانې وکوي او بېرته مکې ته ستون شي هلته دوی ورته وویل :

ته اوس څه کوې بېرته مکې ته ځې هغه خو د شرک ځای دی هلته داسې خلک دي چې د رسول الله ﷺ سره جنګ کوي رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو ته الله ① عزت ورکړی دی راځه زمونږ سره لاړ شه بېرته مکې ته مه ځه .

دې خبرې دده په زړه کې هم ځای پیدا کړو او درې واړه راغلل رسول الله ﷺ ته یې ځان را ورسولو او دلته دی هم په اسلام مشرف شوو د رسول الله ﷺ سره د حنین ، او فتح مکې په واقعه کې شریک وو په مدینه منوره کې یې کور جوړ کړو او په هغه کې یې ژوند کولو د حضرت عمر ❽ د خلافت په وخت :



طفيل بن الحارث ❽ (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

حضرف طفيل بن الحارث بن عبد المطلب مور يې سُخيلة بنت خزاعي بن الحويرث السقفية وه دا مبارک هم جليل القدر صحابي وو د خپل ورور عبيدة بن الحارث سره په يو ځای په هجرت مشرف شوی وو په بدر او أُحد او د رسول الله ﷺ سره په هر محاذ کې شريک وو کله چې رسول الله ﷺ په مدينه منوره کې د مهاجرو او انصارو مسلمانانو په مينځ کې ورورګلوي جوړوله دده ورورګلوي يې د حضرت المنذر بن محمد بن عقبة بن أُحيحة ابن الجلاح سره جوړه کړې وه د يو روايت له مخې يې دده وروري د نسر بن عمرو بن الحارث بن کعب بن زيد بن الحارث الانصاري سره جوړه کړې وه .
د هجرت په ۳۱ کال د يو قول له مخې په ۳۲ او يا ۳۳ کال کې وفات شو .



حُصين بن الحارث ۞ (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

دی هم د حضرت طفيل رضي الله عنه سره په مور کې شريک وو او دا دری واړه سکه ورونه وو او ټول په يو ځای په هجرت مشرف شوي وو په بدر کې ټول شريکان وو لکه مخکې چې تېر شول حضرت عبيدة ۞ يې په بدر کې د زخم له امله په شهادت ورسېدو ده او طفيل ورور ته يې الله ① اوږد عمر ورکړو په ټولو محاذونو کې د رسول الله ﷺ سره اوږه په اوږه شريکان وو د حصين بن الحارث ۞ يو زوی وو عبد الله نومېدو شاعر وو حضرت حصين د خپل ورور طفيل نه يو څو مياشتې په يو روايت کې پنځه مياشتې وروسته وفات شو .

ابوطالب بن عبد المطلب (د رسول الله ﷺ تره)

نسب يې :

د پلار له لوري: عبد مناف بن عبد المطلب بن هاشم بن قصي بن کلاب بن مرة بن کعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن کنانة بن

خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

مور يې : فاطمة بنت عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم بن يقظة بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

دا د رسول الله ﷺ د والد عبد الله سکه ورور وو او کله چې عبد المطلب رحلت وکولو نو خلف او جانشين يې دی پاتې شو لکن دده لاس تنګ وو او اقتصادي حالت يې ښه نه وو نو ځکه يې د حرم خدمت او کارونه حضرت عباس ؓ ته ور پريښي وو خو بيا هم ټولو قريشو او د مکې خلکو ده ته د احترام په نظر کتل او دده يې قدر کولو او خپل مشر يې ګڼلو .

کله چې عبد المطلب وفات کېدو نو ده ته يې د رسول الله ﷺ په اړه نصيحت وکولو چې دده به ښه ساتنه کوي دا هغه ماشوم دی چې ډېر وخت يې زمکې انتظار کړی دی او په خاصه توګه يې ورته تينګار کړی وو چې له يهودو به يې ساتې هغوی يې دښمنان دي .

کله چې رسول الله ﷺ د مبين او پاک دين لاري ته دعوت شروع کړو قريشو په ابوطالب باندې ډېر کوښښ وکړو چې دده څخه يې ګوښه کړي لکن ده هر کوښښ ناکام کړو او د رسول الله ﷺ پالنه يې لکه

د خپل اولاد داسې کوله یو ځل چې قریش کله ده ته راغلل او عمارة بن ولید یې ده ته راوستلو ورته ویل یې دا شکلی ځوان دی دا ته له ځان سره حصار کړه او ته خپله مینه له ده سره کوه او دا ستا وراره چې ستا له خدایانو څخه منکر دی او ستا د نیکونو د خدایانو بدي وایي دا مونږ ته حواله کړه مونږ به یې مړ کړو .

ده ورته وویل : تاسې ماته په ډېر بد شي باندې امر کوئ آیا زه ستاسې ځوان واخلم او تاسې ته د هغه پالنه وکوم او زه تاسې ته خپل بچی درکړم چې تاسې یې قتل کړئ؟

مطعم بن عدي ورته وویل : ستا قوم تاته ډېره ښه او د انصاف خبره کوي ورسره ویې منه او ددېنه بغیر بله لاره نشته .

ده ورته وویل زما قوم پدې خبره کې لما سره هېڅ انصاف نه دی کړئ زه دا خبره نشم منلی ستاسې چې څه خوښه وي هغه وکوئ .

یو ځل چې د مکې مشران ابو طالب ته را ټول شول ورته ویل یې : ابوطالبه مونږ ستا قدر کوو او تا د خپل مشر په صفت منو لکن ستا د ا وراره زمونږ د خدایانو په اړه بدې خبرې نه پرېږدي یا خو دی مونږ ته حواله کړه او یا جنګ ته تیار شه مونږ ټول په شریکه ستا سره جنګ کولو ته تیار یو مونږ ستا وراره ته نور صبر نشو کولی چې هغه زمونږ دخدایانو په اړه بدې خبرې

وکوي مونږ به دهغه سره تر هغه وخته پوري جنګ کوو چې هغه ددې نه منع شي .

ده رسول الله ﷺ را وغوښتو ورته ئې ویل : تا ولیدل چې ستا د قوم خلک راغلي وو او داسې داسې خبرې یې کولې خیر دی په خپل ځان و ډار شه زما په حالت وډار شه په ما هم داسې څه ما را بار کوه چې زه یې تحمل نشم کولی داسې بوج مه را باندې ږده چې زه یې نشم پورته کولی خیر دی ته داسې خبرې مه کوه چې په دوی ښې نه لګیږي له ټولو قریشو سره زمونږ وس نه رسیږي .

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : والله که دوی لمر زما په یو او سپوږمی زما په بل لاس کې هم کېږدي زه دا خپل دعوت تر هغه وخته پوري نه پرېږدم چې ترڅو الله ① دا خپل دین په زمکه باندې غالب نه کړي .

ابو طالب ورته یو څو شعرونه وویل چې مطلب یې وو ته چې څه کول غواړې هغه وکوه ترڅو چې زه ژوندی وم دوی تاته څه نشي ویلی او ته خپل کار په هغه ډول سره کوه په کوم ډول چې ستا د خوشحالي لامل ګرځي .

په داسې وخت کې چې د رسول الله ﷺ ژوند دمکې د کفارو له لاسه تنګ شوی وو په ابو طالب باندې یې په غمونو کې ښه تکیه کوله په همداسې وخت کې ابو طالب ته د اجل داعي راغلو او رسول الله ﷺ په دې سخت وخت کې ددې ښې تکیې نه محروم شو

او پدي کال باندې د رسول الله ﷺ د ژوند بل بهترين ملګرى حضرت خديجة رضى الله تعالى عنها هم وفات شوه د مؤرخينو اختلاف دى چې په دوى دواړو کې اول کوم يوه رحلت کړى دى لکن دوى چې په يوه کال کې وو او دا کال نور هم په رسول الله ﷺ باندې سخت وو نو دېته عام الحزن (دخګفان کال) ويل کيږي او د نبوت لسم کال وو .

په هر صورت که اول هرڅوک وفات وي په نيږدې وخت کې دواړو له رسول الله ﷺ څخه رحلت وکولو او په رسول الله ﷺ باندې يې د غم تاثير شريک وو .

په داسې حالت کې چې ابوطالب به په هر مشکل کې له رسول الله ﷺ نه حمايت کولو نو ډيرو خلکو به فکر کاوه چې که ابوطالب نه واى نو رسول الله ﷺ به اوس وختي وژل شوى وو او ددين دا دعوت به وختي دريدلى وو نو الله ﷺ ابوطالب تري واخيستو چې خلکو ته ښکاره کړي چې د رسو ل الله ﷺ او دهغه ددعوت او دين حمايت الله ① پخپله کوي ..

کله چې ابوطالب د مرګ په بستر پروت وو رسول الله ﷺ ور ننوت ابو جهل ورسره ناست وو رسول الله ﷺ پدې جذبه وو چې کله د عملونو د حساب او کتاب وخت راشي نو زما د تره که څومره نيک عملونه وي نو ده ته د ايمان نه بغير فايده نه کوي شوق يې وو چې هغه د ايمان او اسلام کلمه

ووايي اود شرک په حالت کې مړ نه شي او تره يې اوس په داسې حالت کې وو چې په داسې سفر روان وو چې بېرته را ګرځېدل ورڅخه نشته ددېنه وروسته به يا هغه ابدي جنت او يا ابدي دوزخ ته ځي او رسول الله ﷺ نه خوښوله چې داسې کس چې زما په بدل کې او زما د دعوت په بدل کې هر ډول قرباني ورکولو ته تيار دی دا دې هم دوزخ ته لاړ شي نو ور وړاندې شو هغه يې اسلا م لوري ته او داسلام او ايمان مبارکې کلمې ويلو ته يې را بللو لکن د زمانې فرعون ابو جهل دده سره ددې لپاره نه وو ناست چې دده د صحت په اړه پوښتنه وکوي بلکه ددې لپاره چې هغه يقيني کړي چې مشرک يې له دنيا نه رخصت کړي ځکه ابو جهل فکر کاوه که ابو طالب پدې آخر وخت کې په ايمان مشرف شو نو په بني هاشم کې به ډېر خلک ددې امله چې ابو طالب خپل مشر ګڼي په ايمان مشرف شي ددې امله هغه کوښښ کاوه چې ابو طالب ته په آخر وخت کې ددې وخت ورنه کړي چې هغه د خپل مهربان وراره محمد ﷺ خبره ومني .

رسول الله ﷺ د صحيح بخاري د حديث مطابق خپل تره ته ويل : ای تره خير دی ته صرف لا اله الا الله ووايه په قيامت کې به زما لپاره دومره دليل جوړ وي چې تا کلمه ويلې ده .

ابو جهل او عبد الله بن ابی انساني شيطانان چې په خوا کې ورته ناست وو ابو طالب ته وويل :

ابو طالبه ته د عبد المطلب او خپلو پلرونو له د ين څخه آوړې؟

ابو طالب چې له يوې خوا وربانـدې د مرګ سختي شروع شوي دي له بله پلوه د دوو دعوت کونکو په مينځ کې حيران ولاړ دی څه وکوي د خپل سيد الخلق وراره ﷺ خبره ومني او که ددې امت د فرعون لعنة الله عليه د ګمراهي لوري ته غوښتنه ومني ....

ابو جهل او عبد الله بن ابی د رسول الله ﷺ تره ابوطالب آخر دېته اړ ايستو چې دده له خولې نه يې آخري خبره دا را وويسته چې ويل يې : د عبد المطلب په ملت ... د دوی مطلب ترې دا وو چې د بتانو د عبادت او اعتقاد په حالت کې ...... د بعثت په لسم کال د رمضان په اوم تاريخ يې رحلت وکولو .

بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : زه به تر هغه وخته پورې دده لپاره ښنه غواړم ترڅو چې زه ترې نه يم منع شوی بيا آيت نازل شو .

سورة توبة آية ١١٣

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ

ترجمه : نبي او مومنانو ته نه ښايي چې هغوی د هغه کسانو لپاره بښنه وغواړي چې هغوی مشرکان دي اګر که د دوی خپلوان هم وي وروسته ددې چې

دوی ته ښکاره شوه چې هغوی د جهنم له اهل نه دي .

په صحیح البخاري کې د حضرت عباس ؓ نه روایت دی چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې ستا تره به لتا څخه د هر مشکل په لري کولو کې مرسته کوله او ستا لپاره به یې د خلکو سره غصې کولې تا ورسره هېڅ مرسته ونه کوله؟

رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه د جهنم په یوه څنډه کې دی د اور په مینځ کې نه دی (ددې امله چې لما سره یې ډېرې نیکی کړې دي) نو د هغه صرف پښو ته اور رسیږي نور بدن یې له اور نه ساتل شوی دی لکن هغه اور چې دده پښو ته ور رسیږي دهغه اور له حرارت نه دده د سر ماغزه جوش خوري او که چېرته زه نه وای نو هغه به د اور په مینځ کې وو .

او دا د عذاب سپکېدل هم دده لپاره ددې امله نه دي چې دی د رسول الله ﷺ تره وو ځکه تره خو یې ابو لهب هم وو بلکه دا عذاب دده لپاره دده د عملونو له امله سپک شوی دی .

کله چې ابو طالب مړ شو نو په مکه کې لوی بدلون راغلو رسول الله ﷺ فرمایي : ترڅو چې ابو طالب ژوندی وو ما د قریشو نه داسې تکلیف نه وو لیدلی کوم چې دده د مرګ نه وروسته ما ولیدو .

سره ددې چې د ابو طالب په ژوند کې هم رسول الله ﷺ ته د مکې د کفارو له لوري نه تکليف رسېدو لکن کله چې ابو طالب مړ شو چې د هغه د مرګ نه وروسته رسول الله ﷺ د مکې له کفارو کوم تکليفونه و ليدل پخواني ددې په بدل کې دنشت برابر وو .

د مثال په توګه کله چې رسو ل الله ﷺ يوه ورځ په مکه مکرمه کې له کور نه راوتلی وو د قريشو يو کم عقل ورته مخې ته شو اود رسول الله ﷺ په سر مبارک يې خاورې ور وغورځولې او دی ﷺ مبارک چې په همدې حالت کې کور ته ننوت يوه لور مبارکه رضی الله تعالی عنها يې ورته راغله هغه خاورې يې دده ﷺ د سر مبارک نه پاکولې او ژړل يې رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : بچی مه ژاړه الله ستا د پلار حمايت کوي . ①

بلکه له دې نه سخت د صحيح البخاري په يو حديث کې دي چې رسول ا لله ﷺ يو وخت د بيت الله په خوا کې مونځ کولو ابو جهل او ملګري يې ناست وو پرون اوښان حلال کړل شوي وو دهغو د لريو ګندګي هلته پرته وه ابو جهل وويل څوک به پاخيږي او هغه ګندګي به واخلي کله چې رسول الله ﷺ سجدې ته شکته شي دهغه د اوږو په مينځ کې ور کېږدي يو کم عقل د يو روايت له مخې عقبه بن ابي معيط

را پاڅېدو هغه ګندګي يې را واخيسته کله چې رسول الله ﷺ سجدې ته ښکته شو هغه يې په اوږو مبارکو ور کېښوده حضرت عبدالله بن مسعود ❽ فرمايي دوى خندل او يو په بل باندې ور ړنګېدل پدې وخت کې چې عبدالله بن مسعود داسې کس وو چې په مکه مکرمه کې يې هېڅوک هم نه درلودل نو ده ته د رسول الله ﷺ له لوري نه امر شوى وو چې ته به خپل ايمان او لما سره تعلق پټ ساتې دى ❽ په ډېر افسوس سره فرمايي که هغه وخت په مکه کې زما څوک وى نو ما به اوس د رسول الله ﷺ مرسته کړې وه او له هغه ﷺ نه به مې هغه ګندګي لرې کړې وه .

رسول الله ﷺ په هماغه حالت کې په سجده پروت وو تردې چې څوک راغلل حضرت فاطمې رضى الله تعالى عنها ته يې وويل هغه مبارکه راغله په ډېره زړورتيا کې يې ګندګي له خپل والد محترم ﷺ نه لرې کړه او دوى ته يې ښکنځلې وکولې ..

کله چې رسول الله ﷺ مونځ ختم کړو کله به چې رسول الله ﷺ دعا کوله نو درى ځله به يې کوله او اوس يې دعا شروع کړه ويل يې : اى الله ته د قريشو سره پوه شه چې دا دعا يې درى ځله ووېله د قريشو ټولو خندا و دربېدله ځکه دوى د رسول الله ﷺ له ښېرا څخه ډارېدل بيا يې وويل :

ای الله ته د ابي جهل بن هشام ، عتبه بن ربیعة، ولید بن عتبة ، امیة بن خلف او عقبة بن معیط سره پوه شه حضرت عبدالله بن مسعود 8 فرمایي اوم یې هم څوک یاد کړو لکن زما په یاد پاتې نه شو په یوه روایت کې هغه عمارة بن ولید وو ... زما د قسم په خدا ی وي چې ما ولیدل د بدر په ورځ دا ټول یاد کړل شوي کسان مردار په میدان کې پراته وو او هغه کندې ته ور کش کول کېدل چې د بدر مړي پکې اچول کېدل.

د ابو طالب اولاد

څلور زامن یې وو .

طالب

حضرت عقیل 8

حضرت جعفر 8

حضرت علي 8

د دوی په مینځ کې د هردوو په مینځ کې د لسو کلونو فاصله وه یعني طالب له عقیل نه لس او عقیل له جعفر نه لس او جعفر له علي 8 نه لس کاله مشران وو.

لوراني یې وې :

ام هاني فاخته

جمانة

د دې ټولو اولادونو مور یې فاطمة بنت اسد بن هاشم وه او د هاشم په اولاد کې دا اوله ښځه وه چې د اسلام په شروع کې په اسلام مشرفه شوې وه

رسول الله ﷺ به دېته هم د مور او واز کولو ځکه د رسول الله ﷺ پالنه یې کړې وه کله چې وفات شوه رسول الله ﷺ وربانډې مونځ وکولو او قبر ته یې هم ور ښکته شوی وو .

طالب بن ابي طالب (د رسول الله ﷺ د تره زوى)

د ابي طالب مشر زوى وو تر هجرت ٤٧ كاله وړاندې پيدا شوى د شيعه ګانو دده او دده د پلار ابي طالب په اړه دا نظر دى چې دوى دواړه مسلمانان شوي دي لكن اسلام يې اعلان نه كړلو د قريشو نه ډاريدل او هغوى دليل نيسي دده په ځينو شعرونو باندې چې ده د رسول الله ﷺ په مدح كې ويلي دي لكن اسد الغابة في تعريف الصحابة د جمهورو په نيز مشهور كتاب دى چې په هغه كې يې ټول صحابه ﵃ ياد كړي دي دده نوم پكې نه دى راوړل شوى او همدارنګه الاستيعاب في معرفة الاصحاب كې هم د صحابه وو ذكر شوى دى لكن دده نوم پكې نشته نو ددېنه ښكاره كيږي چې د دوى په نظر ده ته د اسلام شرف نه وو حاصل شوى .

او د جمهورو اهل السنة و الجماعة په نورو كتابونو كې هم دده ډېره يادونه او ذكر نشته .
د بدر په غزوه كې يې شركت نه وو كړى په اول كې د قريشو سره جنګ ته روان شو لكن د خبرو نه يې معلوميده چې دده زړه غواړي چې كاش رسو الله ﷺ په قريشو باندې غالب شي او قريشو ورته وويل : مونږ پدې پوهيږو چې ستا زړه د محمد ﷺ

سره دی او کله چې د قریشو لښکر ته احوال راغلو چې قافله په امن سره د محمد ﷺ له کسانو څخه را تېره شوه نو څه قریش بېرته مکې ته را وګرځېدل او هغوی وویل محمد زمونږ د قبیلې کس دی تر اوسه پورې مونږ ورسره جنګ کولو غوښتل د هغه له لاسه مو د خپلې قافلې د خلاصون لپاره جنګ کول اوس دهغه ضرورت پاتې نشو نو پدې ډله کې دی هم بېرته مکې ته راوګرځېدو .

ده د هجرت په دوهم کال رحلت وکولو څوک ورڅخه پاتې نه دي .



عقيل بن ابي طالب 8 (د رسول الله ﷺ د تره زوى)

نسب يې:

د پلار له لوري : عقيل بن أبي طالب بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

مور يې : فاطمة بنت أسد بن هاشم بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان وه .

د ابي طالب دوهم زوى وو او له اول زوى نه لس كاله كشر وو په نسبونو كې دده شوق وو او ښه علم ورسره وو چا ته به چې په قومونو او نسبونو كې اشكال وو دده څخه به يې پوښتنه كوله او له ده سره به يې ځواب پيدا كولو .

دى هم له هغه كسانو څخه وو چې قريشو د بدر جنګ ته په زور بيولي وو او دى هم بيا اسير شوى وو او دده په ځاى فديه حضرت عباس 8 وركړې وه او را خلاص كړى يې وو .

د صلح حديبيې تر كال پورې په اسلام نه وو مشرف شوى د حديبيې په كال په اسلام مشرف شو

او ښه اسلام یې راوړو پدې وخت کې یې عمر ٥٢ کاله وو .

رسول الله ﷺ ده ته ویلي وو ای عقیله زه لتا سره په دوو محبتونو سره محبت کوم یو محبت درسره ددې امله کوم چې خپل مې یې (د تره زوی مې یې) او بل محبت ددې امله درسره کوم چې ماته یاد دي چې ته زما تره ته ډیر ګران وې .

د حضرت علي رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایل : هر نبي ته اوه خاص کسان ورکړل شوي وو او ماته څوارلس راکړل شوي دي په هغه کسانو کې یې دی هم یاد کړو .

دده په اړه حضرت حسین رضي الله عنه فرمایي عقیل د هغه محدودو کسانو څخه وو چې په حنین کې د رسول الله ﷺ په خوا کې پاتې شوي وو دی رضي الله عنه زیاتوي چې د حنین په ورځ د رسول الله ﷺ سره کوم پاتې کسان وو هغه حضرت عباس، علي، ابو سفیان بن الحارث، عقیل بن ابي طالب، عبد الله بن زبیر بن عبد المطلب ، زبیر بن العوام او اسامه بن زید وو لکه ددې سلسلې په پنځم کتاب کې چې تیر شول کله چې مسلمانان د حنین جنګ ته ور روان وو کفارو ورته په مخه کې کمین نیولی وو او کفار په شمیره کې د مسلمانانو څخه ډیر زیات هم وو هغوی ۳۰۰۰۰ دیرش زره کسان وو او مسلمانان ۱۲۰۰۰ دولس زره کسان وو کفارو په

يو دم په مسلمانانو له هر لوري نه د غيشو او تورو شروع وکوله پداسي حال کې چې مسلمانان لا جنګ ته تيار نه وو نو تولو مسلمانانو شاته قدم کېښودو او يو ډول ماتې يې وخوړه صرف رسول الله ﷺ وو چې په ميدان کې پاتې شو او پورتني کسان ورسره پاتې شول تردي چې رسول الله ﷺ حضرت عباس ؓ ته وويل په هغه کسانو پسې آواز وکوه چې تر ونه لاندې ئې (په حديبية کې) لما سره په نه تښتېدو باندې بيعت کړی وو حضرت عباس ؓ په تېز آواز خلکو ته چيغې کړې ای د بيعت رضوان کسانو ای هغه کسانو چې تاسې د رسول الله ﷺ سره په نه تښتېدو باندې بيعت کړی دی کله چې دا آواز خلکو واورېدو نو تولو د رسول الله ﷺ لور ته ور منډه کړه نو د رسول الله ﷺ په خوا کې دا محدود کسان په ۷۰ کسانو بدل شول او کله چې اويا کسانو د رسول الله ﷺ نه دفاع شروع کړه د جنګ لحظې مخ په سختېدو او ګرمېدو شوې چې بيا تولو صحابه وو جنګ لور ته مخه کړه نو لږ وخت نه وو تېر شوی چې کفارو ماتې وخوړه او په منډه سر وو په هغه کسانو کې چې منډې يې وهلې ځينې يې وروسته مسلمانان شول هغوی به قصه کوله کله چې مونږ له مسلمانانو څخه منډې وهلې مونږ ته به هر کاڼی او هره ونه داسې ښکاره کېده لکه دا چې مونږ را نيسي بالآخره کفار و

تشتېدل او د عربو په تاريخ کې تر ټولو نه زيات غنيمت پدې غزا کې مسلمانانو ته په لاس ورغلی وو (د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه پنځمه برخه)

د عقيل بن ابي طالب تقوی د يادونې وړ ده هغه وخت چې له يوې غزا نه را ستانه شول نو کور ته ننوت پداسې حالت کې چې توره يې لا پاکه کړې نه وه په وينو لړل شوې وه يوه ستن ورسره وه دا ستن د غنيمت وه هغه يې خپلې بي بي ته ورکړه ورته يې وويل په دې باندې جامې گنډې چې په دې کې آواز وشو د رسول الله ﷺ قاصد آواز کول ويل يې : له چا سره چې د غنيمت کوم شی پاتې وي هغه د غنيمت ته را ورسوي چې رسول الله ﷺ د غنيمت تقسيم کول غواړي ... ده زر هغه ستنه له خپلې مېرمن څخه واخيسته او په غنيمت کې يې ور واچوله .

د ښه بدن خاوند وو ډېر مشر وو بيا به يې هم ډېر دروند کار کولو او الله ① ورته اوږد عمر ورکړی وو تر ټولو ورونو څخه وروسته وفات شو .

حضرت عبد الله بن جابر ❽ روايت کوي چې عقيل بن ابي طالب په غزوة موتة کې د يو کس سره په مقابله کې شو هغه يې ووژلو رسول الله ﷺ د هغه سلاح او د هغه په لاس يوه قيمتي گوتمه ده ته د انعام په ډول ورکړل .

حضرت عقيل بن ابي طالب يې يو ورځ ورور علي ابن ابي طالب ته دده د امارت په وخت کې راغلو ورته ويل يې زه محتاج يم څه راکړه هغه ورته وويل صبر وکوه که له کومې خوا نه څه مال راغلو چې نورو مسلمانانو ته مې ورکول نو تاته به يې هم درکړم .

لکن دی زيات مجبور وو نو حضرت علي ❽ ته ټينګ شو چې اوس خامخا څه راکړه .

حضرت علي ❽ يو کس ته وويل : دا له ځان سره بوزه په بازار کې د دکانونو قلفونه مات کړئ څه مو چې په دکانونو کې پيدا کول را ټول يې کړه او ده ته يې ورکړه چې دی مجبور دی .

حضرت عقيل ❽ ورته وويل : اوس ته په ما باندې غلا کول غواړې؟

حضرت علي ❽ ورته وويل : اوس ته په ما باندې غلا کول غواړې په داسې حالت کې چې زه نورو مسلمانانو ته څه نه ورکوم صرف تاته يې درکړم؟

حضرت عقيل حديثونه هم روايت کړي دي او دده لمسی عبد الله بن محمد بن عقيل لوی محدث دی هغه هم دده څخه روايتونه کړي دي حسن بصري ، عطاء بن ابي رباح رحمه الله تعالی عليهم هم ورڅخه روايتونه کړي دي .

د حضرت عقيل ❽ نه حضرت حسن بصري رحمه الله يو حديث نقل کړی دی چې يو ځل رسول الله ☸ واده

کړی وو چا ورته وویل : بالرفاء والبنين (د جاهليت د وخت مبارکي وه) رسول الله ﷺ ورته وویل : داسي مه وایاست بلکه داسي وواياست : على الخير و البركة بارک الله لک و بارک عليک

د حضرت عقیل رضي الله عنه نه دا حدیث هم روایت شوی دی چي رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وویل : ته زما لپاره داسي یي لکه هارون عليه السلام چي د موسی عليه السلام لپاره وو لکن صرف دومره فرق یي دی چي هارون عليه السلام نبي وو او لما نه وروسته بل نبي نه راځي .

حضرت عقیل رضي الله عنه د هجرت په ٤٩ کال کي د حضرت معاوية رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات شو او په بقيع کي خاورو ته وسپارل شو .

اولاد یي :

د حضرت عقیل رضي الله عنه په بقيع کي فراخ کور وو رحمه الله ورته زیات اولاد ورکړی وو اولادونه یي په لاندي ډول وو .

یزید بن عقیل او د همدي امله ده ته ابو یزید هم ویل کېدل د یزید مور بنت عمرو بن یزید بن مدلج العامرية الهوازنية .

سعید بن عقیل دا هم له اول سره په مور کي شریک وو .

القاسم .

زین العابدین .

جعفر الأکبر .

الفضل ده ته ابي سعيد هم ويل کېدل دده يو زوی محمد د امام حسين سره په کربلا کې په کال 61هـ کې په شهادت ورسېدو.

عبد الله بن عقيل دا هم په کربلا کې شهيد شو په کال 61هـ.

عبد الرحمن بن عقيل دا هم په کربلا کې شهيد شو په کال 61هـ.

عبد الله الأصغر.

علي الشهيد دا په بهنسا کې شهيد شو مور يې وينزه وه اولاد يې ندی پاتې شوی .

جعفر الأصغر.

حمزة .

عثمان.

محمد .

رملة ددې مور هم وينزه وه .

أم هانئ.

أسماء .

فاطمة .

أم القاسم .

زينب.

أم النعمان.

مسلم بن عقيل د حضرت علي 8 د لور رقية بنت علي بن أبي طالب سره يې واده شوی وو دا هغه کس وو چې حضرت حسين 8 تر خپل ځان وړاندې کوفې ته په خپل نيابت باندې لېږلی وو چې دده

لپاره د خلکو نه بیعت واخلي هلته د هانئ بن عروة په کور کې وو چې عبيد الله بن زياد دی او ورسره کوربه هانئ بن عروة المرادي دواړه ونیول او شهیدان یې کړل .
په دومره اولاد کې بیا د حضرت عقیل بن ابي طالب نسل صرف د محمد بن عقیل له لارې نه پاتې شو او چې څومره عقیلیان دي د همدې لارې نه دي .

جعفر بن ابي طالب ❽ (د رسول الله ☸ د تره زوی)

حضرت جعفر بن ابي طالب د رسول الله ☸ د تره ابي طالب دريم زوی وو او د حضرت علي ❽ نه لس کاله مشر وو ده ته جعفر الطيار هم ويل کيږي .
نسب يې :
جعفر بن أبي طالب بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.
په هغه وخت کې د خپلې بي بي اسماء بنت عميس سره يو ځای په اسلام مشرف شوی وو چې په هغه وخت کې رسول الله ☸ لا دار الارقم ته نه وو تللی

کله چې په مکه مکرمه کې په مسلمانانو باندې د کفارو ظلمونه زیات شول نو رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته اجازه ورکړه چې که څوک غواړي نو حبشې ته د هجرت وکوي پدې کسانو کې حضرت جعفر ❽ هم وو چې هجرت یې وکولو او دا هغه کس وو چې اول یې د حبشې د سردار نجاشي سره پدې اړه خبرې وکولې چې د مکې نه د راغلیو مهاجرینو باید استقبال وکړي او هغوی ته اجازه ورکړي چې دده په ملک کې په امن سره ژوند وکوي.

کله چې حضرت جعفر ❽ او څه نور غریب مسلمانان حبشې ته لاړل قریشو د خپل لوري نه د حبشې بادشاه ته درندې او معظمې تحفې برابرې کړې او دوه کسان عمرو بن العاص او عبد الله بن ابي ربیعة چې تردې دمه لا په اسلام نه وو مشرف شوي ور ولیږل او هغه تحفې یې ورته ورکړې او بیا یې تربنه وغوښتل چې حضرت جعفر ❽ او څه نور کسان مسلمانان چې دلته راغلي دي هغه مونږ ته په لاس راکړه مونږ به یې بېرته له خپل ځان سره بوزو هغوی د خپلو نیکونو دین پریښی دی او مونږ غواړو چې دوی بېرته مونږ خپل دین ته را وګرځوو.

دقریشو استازي دا دوه کسان د نجاشي په مخکې و دریدل او ویې ویل:

ای بادشاه! بېشکه زمونږ د ځای نه دلته څه کم عقل هلکان په داسې حالت کې راغلي دي چې د

خپلو پلرونو دين يې پرېښى دى او ستا ملک ته راغلي ستا په مسيحيت کې هم نه دي داخل شوي بلکه د يو بل دين خبرې او متابعت کوي چې دوى له خپله ځانه جوړ کړى دى نه يې ته پېژنې او نه يې مونږ پېژنو او مونږ د دوى د مشرانو او پلرونو او ترونو په نمايندګي باندې راغلي يو چې دوى له ځان سره بېرته بوزو .. کله چې دوى خپلې خبرې ختمې کړې نو نجاشي د مسلمانانو لوري ته ور وکتل پوښتنه يې وکوله :

دا کوم دين دى چې تاسې ورته د خپلو پلرونو دين هم پرېښودو او دهغه دين سره دلته اوسېدل غواړئ او زمونږ په دين کې هم داخل نه شوئ؟

پدې وخت کې حضرت جعفر ❽ پاڅېدو او بادشاه ته يې وويل :

اى بادشاه ! مونږ يو داسې قوم وو چې په جهالت کې وو د بتانو عبادت به مو کاوه، مرداره به مو خوړله ، بد کارونه به مو کول، د خپلوانو سره به مو خپلولى پرې کولې، د همسايه ګانو سره به مو بده رويه کوله، زورور به د کمزوري نه مال خوړلو تردې چې الله ① مونږ ته رسول را ولېږلو مونږ د هغه نسب پېژنو، پاکي يې پېژنو او رښتينولي يې پېژنو هغه مونږ د يو الله ① عبادت ته را وبللو مونږ يې منع کړو چې د هغه څه عبادت وکوو د کوم به مو چې مخکې کول او زمونږ پلرونو به کول چې له کاڼي نه به جوړ

شوي بتان وو، هغه مونږ ته امر کوي چې صرف رښتيا به وایاست، امانت په نه خیانت کوئ، د خپلوانو سره به خپلولي ښه ساتئ، د ګاونډي سره به ښه رویه کوئ، له حرامو شیانو او له وینو تویولو به ځان ساتئ ، هغه مونږ له بدو کارونو څخه منع کړو، د دروغو ویلو نه یې منع کړو او د یتیم د مال د خوراک نه یې منع کړو نو مونږ هم د هغه د خبرو تصدیق وکاوه ایمان مو وربانديراوړو زمونږ قوم په مونږ باندي ظلم شروع کړو مونږ یې په عذاب کړو ترڅو مونږ د بتانو عبادت ته بېرته ور وګرځوي کله چې هغوی په مونږ باندي ظلمونه شروع کړل دنیا یې په مونږ تنګه کړه ، زمونږ او زمونږ د دین په مینځ کې خنډ جوړ شول مونږ ستا ملک ته را ووتلو او غوښتل مو چې ستا په ګاونډ کې شپې وکوو او زمونږ تمه وه چې دلته به په مونږ باني څوک ظلم نه کوي .

نجاشي ورته وویل :

تاسې ته چې له الله ① نه کوم شی درکړل شوي هغه لتاسې سره څه شته؟ حضرت جعفر ❽ ورته وویل : هو ! را سره شته .

نجاشي وویل : ماته یې وواياست را ته تلاوت یې کړئ .

حضرت جعفر ❽ په خپل ښکلي او مؤثر آواز کې سورة مریم ورته شروع کړو او څه آیتونه یې

ورته تلاوت کړل نجاشي ورته په ژړا شو او بيا يې وويل : دا او هغه څه چې مونږ ته عيسى راوړي داسي دي لکه دواړه چې د يو ځاى نه راغلي وي بيا يې د مکې استازو عمرو او عبد الله ته وويل ځئ تاسې لاړ شئ دوى زه تاسې ته نشم په لاس درکولى .

عمرو بن العاص د قريشو استازي اوس بل تصور جوړ کړو چې څنګه وکولى شي نجاشي دوى ته په غصه کړي نو په دربار کې ورته حاضر شو ورته يې وويل :

جناب بادشاه تاسي ته معلومه ده چې دوى په حضرت عيسى ⌛ پسي بد شيان وايي او هغه خو ستاسي پاک پيغمبر دى کله يې چې دا خبره واوريده په دربار کې خلک تول زيات غصه شول او په عاجله توګه يې مسلمانان دربار ته را وغوښتل او د حضرت جعفر ❽ نه يې پوښتنه وکوله :

د حضرت عيسى عليه السلام په اړه ستاسي څه رايه ده؟

ده ❽ ورته وويل د هغه په اړه مونږ هغه څه وايو څه چې مونږ ته خپل پيغمبر را ښودلي دي هغه دا چې د الله بنده وو د الله رسول وو او د الله يوه معجزه وه چې مريم ته يې ور اچولى وو ...

نجاشي وويل : دا هماغه څه دي چې حضرت عيسى ⌛ د خپل ځان په اړه ويلي وو بيا يې مسلمانانو

ته وویل : ځئ تاسې لاړشئ زما په زمکه کې تاسې په امن یاست که چا تاسې ته شکنځل وکول او یا یې تاسې ته تکلیف درکړو هغوی به د هغه بدو ذمه وار وي چې له دوی سره کیږي او ددې خبرو سره یې د قریشو د استازو په لاس د قریشو تحفې بېرته هغوی ته ور ولېږلې .

د خیبر د فتح نه وروسته متصل په حبشه کې میشته مسلمانان او حضرت جعفر رضي الله عنه مدینې منورې ته لاړل هلته یې رسول الله ﷺ پخپله استقبال وکولو او په لیدلو یې زیات خوشحال شو او ویل یې : ما أدری بأیهما أنا أشد فرحًا؛ أبقدوم جعفر أم بفتح خیبر؟ (یعني زه نه پوهېږم چې زه په څه باندې زیات خوشحال یم د خیبر په فتح او که د جعفر رضي الله عنه په را ګرځېدلو؟ .

د جومات سره په خوا کې رسول الله ﷺ کور ورته جوړ کړو چې دی او بي بي یې پکې دوه ژوند وکوي دری اولادونه یې وو محمد ، عبد الله، او عوف رسول الله ﷺ چې کله د مهاجرینو او انصارو په مینځ کې ورورګلوي جوړوله دده ورورګلوي یې د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه سره جوړه کړې وه .

د هجرت په آتم کال رسول الله ﷺ حضرت حارث بن عمیر الازدي رضي الله عنه ملک بصرې ته شام ته د خپل استازي په توګه ور ولېږلو او خط یې ورکړو چې په هغه کې یې دی اسلام ته را غوښتلی وو هغه

په ډېر کبر سره د رسول الله ﷺ استازی شهید کړو او د استازي وژل په اوس وخت کې هم بد عمل دی او په هغه وخت کې هم ډېر د شرم نه ډک جرم ګڼل کېدو رسول الله ﷺ ته چې دا خبر را ورسېدو نو زیات غصه شو او خلکو ته یې اعلان وکولو چې را ټول شي د رومیانو سره جنګ ته تلل دي نو ۳۰۰۰ کسان جنګ ته را ټول شول اګست/سپتمبر 629 م - جمادی الأولی د هجرت آتم کال وو رسول الله ﷺ د دوی په سر باندې زید بن حارثه ؓ امیر کړو او بیا یې ورته وویل که چېرته دا شهید شو بیا به حضرت جعفر بن ابي طالب ؓ ستاسې امیر وي او که هغه شهید شو بیا به حضرت عبد الله بن رواحة ؓ ستاسې امیر وي .

د جمعې ورځ وه چې دوی روان شول د مجاهدینو خپلوان ورسره را وتلي وو تولو ورته دعا ګانې کولې چې الله مو په خیر فاتحین او صابرین خپلو کورونو ته را ورسوه .


دوی لاړل د شام یو کلي معان ته ورسېدل دوی ته خبر راغلو چې رومیان جنګ ته په ډېر لوی تعداد کې راوتلي دي چې یو لک کسان رومیان دي او یو لک کسان ورسره نور د قبائلو نه را ټول شوي دي صحابه کېناستل مشوره یې کوله چې څه وکوو؟ مونږ خو دا فکر نه کاوه چې زمونږ د ۳۰۰۰ کسانو مجاهدینو مقابله به د دوو لکو کسانو

سره کیږي ځینو پکې ویل چې رسول الله ﷺ ته به خط ولیږو او ورته به ووایو چې زمونږ دشمن خو دوه لکه کسان دي یا خو به په مونږ پسې نور کسان راولیږي او یا خو به مونږ ته څه امر وکوي په هغه امر به عمل وکوو چې هرڅه وو .

حضرت عبد الله بن رواحة ﵁ پاڅېدو خبرې یې شروع کړې او ویې ویل : ای خلکو تاسې ددې لپاره راوتلي یاست چې که الله ﷻ مو شهادت نصیب کړي والله مونږ دخلکو سره په عدد باندې جنګ نه کوو مونږ د خلکو سره صرف پدې مبارک دین جنګ کوو چې الله ﷻ مونږ ته وربانديې عزت راکړی دی راځې چې ور وړاندې شو الله به په دوه ښو شیانو کې یو مونږ ته راکوي یا شهادت او یا کامیابي خلکو وویل والله ابن رواحة رښتیا وویل او ددې خبرې سره تول په یوه جذبه ور وړاندې شول چې بلقاء سیمې ته ورسېدل د هرقل فوځونه څه رومیان او څه عرب هم نېږدې کلي ته چې مشارف یې ورته ویل را ورسېدل مسلمانان پدې وخت کې د موتة په نوم کلي ته وړاندې شول په اوس وخت کې ورته کرک وایي مسلمانانو خپل فوځ تیار کړو په میمنه (د فوځ په ښي طرف) باندې یې قطبة بن قتادة ﵁ مقرر کړو په میسره (د فوځ په چپ طرف) عبایة بن ملک یو انصاري مجاهد ﵁ مقرر کړو صفونه سره وړاندې شول او سخت جنګ شروع

شو چې صرف د زخمیانو فریاد د تورو آواز او د مسلمانانو د تکبیر اوازونه پورته کېدل د زمکې نه تور ګرد پورته شو فوځونه ډېر په سخته سره مخامخ شول چې د مسلمانانو لمړی امیر حضرت زید بن حارثه ❽ د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو حضرت جعفر ❽ را توپ کړل او بیرغ یې پورته کړو د مسلمانانو فوځیانو په مخه کې وو جنګ ډېر سخت وو ښی لاس یې چا ووهلو ترې پرې ئې کړو ده زر بیرغ په چپ لاس کې ونیولو او هغه یې زمکې ته پرې نه ښودو چپ لاس یې ترې ووهلو د پاتې بدن او سر په واسطه یې د اسلام بیرغ پورته کړو او زمکې ته یې پرې نه ښودو تردې چې شهید شو پدې وخت کې یې عمر ۳۳ کاله وو عبد الله بن عمر ❽ فرمایي په غزوة مؤتة کې زه له دوی سره وم کله چې جنګ پای ته ورسېدو نو جعفر بن اب طالب ❽ ورک وو مونږ پسې ګرځېدو چې پیدا مو کړو په بدن مبارک یې څه د پاسه (۹۰) زخمونه وو د تورې نیزې او داسې نور رسول الله ☸ یې چې په شهادت خبر شو ډېر زیات وربانديې خفه شو کور ته یې ورغلو د جعفر ❽ ماشومان یې را تول کړل هغوی یې په مینه ځان ته نېږدې کړل او ښکل یې کړل بیا یې د دوی او د ددوی د پلار په حق کې د خیر دعا وکوله دی مبارک ❽ هماغلته د شهادت په ځای کې خاورو ته و سپارل شو اوس یې هم په

قبر باندې شکلی مزار جوړ کړی دی په کرک نومي ځای کې د مزار په نوم ښار ګوټي کي دی په اردن کې د عمان ښار په جنوب کې په ١٤٠ کېلو متری کې واقع دی .



علي 8 بن ابي طالب (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

علي بن أبي طالب بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

په مكه مكرمه كې د عام الفيل نه دېرش كاله وروسته د جمعې په ورځ د رجب په لسم تاريخ يې دنيا ته سترګې پرانيستې چې د اولسم د مارچ ٥٩٩ سره سمون خوري او د ځينو رواياتو له مخې د اكتوبر په ٢٣ په كال ٥٩٨ كې پيدا شوی دی مخكې تېر شول چې مور يې حضرت فاطمة بنت اسد بن هاشم وه او د هاشم په خاندان كې لمړی جينۍ وه چې پيدا شوې وه .

حضرت علي 8 چې كله پيدا شو مور يې نوم ورته حيدر يا اسد خوښ كړی وو هغې غوښتل چې د خپل والد نوم به وربانديې تازه كړي او ابو طالب دده نوم زيد ايښودل غوښتل لكن رسول الله ﷺ وربانديې علي نوم كېښودو د څه نورو رواياتو له مخې چې مور ته يې غيبي آواز راغلی وو په هغه كې يې ده ته علي ويلي وو نو همااغه نوم يې وربانديې كېښودو.

هغه وخت چې حضرت علي ❽ د پنځو او شپږو کلونو په مینځ کې وو په مکه مکرمه باندې د قحط دوره راغلې وه اود ابي طالب اقتصاد له مخکې نه هم ډیر ښه نه وو نو اوس حالات نور هم خراب شول پدې وخت کې یې دری زامن وو عقیل ، جعفر او همدا ماشوم علي رسول الله ❁ او حضرت عباس ❽ ورغلل ابي طالب ته یې وویل : ستاسي اقتصادي حالت ډیر ښه نه دی ترڅو چې ستا وضع ښه کیږي دا یو یو ماشوم به مونږ له ځان سره بوزو هغه هم ستا خپل کورونه دي دوی به هلته وي نو بیا جعفر ❽ د حضرت عباس ❽ سره او حضرت علي ❽ د رسول الله ❁ سره کورونو ته لاړل هلته یې د دوی پالنه کوله نو له هغه وخت نه حضرت علي ❽ د رسول الله ❁ سره ملګری شو چیرته به چې رسول الله ❁ تللو دی به ورسره ملګری وو او د بعض روایاتو له مخې دی به کله کله غار حراء ته هم ورسره تللو او مخکې له اسلام نه هم دی پاک پاتې شوی وو بت ته یې سجده نه وه کړې .

کله چې دا آیت نازل شو : و انذر عشيرتک الاقربين

نو رسول الله ❁ د یوې میلمستیا په شکل کې خپل نیږدې خپلوان را تول کړل او خوراکونه او څښاک یې وکولو چې د ډیرشو کسانو په شاوخوا کې وو او بیا یې ورته خپلې خبرې شروع کړې ورته یې وویل : په تاسې کې داسې څوک شته چې زما سره

په دين کې ملګرتيا وکوي او زما سره د اسلام ښکلی دين قبول کړي هغوی به له ما سره په جنت کې وي ... او ورته زياته يې کړه ای د عبد المطلب اولاده په عربو کې بل څوک داسې خير خپل قوم ته نه دی راوړی لکه تاسې ته چې ما راوړی دی بېشکه ما تاسې ته د دنيا او آخرت نيکي راوړي حضرت علي ❽ په همدې مجلس کې پاڅېدو د رسول الله ☸ تصديق يې وکولو او خپل ايمان يې ښکاره کړو چې پدې وخت کې دی لا ماشوم وو نو په ماشومانو کې د اول مسلمان ښکلی او د افتخار نه ډک لقب يې واخيستو .

لکه چې ويل کيږي په نارينه وو کې اول حضرت ابو بکر صديق ❽ په اسلام مشرف شوی دی لکن ځينې روايات وايي چې تر حضرت ابو بکر صديق ❽ څخه حضرت علي ❽ مخکې په اسلام مشرف شوی وو لکن څرنګه چې ماشوم وو له خپل پلار نه ډارېدو او خپل اسلام يې پټ ساتلی وو تردې چې رسول الله ☸ خپلوانو ته دعوت ورکړو بيا ده خپل اسلام ښکاره کړو .

کله چې مسلمانانو حبشې ته هجرت کولو ده ❽ هجرت ونه کولو او ده غوښتل چې په هر ډول حالتونو کې د رسول الله ☸ سره ملګری وي .

کله چې رسول الله ☸ مدينې منورې ته هجرت کولو پداسې حالت کې له کور نه ووتلو چې کفارو يې

کور محاصره کړی وو او ددې انتظار یې کاوه چې هغه را ووزي او دوی یې قتل کړي په همداسې حالت کې رسول الله ﷺ د الله ① په حفاظت کې له دوی نه ووتلو او دوی ئې په وتلو بالکل خبر نه شول حضرت علي ❽ یې په کور کې پرېښودو ورته ویل یې ته زما په ځای کې پاتې شه زما سره چې د خلکو کوم امانتونه دي هغه به خپلو مالکانو ته وسپارې او بیا به ته هم راځې کله یې چې د رسول الله ﷺ د حکم مطابق د هرچا امانت دهغه په مالک و سپارلو نو د مدینې منورې په مبارک سفر د یو روایت له مخې یوازې او د بل روایت له مخې د خپلې مور او درسول الله ﷺ د لورانو مبارکو سره په یوځای روان شو د شپې به یې منزل کولو او د ورځې به چېرته پټ کېناستل تردې چې مدینې منورې ته په داسې حالت کې ورسېدل چې په قباء کې یې رسول الله ﷺ انتظار کاوه پدې وخت کې دحضرت علي ❽ عمر ۱۳ کاله وو نوی ځوان وو د سفر سختیو یې په پښو داسې اثر کړی وو چې له پښو مبارکو یې وینې روانې وې په داسې حالت کې د رسول الله ﷺ سره یو ځای شو هغه یې په راتلو ډېر زیات خوشحال شو او کله چې رسو الله ﷺ د مهاجرینو او انصارو په مینځ کې وروروګلوي جوړوله دده وروروګلوي یې له خپل ځان سره جوړه کړه او ده ته یې وویل : أنت أخي في

الدنيا والآخرة (يعني ته په دنيا او آخرت كې زما ورور يې)

د هجرت په دوهم كال كله چې رسول الله ﷺ د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها سره واده وكولو نو ډېرو مشرانو صحابه وو چې تر اوسه پورې ددې امله حضرت فاطمه له رسول الله ﷺ څخه نه غوښته چې دوی ويل د رسول الله ﷺ په كور كې د فاطمې رضی الله تعالی عنها ضرورت دی نو اوس پوهېدل چې عائشه رضی الله تعالی عنها اوس د رسول الله ﷺ په كور كې شته نو د حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها غوښتلو پسې يو په بل پسې راتلل لكن رسول الله ﷺ به دوی ته عذر ويل تردې چې څه انصارو حضرت علي رضی الله تعالی عنه ته د فاطمې رضی الله تعالی عنها د غوښتلو مشوره وركړه او دی يې پدې كار كولو ور زړور كړو تردې چې د حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها د غوښتلو لپاره د رسول الله ﷺ مجلس ته حاضر شو يو څه وخت په مجلس كې كېناستو زړه يې ونشوای كولی چې رسول الله ﷺ ته دا خبره ور ياده كړي رسول الله ﷺ پوه شو چې دده په زړه كې څه دي لكن دی نشي ويلی نو يې ورڅخه پوښتنه وكوله د ابي طالب د زوی څه ضرورت دی؟ .

حضرت علي ﷺ ورته ويل : ما فاطمه بنت رسول الله ﷺ يادوله .

رسول الله ﷺ ورته وویل : په خير راغلي هر کله راشي .

دي خبري د حضرت علي ؓ زړه ته خوشحالي ور ننه ايسته او په مطلب يې پوه شوه چې د رسول الله ﷺ مطلب دی هو يو څه وخت وروسته يې بيا له رسول الله ﷺ سره خبرې وکولې او يوه زغره يې بي بي ته په مهر کې ورکړه رسول الله ﷺ د دوی لپاره دعا وکوله :

اللهم بارك فيهما وبارك عليهما وبارك لهما في نسلهما

ترجمه : ای الله په دوی کې برکت واچوه او په دوی باندي خپل برکت نازل کړه او د دوی په نسل کې برکت واچوه .

بيا ترڅو پوري چې حضرت فاطمة رضی الله تعالی عنها ژوندی وه حضرت علي ؓ د بلي ښځي سره واده نه وو کړی له حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها څخه الله ① ورته حضرت حسن، حسين، محسن، زينب، ام کلثوم ؓ ورکړل په دوی کې محسن د يو قول له مخې د رسول الله ﷺ په ژوند کې وفات شو او د يو قول له مخې د حرق الدار په واقعه کې د ما شوم توب په حالت کې شهيد شو په هر صورت دا لوی شوی نه دی .

حضرت علي ؓ د رسول الله ﷺ د نېږدي ملګرو څخه وو چې په هرکار کې به يې ورسره مشوره کوله او

کله کله به یې قبائلو ته د خپل نائب او سفیر په ډول هم لیږلو چې هغوی د اسلام لوري ته را وغواړي پدې لیږلو کې دده 8 لیږل یمن ته ډیر مشهور دي چې کله دی ورغلو همدان علاقه ټوله دده په لاس په اسلام مشرفه شوه او په ټول یمن کې اسلام مخ په خپریدو وو .

د رسول الله ﷺ سره په ټولو غزواتو کې شریک وو صرف تبوک ته ددې امله نه وو تللی چې رسول الله ﷺ په خپل ځای باندې او په خپل اهل بیت باندې دی خلیفه او د هغوی د ساتنې لپاره پریښی وو په اکثرو غزواتو کې به د اسلام بیرغ دده په لاس کې وو په اکثر غزواتو کې دده ښه شان وو په بدر کې یې هغه وخت د مسلمانانو زړونه د خوشحالی او جذباتو نه ډک کړل کله یې چې ولید بن عتبة ووژلو .

د خندق په غزوة کې چې کله د کفارو مشهور پهلوان عمرو بن ود العامري په ډیر تکبر سره د مسلمانانو لوري ته را وا وښتو دهغه په ګمان هیچا هم دده مقابله نشوای کولی لکن کله چې حضرت علي 8 ور وړاندې شو ډیر په اسانه یې د مرګ په خوله ورکړو او د هغه سره راغلي ملګري بیرته په شا و تښتیدل .

د خیبر په جنګ کې ده 8 ته مرحب جنګي پهلوان را وړاندې شو دهغه په اړه مشهوره وه چې مرحب په یوازې ځان د زرو کسانو سره جنګ کولی شي

لکن دده سره چې مخامخ شو په یو څو لحظاتو کې یې یهود له دې نعمت نه محروم کړل چې دوی به زیات وربانديې نازیدل .

کله چې په خیبر کې د یهودو د قلاګانو فتح کول مسلمانانو ته سخت شول نو رسول الله ﷺ اعلان وکولو چې سبا به زه دا خپل بیرغ داسې چا ته په لاس ورکوم چې د الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ هغه ته ګران دې او دی هم الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ته ګران دی .

سبا ټولو خلکو انتظار کاوه چې دا بختور به څوک وي ؟ سبا یې هغه بیرغ حضرت علي ؓ ته ورکړو الله ﷻ دده په واسطه هغه قلا فتح کړه او مخکې تېر شول چې په حنین کې کله جنګ په اولو لحظاتو کې مسلمانانو یو ډول ماتې وخوړه نو دی په هغه کسانو کې وو چې د رسول الله ﷺ سره ټینګ ولاړ وو یوه توره یې وه رسول الله ﷺ ده ته د اُحد په ورځ ورکړې وه ذوالفقار نومیده او یوه زغره رسول الله ﷺ د بدر په ورځ ورکړې وه الحطمیة نومیده حطم ماتېدلو ته وایي دېته حطمیه وایي ځکه زیاتې تورې وربانديې ماتې شوې وې او په دې زغره یې اثر نه وو کړی .

کله چې رسول الله ﷺ وفات شو د غالبو روایاتو له مخې شپږ میاشتې وروسته دحضرت علي ؓ مېرمن

حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها هم وفات شوه او ده ته یې وصیت کړی وو چې ما به چېرته پټ ځای د شپې خښوئ د یو روایت له مخې چې صرف ده ❽ او زامنو ﷺ وربانديږ د جنازې مونځ وکولو او د یو روایت له مخې یو څو محدودو مشرانو صحابه وو یې د جنازې مونځ وکولو اود شپې په نا معلوم ځای کې دفن کړل شوه .

بیا یې د حضرت ابو بکر صدیق ❽ تر وفات وروسته د اسماء بنت عمیس سره واده وکولو او د حضرت ابو بکر له هغې مبارکې نه یو زوی وو محمد بن ابي ابکر ماشوم پاتې شو دهغه تربیه او پالنه هم بیا حضرت علي ❽ وکوله چې لوی شو ښه صالح ځوان او دده ښه مرستندوی تري جوړ شو .

حضرت علي ❽ د حضرت ابي بکر صدیق ❽ په دور کې ښه مطیع وو او د اسلام د فتوحاتو د لړی په خپریدلو کې یې پوره مرسته کوله او حضرت ابو بکر صدیق ❽ به په هره خبر کې ورسره مشوره کوله او دده رایه به یې اخستله بیا چې کله د حضرت عمر ❽ دور شو په مدینه منوره کې یې د مفتي اعظم او یا قاضي حیثیت لرلو حضرت عمر ❽ به په ډېر احترام او مینه سره دده رایه اخیسته او عملي کوله به یې او هېڅ لوی کار یې دده له مشورې پرته نه کولو همدارنګه حضرت

عثمان 8 چې کله خلیفه وو دده 8 نه یې مشورې اخستلې او په هر کار کې یې دی خبرولو او ده هم ورسره پوره مرسته کوله کله چې حضرت عثمان 8 شهید کړل شو په سبا باندې خلک ده ته را ټول شول او ده ته یې ویل چې مونږ ددېنه وروسته تا خلیفه کول غواړو په اول کې ده د خلافت د قبلولو نه انکار کولو لکن وروسته صحابه وو ورباندې ټینګار وکولو او دی یې د خلافت قبلولو ته تیار کړو او بیعت یې ورسره وکولو په داسې وخت کې خلیفه شو چې حضرت عثمان 8 شهید کړل شوی وو د فتنو دروازې را خلاصې شوې وې لکن بیا هم ده کوښښ کاوه چې په سمه توګه د مسلمانانو خلافت مخ په وړاندې بوزي .

په هغه وخت کې چې دی خلیفه هم وو ساده ژوند یې وو او ترڅو به چې نوي کس ته چا ور معرفي کړی نه وو دده له جامو او له رویې نه چا نشوای معلومولی چې دا امیر المؤمنین دی دده 8 د خلافت په زمانه کې د مدینې منورې سره په لاره کې د یو مسافر اوښ مړ شو هغه فکر وکولو چې اوس په نیمه لاره کې پاتې یم لاړ به شم حضرت علي 8 ته به سوال وکوم کېداې شي هغه راته د بیت المال څخه اوښ راکړي راغلو مدینې منورې ته یې ځان را ورسولو چې د حضرت امیر المؤمنین علي 8 کور ته را ورسېدو حضرت حسین 8 یې

ولیدو او د امیر المؤمنین پوښتنه یې ورځخه وکوله او خپل مشکل یې ورته وویل حضرت حسین ❽ ورته وویل امیر المؤمنین به لږ وروسته لتا سره وګوري ته اوس راځه کینه دده استقبال یې وکولو او د جومات سره په حجره کې یې هغه کېنولو او کور ته لاړو ښه خوراک یې ورته راوړو مېلمه ته چې کله خوراک کېښودل شو هغه ورته وویل :

تاسې ماته دومره ښه خوراک راوړو زه دا یوازې نه خورم د مسجد په هاغه طرف کې یو غریب ناست وو وچه ډوډی یې له اوبو سره خوړله هغه ته هم آواز وکوه خیر دی لما سره به دا ډوډی وخوري .

حضرت حسین ❽ ورته مسکی شو ورته یې وویل : هغه امیر المؤمنین ❽ دی هغه ته که زه آواز هم وکوم هغه دا مکلفه ډوډی نه خوري هغه د خپل عادت مطابق هغه وچه ډوډی خوري .

خلکو ته یې په مسجد الکوفه کې د سحر مونځ ورکولو چې د مانځه په دوران کې ظالم عبد الرحمن بن ملجم ورته را وړاندې شو په هغه توره یې په سر مبارک باندې ووهلو چې زهر وربانديې لګول شوي وو ده وویل : فزت ورب الکعبة (د کعبې په رب مې د قسم وي کامیاب شوم) د بعض روایاتو له مخې دی جومات ته په لاره کې وو چې عبد الرحمن بن ملجم ووهلو په

هر صورت را پورته کړل شو او کور ته نقل کړل شو ده وویل :
چا چې زه ووهلم دهغه ساتنه وکوئ زما د خوراک نه وربانديِ خوراک وکوئ او هغه اوبه چې زه څښم له هغو نه یې ده ته هم ورکړئ چې وڅښي که چېرته زه مړ شوم لکه څنګه چې ده زه ووژلم په هماغه ډول یې قصاص کړئ او که چېرته زه ژوندی پاتې شوم زه به بیا وګورم چې ده په اړه څه وکوم ده لپاره مشهور اطباء راوستل شول لکن څرنګه چې په توره باندي زهر لګېدلي وو هغه ده مبارک ❽ په بدن کې خپاره شوي وو هېچا یې علاج نشوای کولی او تر دریو ورځو پوري ژوندی وو بیا یې د اجل داعي ته لبیک وویل او د رمضان په ۲۱ د هجرت په ٤٠ کال په شهادت ورسېدو .
کله یې چې اولاده او نور صحابه ده له تجهیز او تکفین څخه فارغ شول عبدالرحمن بن ملجم یې ده ❽ په قصاص کې ووژلو .
عبد الرحمن بن ملجم له خوارجو نه یو کم عقل وو له ده سره نورو دوو کسانو خوارجو وعده کړي وه چې ته علي ❽ او مونږ به معاویه ❽ او عمرو ابن العاص ❽ قتل کړو دی کم عقل راغلو حضرت علي ❽ یې په شهادت ورسولو او هغه دواړه کسان په خپلو ځایونو کېناستل او ده سره یې په کړي وعده هېڅ غوږ ونه ګرولو .

د علم حدیث او علم تاریخ ډېر کتابونه ددې تائید کوي چې رسول الله ﷺ حضرت علي ؓ ته دده د مرگ په اړه ویلي وو او په یو حدیث کې یې ورته ویلي وو : ای علي زه ددې امله ژاړم چې پدې میاشت کې به ستا وینه څوک څان ته حلاله وگڼي لکه زه چې اوس تاته گورم ته مونځ کوې او د اولینو او آخرینو خلکو یو بدبخت را وړاندې شي د صالح ؑ د شقي (چې د صالح ؑ اوښه یې مړه کړه) وروړ تا په سر باندې په توره ووهي او ستا ږیره په وینه باندې لنده کړي .

حضرت علي ؓ وصیت وکولو چې ما په داسې څای کې دفن کړئ چې قبر مې هېچاته معلوم نشي څینې شیعه گان وایي چې په نجف نومي سیمه کې دفن کړل شوی دی هلته دوی د امام علي په نوم باندې په نجف کې په هغه څای کې یو جومات او مزار جوړ کړي دي او د بعض خلکو له نظره په افغانستان مزار شریف کې چېرته چې روضه ده هلته دفن شوی دی هغوی وایي چې ابو مسلم خراساني د څه کسانو په مرسته د حضرت علي ؓ جسد مبارک د افغانستان په شمال کې بلخ ولایت ته نقل کړو تردې چې د بادشاه حسین بیقرة دور راغلو او په هغه باندې یې مزار په ۱٤۸۰ میلادي کال کې جوړ کړو والله اعلم چې په رښتیا سره د حضرت علي ؓ مرقد مبارک چېرته دی .

ﷲ ① حضرت علي ❽ ته فراخ معلومات ورکړي وو د ديني علومو سره يې په علم رياضي کې په زړه پورې مهارت درلود په علم نحو او بلاغت کې يې پوره مهارت وو او د ابو الاسود الدؤلي د علم نحو د اول مدون استاذ وو او دده په اړه ويل کيږي چې په علم فقه کې اول تصنيف ده ❽ کړی دی د حضرت عبدالله بن عباس ❽ استاذ وو او د علم او زده کړې سره يې بې ساري مينه وه او خلک به يې هم هڅول چې څه زده کړي .

د قرآن کريم درې نسخې ده ❽ په خپل لاس ليکلې دي په اوس زمانه کې يوه په يمن کې صنعاء کې ده او يوه په رامپور کې په هند کې ساتل شويده او دريمه يې د المرکز الوطني للمخطوطات اداري سره په عراق کې ۱۲ صفحې دي او پاتې نور قرآن کريم په نجف کې په مکتبة امير المؤمنين کې ساتل شوی دی .

د حضرت علي ❽ مېرمنې او اولادونه په لاندې ډول وو :

اوله مېرمن يې حضرت فاطمه رضى الله تعالى عنها وه ددينه يې حضرت حسين، حضرت حسن، حضرت محسن، حضرت زينب، حضرت ام کلثوم اولادونه وو .

خولة بنت جعفر بن قيس الحنفية البکرية د حرب اليمامې په بنديانو کې وه ددينه يې يو زوی

وو محمد الاکبر او ده ته محمد الحنفیة هم ویل کېدل .

الصهباء ام حبیبة بنت ربیعة التغلبیة ددینه یې عمر بن علي، رقیة بنت علي ماشومان وو .

امامة بنت ابي العاص بن الربیع العبشمیة القرشیة (بنت زینب بنت رسول الله ﷺ) ددینه یې محمد الاوسط بن علي وو .

ام البنین حضرت فاطمة بنت حزام بن خالد الکلابیة ددي نه یې عباس بن علي، عثمان بن علي، جفر بن علي، عبد الله بن علي وو دا ټول په کربلا کې شهیدان شول .

لیلی بنت مسعود بن خالد التمیمیة (په کربلا کې شهیده شوه) ددي نه یې :

ابي بکر بن علي ، عبد الله بن علي ماشومان وو .

اسماء بنت عمیس بن عاذ الخثعمیة وه ددي نه یې یحیی بن علي ، محمد بن علي د یو روایت له مخې عون بن علي ماشومان وو .

ام سعید بنت عروة بن مسعود الثقفیة ددي نه یې رملة بنت علي او ا م الحسن بنت علي ماشوماني وي .

الصهباء ام حبیبة بنت زمعة بن بحر التغلبیة ددینه یې رقیة بنت علي او ام عمر بنت علي ماشوماني وې .

محیاة بنت امرئ القیس بن عدي بن اوس الکلبیة ددینه یې جاریة بنت علي وه .



ضرار بن عبد المطلب (د رسول الله ﷺ تره)

د عبد المطلب دریم زوی وو په شعر ویلو کې یې ښه مهارت درلود او شعرونه به یې ویل دا تر هغه وخت وړاندې مړ شوی دی چې رسول الله ﷺ مبعوث شوی وو او دې مبارک دین ته یې دعوت شروع کړی وو او دده څخه کوم اولاد نه دی پاتې شوی .

الزبیر بن عبد المطلب (د رسول الله ﷺ تره)

زبیر بن عبد المطلب الهاشمي القرشي الکناني وو له پلار نه وروسته په مکه کې دی هم مشر سړی وو په شعرویلو کې یې خوږه ژبه او ښه دماغ درلودل او ښه شعر یې ویلو.

د رسول الله ﷺ په ماشوم توب کې هغه رحلت کړی وو څلور زامن یې وو عبد الله بن زبیر بن عبدالمطلب، حجل بن زبیر، طاهر بن زبیر دا یې مشر زوی وو په همدې به ده ته آواز کېدو (ابو الطاهر) یوه یې لور وه ضباعة بنت الزبیر .

عبدالله بن الزبير ﷺ (درسول الله ﷺ د تره زوی)

دا عبد الله بن زبير بن عبدالمطلب وو مور يې عاتکه بنت ابي وهب المخزومية وه په شجاعت او جنګي مهارت کې يې تجربه درلوده د آس په سپرلی کې مشهور وو کله چې رسول الله ﷺ وفات شو په هغه وخت کې دی د ٣٣ کلونو وو په يوم اجنادين کې تر جنګ وړاندې کله چې د روميانو له لوري نه يو پهلوان را ووتلو او د مسلمانانو له لوري نه يې پهلوان وغوښتلو نو عبد الله بن زبير بن عبدالمطلب ور ووتلو هغه رومي يې قتل کړو بل را ووتلو د هغه سره يې وارونه تبادله کړل بالآخره يې په يو زورور وار سره په ورمېږه کې ووهلو وربانديې چيغه يې کړه در وايې خله زه د عبدالمطلب زوی يم هغه ددې وار سره بېرته ترينه و تښتېدو بيا جنګ ګرم شو او دی شهيد شو له صفونو څخه د وتلو په وخت کې حضرت عمرو بن العاص ورته وويل مه ور وزه ده ورته وويل نور مې صبر نه کيږي ... چې کله د جنګ د دريدلو نه وروسته پيدا کړل شو شهيد پروت وو په خوا کې ورسره لس کسان روميان مړه پراته وو چې ده وژلي وو د توري لاستی يې په لاس کې وو يوازې په مخ باندې يې ٣٠ زخمونه لګېدلي وو او د

اجنادين واقعه د هجرت په ديارلسم كال د جمادي الاول په آتلسمه د دوشنبې په ورځ وه .

ابو لهب بن عبدالمطلب (د رسول الله ﷺ تره)

خپل نوم يې عبدالعزى وو په ابو لهب باندې يې شهرت درلود په ابو عتبة سره هم يادېدو او ده ته ابو لهب لقب يې پلار ددې امله ورکړى وو چې دا ډېر ښائسته وو هغه به ورته ويل چې دده مخ داسې رڼا کوي لکه لمبې چې ترې پورته کيږي کله چې محمد ﷺ پيدا شو ده ته يې يوې وينزې را منډه کړه ورته ويل يې : زيرى درکوم وراره دې پيدا شو ده ددې زيري په خوشحالى کې هغه ازاده کړه لکن کله چې رسول الله ﷺ مبعوث شو او د حق دين لور ته يې خلک ور وغوښتل او خلک يې د بتانو له عبادت څخه منع کول شروع کړل دا د زمکې په مخ باندې اول کس وو چې د رسول الله ﷺ دښمني يې په غاړه واخيسته او هغه وخت چې رسو ل الله ﷺ عام او په ښکاره سره دعوت کول شروع کړل نو د صفا د غونډۍ سر ته وختلو او آواز يې وکولو اى د فهر اولاده ، اى د عدي اولاده

.... ټولو خلکو کوښښ وکولو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا ته راشي او چې کله دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا اوازونه چې دوی ته یې کول واورېدل نو چې څوک نشوای را وتلی نو یې څوک ور ولېږل چې ته ورشه دا اوازونه د څه په اړه دي او دا څوک دي چې چېغې وهي؟ چې کله دوی را ټول شول رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: که زه تاسي ته ووایم چې دلته په وادي کې د آسونو قافله ده او هغه په تاسي باندې حمله کوي تاسي زما دا خبره منئ ؟ دوی ورته وویل هو مونږ ستا خبره منو تاتر اوسه پورې په کومه خبره کې درواغ نه دي ویلي رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل بیا زه تاسي ته د دردناک عذاب نه وېره درکوم ... ابو لهب ورته وویل تباه شې ددي لپاره تا مونږ را غوښتي وو.. بیا قرآني آیتونه نازل شول :

سورة لهب

تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ ﴿١﴾ مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ﴿٢﴾ سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ ﴿٣﴾ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ﴿٤﴾ فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ﴿٥﴾

ترجمه : هلاک د وي دواړه لاسونه د ابي لهب (يعني دی په خپله) دفع به نه کړي دده نه هيڅ شی دده مال او هغه څه چې ده کړي دي و به رسيږي هغه اور ته چې د لمبو خاوند وي او ښځه دده پورته کونکې د خسو (خاشاکو) دهغې په غاړه کې يوه رسی ده چې د خورما د ونې له پټوکي نه جوړه شوېده .

پدې وخت کې د رسول الله ﷺ د دوو لورانې رقية او ام کلثوم نکاح د دده د دوو زامنو عتبه او عتيبة سره شوې وې چې تر اوسه پورې يې واده لا نه وو شوی ددې آيت تر نزول وروسته يې خپلو زامنو ته د خپل سر قسم ورکړو او ورته يې وويل چې د محمد ﷺ دواړه لورانې طلاقې کړي پدې سره به هم يو ډول تکليف حضرت محمد ﷺ ته ورسيږي . عتبه يې راساً طلاقه کړه او عتيبة ته يې د مکې خلک هم راغلل ورته ويل يې ته چې له چا سره غواړې له هغه سره به مونږ ستا نکاح وتړو لکن د محمد ﷺ لور ور طلاقه کړه ده ورته وويل که تاسې ماته د ابان بن سعيد بن العاص او يا د سعيد بن العاص لور په نکاح راکړئ نو زه به د محمد ﷺ لور ورطلاقه کړم بيا دوی د سعيد ابن العاص لور ده ته په نکاح کړه او ده د رسول الله ﷺ لور حضرت ام کلثوم رضی الله تعالی عنها طلاقه کړه او کله چې د شام په سفر روانېدو ددې

لپاره چې خپل پلار به خوشحال کړي را روان شو ويل زه تر سفر وړاندې رسول الله ﷺ ته لږ تکليف ورکول غواړم راغلو رسول الله ﷺ ته په مخ کې و دريدو ورته ويل يې : إني كافر بالنجم إذا هوى، وبالذي دنا فتدلى (زه پدې آيتونو باندې كافر يم) بيا يې د رسول الله ﷺ مخ مبارک ته ناړې ور تف کړې رسول الله ﷺ ورته ښېراه وکوله د هغې ښېرا د قبليدو په نتيجه کې لدې سفر نه را ستون نه شو .

د ابو لهب په اړه په پورتني سورت کې ويل شوي دي چې دی به د دوزخ اور ته ورسيږي علماء کرام فرمايي دا سورت پخپله لويه معجزه ده چې دا سورت د ابي لهب له مرګ نه لس کاله وړاندې نازل شو پدې لسو کلونو کې ده د قرآن کريم په اړه د اسلام او درسول الله ﷺ په اړه د هېڅ ډول درواغو جوړولو نه مخ نه اړولو لکن پدې لسو کلونو کې ده ته دا په زړه کې ورنغلل چې راځه خپل اسلام اعلان کړه نو پخپله به ښکاره شي چې په قرآن کريم کې درواغ راغلي دي ځکه په هغه کې دي چې زه دوزخي يم او دادي ا وس خو ما اسلام قبول کړو ...

دی د بدر جنګ ته نه وو راغلی په يو بل کس العاص بن هشام بن مغيرة دده څلور زره درهمه قرض وو هغه ته يې وويل زه به تاته خپل قرض معاف کړم زما په ځای د بدر جنګ ته لاړشه هغه

چې غريب سړی وو دده سره يې دا ومنله او دده په ځای جنګ ته لاړو په ده باندې د معدې بيماري ولګېده او د بدر نه اوه ورځې وروسته مړ شو .

دده ښځه اروی بنت حرب بن امية نوميده په ام جميل سره مشهوره وه د ابي سفيان خور وه ده چې رسول الله ☸ ته ځومره تکليف ورکولو هغې ورسره مرسته کوله .

دده څخه دری زامن او يوه لور پاتې شول .

الصحابي عتبة بن أبي لهب (وروسته په اسلام مشرف شوی دی)

الصحابي معتب بن أبي لهب (ده ته هم د اسلام شرف ورکړی دی)

عتيبة بن أبي لهب (دا هماغه کس وو چې رسول الله ☸ ورته ښېراه کړې وه او د شام په سفر کې زمري ښکار کړو)

الصحابية درة بنت أبي لهب (دا د ابي لهب لور وه د اسلام په شرافت برياله شوې وه)



عتبة 8 بن ابي لهب (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

دا عتبة بن ابي لهب وو چا ته چې رسول الله ﷺ تر بعثت وړاندې خپله لور په نکاح ورکړې وه لکن کله چې رسول الله ﷺ اسلام ته دعوت شروع کړو ده د رسول الله ﷺ سره د کینې د ښکاره کولو او د خپل پلار د خوشحال کولو لپاره هغه مبارکه طلاقه کړې وه بیا حضرت عثمان 8 په نکاح کړه کله چې مکه فتح شوه رسول الله ﷺ حضرت عباس 8 ته وفرمایل:

ستا دوه وریرونه معتب او عتبه نه ښکاره کیږي هغه چیرته دي؟

حضرت عباس 8 ورته وویل هغه هم د نورو مشرکینو سره په یو ځای تښتیدلي دي رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ورشه هغوی ماته راوله.

حضرت عباس ﷺ پسې ورغلو هغوی یې پیدا کړل چې له مکې نه بهر وو او زړه یې نشوای کولی چې مکې ته ننوزي حضرت عباس 8 ورته وفرمایل راځئ رسول الله ﷺ تاسې دواړه غواړي.

دوی دواړه زر د حضرت عباس ❽ سره را روان شول د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شول رسول الله ﷺ ورته اسلام ور وړاندې کړو هغوی اسلام قبول کړو رسول الله ﷺ د دوی په اړه وویل : ما له الله ① نه وغوښتل چې دا دوه د تره زامن ماته راکړه بیا الله ① ماته راکړل . بیا رسول الله ① د دوی دواړو په مینځ کې روان وو جومات ته ننوتلو او په حنین کې دواړه ورونه د رسول الله ﷺ سره ملګري وو او په هغه کسانو کې وو چې تېښته یې نه وه کړې .

معتب ❽ بن ابي لهب (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

دا هم د ابي لهب زوی وو مور یې ام جمیل د ابي سفیان ابن الحرب خور وه چې په قرآن کریم کې په حمالة الحطب باندې یاده کړل شوېده د خپل ورور عتبة سره په یو ځای د مکې د فتح په ورځ په اسلام مشرف شو په حنین کې یې د رسول الله ﷺ ملګري وکوله او په هغه کسانو کې وو چې په شا ونه تښتېدل تر اسلام وروسته یې د رسول الله ﷺ په تینګه سره ملګرتیا وکوله او رسول الله ﷺ هم په

مینه ورته کتل او ویل به یې له الله ① نه مې دا دوه د تره زامن وغوښتل الله ① راکړل .

د ابي سفیان د لور عاتکة سره دده واده شوی وو او عبد الله، محمد، أبو سفیان، موسی، عُبید الله، سعید، زامن یې وو یوه لور یې وه خالدة نومیده دهغې مور ام عمرو بنت المقوم بن عبدالمطلب وه ابو مسلم، مسلم او عباس هم دده زامن وو له مختلفو مورانو څخه بل زوی یې عبدالرحمن بن معتب وو .

مصعب بن عبد المطلب (د رسول الله ☸ تره)

ده ته غیداق هم ویل کېدل مور یې خزاعیة وه د مور لخوا یې عوف بن عبدالعوف بن الحارث بن زهرة بن کلاب وو دا د رسول الله ☸ تربعثت مخکې په حق رسېدلی وو د رسول الله ☸ ملاقات یې نه وو نصیب شوی او دده څخه کوم اولاد هم نه دی پاتې شوی .

مقوم بن عبدالمطلب (د رسول الله ☸ تره)

دا هم په ماشوم توب کې په حق رسېدلی وو او رسول الله ﷺ یې نه وو لیدلی څرنګه چې دی په ماشوم توب کي په حق رسېدلی وو نو اولاد یې هم نه وو پاتې شوی .

قثم بن عبدالمطلب (د رسول الله ﷺ تره)

دا هم د عبدالمطلب زوی او درسول الله ﷺ تره وو دا هم په خپل ماشوم توب کې په حق رسېدلی وو نه د رسول الله ﷺ او د اسلام شرف ور ته رسېدلی دی او نه ترېنه کوم خلف او اولاد پاتې شوی دی .

المغيرة بن عبدالمطلب (د رسول الله ﷺ تره)

دا هم د عبدالمطلب زوی او درسول الله ﷺ تره وو دا هم په خپل ماشوم توب کې په حق رسېدلی وو نه د رسول الله ﷺ او د اسلام شرف ور ته رسېدلی دی او نه ترېنه کوم خلف او اولاد پاتې شوی دی .



عبدالله بن عبدالمطلب (د رسول الله ﷺ والد)

نسب یې :

د پلار له لوري : عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

مور یې : فاطمة بنت عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم بن يقظة بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

په تاريخ الطبري کې نقل شوي دي چې عبد الله د رسول الله ﷺ والد د خپل پلار تر ټولو کشر زوی وو او عبدالله ، زبير او ابو طالب له یوې مور څخه وو .

مخکې تېر شول چې کله عبدالمطلب د زمزم د کوهي کېندل غوښتل نو یې قریشو ته وویل راځي لما سره مرسته وکوئ لکن هغوی دده خبره ونه منله او پدې وخت کې دده یو زوی وو الحارث نو پدې وخت کې ده ارمان وکولو چې اوس مې شپه څوانان

زامن وای نو لما سره به یې مرسته کړي وای او پدې وخت کې یې په ځان نذر کړه که چېرته الله ① ماته لس زامن راکړي نو زه به یو د الله ① لپاره قرباني کوم او ذبح کوم به یې .

کله چې یې لس زامن پوره شول نو عبدالله یا ددې امله چې لسم وو دده ذبح کول یې غوښتل او یا یې قرعه اندازي وکوله په ټولو کې دعبدالله په نوم ووتله نو یې قریش هم خبر کړل او دی یې د کعبې خوا ته را روان کړو پداسې حالت کې چې په ټولو زامنو کې ورته محبوب زوی همدا وو کله یې چې حلالولو ته راوستلو نو څرنګه چې عبدالله ډېر په ښو صفاتو باندې شکلی وو نو د هېچا زړه وربانډې نه کېدو چې دی دې ذبح کړل شي په خاصه توګه دده ماماګانو او دده سکه ورور ابو طالب او نورو قریشو په عبدالمطلب باندې ټینګار وکولو ترڅو عبدالله حلال نه کړي بیا عبدالمطلب ورته وویل نو ښه ده زه د خپل نظر سره څه وکوم ؟

یوه ښځه راغله هغې ورته وویل چې د لسو اوښانو او عبدالله په مینځ کې پچه واچوئ که په عبدالله وخته نو لس اوښان نور ورسره زیات کړئ په همدې ډول لس لس وربانډې زیاتوئ ترڅو الله ① په اوښانو رضا شي نو په اوښانو باندې به پچه ووزي او عبدالله به وساتل شي .

دا خبره د عبدالمطلب خوښه شوه او همداسې يې وكول ترڅو د سلو اوښانو او عبدالله مقابله شوه نو په سلو اوښانو باندې پچه ووتله ټول خلک ورته خوشحال شول او عبدالمطلب هم ډېر زيات خوشحال شو او په خوشحالۍ سره يې سل اوښان حلال كړل او عبدالله يې ژوندی پرېښودو او ددې امله به رسول الله ﷺ ويل زه د ذبيحينو زوی يم يو حضرت اسمعيل چې حضرت ابراهيم ؑ ته د هغه د حلالولو امر شوی وو او بل زما پلار عبدالله په نذر كې حلالېدو ته را ويستل شوی وو .

عبدالله چې كله له ذبح نه وساتل شو نو په ټولو قريشو كې د پاكې او نظيفې كورنۍ ښائست حضرت آمنه بنت وهب يې ده ته په نكاح كړه د واده نه وروسته دی د يوې تجارتي قافلې سره د شام په سفر باندې روان شو له هغې خوا نه چې را ستون شو دی بيمار شو او په مدينه منوره كې يې ماماګان وو د هغوی په ځای كې له قافلې نه پاتې شو بيماري يې اوږده شوه او د يوې مياشت بيماري تېرولو نه وروسته د هجرت نه ٥٣ كاله وړاندې په حق ورسېدو او هماغلته خاورو ته وسپارل شو تر يو څو كلونو وړاندې پورې يې قبر معلوم وو او معلوم كړل شوی وو دار النابغة نومې ځای كې وو بيا هغه نښې او نښانيانې ورځخه لرې كړل شوې او له خلكو نه ورک شو او د وفات په وخت كې نوی ځوان د پنځه ويشتو

کلونو وو کله چې عبدالمطلب دده له مرګ نه خبر شو ډېر زیات وربانډي خفه شو او د رسول الله ﷺ مور آمنه بي بي هم دده په جدايي باندي ډېره زياته و ځوريده او پدې وخت کې رسول الله ﷺ لا په حمل کې وو چې ده له دنيا نه رحلت وکولو .

او د رسول الله ﷺ نه بغير يې نور کوم اولاد نه وو .

حضرت عباس بن عبدالمطلب ❸ (د رسول الله ﷺ تره)

نسب يې :

د پلار له لوري : العباس بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان .

مور يې : نتيلة بنت جناب بن كليب بن مالك بن عبد مناف بن عمرو بن عامر بن زيد بن عبد مناة بن عامر بن سعد بن الخزرج بن تيم اللات بن النمر بن قاسط بن هنب بن أفصى بن دعمي بن جديلة بن أسد بن ربيعة بن نزار بن معد بن عدنان .

حضرت عباس ❽ د رسول الله ☸ د اسي تره وو چې له
رسول الله ☸ څخه دوه او یا دری کاله مشر وو له
وړکتوب نه د دواړو په مینځ کې مینه او خلوص
موجود وو لکن کله چې رسول الله ☸ پاک دین اسلام
ته د خلکو په راغوښتلو باندې شروع وکوله نو
حضرت عباس ❽ په اول کې خپل اسلام اعلان نه کړو
د فتح په کال باندې ئې خپل اسلام ښکاره کړو
ددې امله ځینو مورخینو دی مبارک په هغه کسانو
کې شمار کړی دی چې وروسته په اسلام مشرف شوي
دي لکن د ځینو نورو تاریخي آثارو نه ښکاره
کیږي چې دی مبارک له هغه کسانو څخه وو چې د
اسلام په شروع کې په اسلام مشرف شوي وو لکن د
رسول الله ☸ په امر او مشوره سره د حرم د خدمت
لپاره د پاتې کیدلو په خاطر ده خپل اسلام پټ
ساتلی وو حضرت رافع ❽ د رسول الله ☸ خادم وو
هغه فرمایي زه د حضرت عباس ❽ غلام وم د اسلام
په سر کې زمونږ کور ته اسلام را ننوتلی وو
حضرت عباس ❽ مسلمان شوی وو بیا ام الفضل
ایمان قبول کړو او مسلمانه شوه او بیا زه هم
مسلمان شوم او حضرت عباس ❽ خپل اسلام پټ
ساتلی وو .
د هغه مورخینو له نظره چې هغوی وایي حضرت
عباس ❽ په هغه مسلمانانو کې دی چې د اسلام په
اول کې په اسلام مشرف شوي وو د هغوی له نظره

حضرت عباس 8 د بدر له غزا څخه لا پخوا په اسلام مشرف شوی وو لکن خپل اسلام یې پټ ساتلی وو لکن قریشو به هروخت دده په حرکاتو باندې شک کولو لکن داسې څه لاره یې نشوای پیدا کولی چې ده ته یې ښکاره خبره کړې وای او یا یې له ده څخه په ښکاره سره پوښتلي وای لکه چې په روایاتو کې راغلي دي رسول الله ﷺ حضرت عباس 8 ته امر کړی وو چې په مکه کې دې پاتې شي او په مکه کې حاجیانو او د حرم خدمت چې د بني هاشم د کورنی وظیفه وه ده ته ورپاتې وو او کول یې غوښتل .

کله چې د عقبې د دوهم بیعت په مهال له مدینې منورې نه مکې مکرمې ته د حج په وخت کې ۷۳ کسان نارینه صحابه ﷺ او دوه زنانه رضی الله تعالی عنهما ددې لپاره مکې ته لاړل چې د رسول الله ﷺ سره بیعت وکوي او هغه ته ډاډ ورکړي که هغه ﷺ مدینې منورې ته هجرت کول غواړي نو دوی تیار دي چې هغه ﷺ په هر قیمت وساتي نو د ددې خبرې راز رسول الله ﷺ صرف خپل تره عباس 8 ته وویل ځکه حضرت عباس 8 داسې کس وو چې رسول الله ﷺ ورباندې په هر ډول حالت کې اعتماد کولو د هغه صحابه وو سره د عقبې سره د نیمې شپې د پټ ملاقات وعده وکول شوه دوی راغلل د رسول الله ﷺ

انتظار یې کاوه چې رسول الله ﷺ د خپل تره حضرت عباس رضي الله عنه سره په یو ځای هلته ورغلو او ټولو صحابه وو ۷۳ نارینه او دوو زنانه وو یو یو د رسول الله ﷺ سره د پوره وفا او ایمانداري او تر آخره وسه پوري د ده ﷺ نه د دفاع کولو بیعت وکولو حضرت عباس رضي الله عنه دي انصارو مسلمانانو ته خبري کولې ورته یې وویل (ای د خزرج خلکو تاسې ته معلومه ده چې محمد ﷺ زمونږ له ډلې څخه دی او مونږ دی له خپل قوم څخه ساتلی دی زمونږ سره چې دی اوسي څوک ورته څه نشي ویلی او په خپل قوم کې د عزت خاوند دی او په خپله خوا کې داسې کسان لري چې له ده څخه دفاع وکوي لکن اوس دی تاسې ته درتلل غواړي او لتاسې سره پیوست کېدل غواړي که چېرته تاسې ته ښکاره کیږي چې تاسې له دوی سره خپلې کړې وعدې رښتیا کولئ شئ او هغه کسان چې دده په خلاف وي تاسې دی له هغوی څخه ساتلئ شئ نو بیا صحیح ده او که تاسې دی وروسته ددې چې تاسې ته درشي دی شکته کول غواړئ او دده مرسته نشئ کولی نو د همدې اوس وخت نه یې پرېږدئ دی دلته ښه په عزت کې دی او دلته دده په قوم کې دومره کسان شته چې له ده څخه دفاع وکوي) حضرت عباس رضي الله عنه چې په شپه کې دا خبري کولې سترګې یې د انصارو په مخونو کې خښولې او د هغوی مخونو ته به یې کتل

او دهغوی د مخ تاثیر به یې څارلو چې معلومه کړي دوی به د رسولالله ﷺ سره وفا وکوي او که الله ① مه کړه هسې دوکه ده ..

او حضرت عباس ؓ خپلو خبرو ته دوام ورکړو او د پوره ذکاوت او زیرکتیا نه یې کار واخیستو دوی ته یې وویل چې تاسې له جنګ سره مخ شئ تاسې پوهېږئ چې د خپل دشمن سره څنګه جنګ وکوئ؟ نو دده زیرکتیا ددېنه معلومیږي چې دی اوس پدې خبره پوهېدو چې د اسلام او د کفر جنګ به واقع کیږي نو یې ورته وویل : آیا که جنګ واقع شي انصار به د رسول الله ﷺ له لوري نه وجنګیږي ؟ پدې وخت کې عبدالله بن عمرو بن حرام ورته ځواب ورکول غوښتل او ورته یې وویل : قسم د په الله وي مونږ دهغه کسانو څخه یو چې مونږ پوهېږو جنګ څنګه وکوو مونږ له ډېرو جنګونو څخه تېر شوي یو او په پښت پښت له پلرونو څخه راته پاتې شوی دی مونږ په غیشو ویشتل کوو ترڅو ختم شي بیا په نیزو باندې وهل کوو ترڅو ماتې شي بیا په تورو باندې جنګ کوو ترڅو مونږ مړه کړي او یا دشمن مړ کړو ..

حضرت عباس ؓ ورته وویل : صحیح ده چې تاسې د جنګ خلک یاست په تاسې کې زغرې شته؟

دوی ورته وویل : هو زمونږ سره مختلف ډوله زغرې دي ... بیا د رسول الله ﷺ او د انصارو

مسلمانانو په مینځ کې خبرو ادامه پیدا کړه کله به چې بیا وروسته په مدینه منوره کې د هغه شپې د خبرو ذکر کېدو نو رسول الله ﷺ به ویل په هغه شپه باندې زما تائید په حضرت عباس رضی الله عنه سره شوی وو .

لکه مخکې چې تېر شول سره ددې چې حضرت عباس رضی الله عنه خپل اسلام پټ ساتلی وو لکن د قریشو ورباندې شک وو چې دی پټ مسلمان شوی دی ترڅو چې د بدر وخت راغلو او د امتحان کولو لپاره بهترینه موقع وه نو یې دی هم مجبور کړو چې له دوی سره باید د بدر مقام ته جنګ ته لاړ شي او داسې جنګ په ده باندې اوس تحمیل شو چې نه ده غوښتل او نه یې په عقیده کې دا وو چې دا جنګ کول ښه کار دی کله چې د بدر په میدان کې صفونه سره مخامخ شول جنګ خپلې لحظې سختې کړې نو رسول الله ﷺ آواز وکولو ویل یې (زه خبر شوی یم چې ځینې خلک د بني هاشم او نورو څخه په زور را ویستل شوي دي هغوی له مونږ سره جنګ کول نه غواړي څوک چې د هغوی سره مخامخ شول مه یې وژنئ څوک چې د ابو البختري سره مخامخ شي هغه د نه وژني ، څوک چې د عباس بن عبدالمطلب سره مخامخ شي هغه د نه وژني دا په زور جنګ ته راوستل شوي دي .

ابو الیسر دده په اړه فرمایي چې د بدر په میدان کې مې پیدا کړو لکه بت داسې ولاړ وو او

له ستركو نه يې اوښكې را رواني وې ما چې وليد ورته مې وويل الله ① دې درته له خپلوان نه جزا دركړي ته د خپل وراره سره جنګ كوې او دهغه د دښمن مرسته كوې؟ ده راڅخه پوښتنه وكوله څه وشول؟ هغه ته خو به مرګ نه وي رسېدلی؟ ما ورته وويل الله ① دهغه ساتونكی او ناصر دی ده راڅخه وپوښتل اوس ته لما څه غواړې؟ ما ورته وويل زه تا بندي كول غواړم رسول الله ﷺ ستا له وژلو څخه منع كړېده ... ده راته وويل : د رسول الله ﷺ دا له مونږ سره اوله مهرباني نه ده بيا مې را ونيولو او رسول الله ﷺ ته مې راوستلو رسول الله ﷺ را څخه پوښتنه وكوله يا ابا اليسر دا دې څنګه ونيولو؟ ما ورته وويل : يو كس را سره مرسته وكوله چې نه مې تر دې دمه لا وړاندې ليدلی وو او نه مې وروسته بيا وليدو په داسې داسې ډول وو (دهغه كس صفات مې ورته وويل) كله چې حضرت عباس ❽ ژوندی نيول شوی وو او د بنديانو په ټولي كې ولاړ وو نو رسول الله ﷺ خرنګه چې له ده سره زياته مينه كوله نو ددې امله رسول الله ﷺ ته خوب نه ورتلو چا ورڅخه دده د ناقرارې د وجې پوښتنه وكوله ده ﷺ ورته وويل : د عباس د ځنځير آواز مې تر غوږ كېږي نا قراره كوي مې يو مسلمان ورپاڅېدو د حضرت

عباس زنځير يې پرې خلاص کړو کله چې ده ته وويل شول چې حضرت عباس ❽ اوس تړلی نه دی نو ده امر وکولو چې ټول بنديان خلاص کړئ ځکه ده نه غوښتل چې د عامو بنديانو او د حضرت عباس ❽ دې فرق وي .

کله چې په بنديانو باندې فديه مقرره شوه نو حضرت عباس ❽ ورته وويل (يا رسول الله ﷺ زه خو مسلمان وم لکن قريشو زه په زور جنګ ته راوستم) رسول الله ﷺ ورته وويل : (الله ① ستا په اسلام باندې خبر دی که داسې وي لکه ته چې وايې نو الله ① به يې اجر او عوض درکړي لکن په ښکاره کې خو ته زمونږ د دشمن په ډله کې وې د خپل ځان فديه هم ورکړه، د خپلو دوو وريرونو نوفل بن حارث بن عبدالمطلب او عقيل بن ابي طالب بن عبدالمطلب فديه هم ورکړه او د خپل ملګري عتبة بن عمرو بن جحدم فديه هم ورکړه) ده وويل (دومره پيسې لما سره نشته يا رسول الله ﷺ) رسول الله ﷺ د معجزې په ډول هغه ته وويل (ولې هغه مال څه شو چې تا او ستا کور واله ام الفضل پټ په يو ځای کې خښ کړو بيا دې ورته وويل که پدې سفر کې په ما څه وشول دا مال به زما د زامنو فضل ، عبدالله او قثم لپاره وي؟) ده ورته وويل : (والله يا رسول الله زه پوهېږم چې ته د الله ① رسول يې او دا يوه داسې خبره وه چې

زما او ام الفضل نه بغیر وربانديږ نور هیڅوک نه وو خبر .. بیا یې د خپل ځان او وریرونو او خپل حلیف تولو فدیه ورکړه رسول الله ﷺ ورته دعا وکوله مونږ ته دي حساب را پوره کړو الله ① یې د تاته در پوره کړي څرنګه چې دی مسلمان وو نو د رسول الله ﷺ د دعا قدر یې کولو او وربانديږ خوشحال کېدو او بیا وروسته دی هم فرمایي چې ماته الله ① ددي ډیر ښه عوض راکړو الله ① راته شل غلامان راکړل ټول د کار خلک وو او ددي سره زه د الله ① مغفرت او بښنه هم د ځان لپاره غواړم نو داسي حضرت عباس د خپل ځان او د دریو کسانو نورو فدیه ورکړه او مکې ته راغلو ددېنه وروسته به قریشو په ده باندې هیڅ ډول شک نه کولو او نه به یې دی تنګولو څکه څنګه وضع چې د عامو بندیانو سره شوې وه همداسي له دوی سره هم شوې وه

کله چې په حنین کې په مسلمانانو باندې هغه وخت حالات ډیر سخت شول چې د دښمن د کمین سره مخامخ شول او هغوی په مسلمانانو باندې په یو دم شروع وکوله او مسلمانان یې شا تګ ته اړ ایستل نو رسول الله ﷺ په خپله سپینه قچره باندې سپور وو خلکو ته یې آواز وکولو (ای خلکو زما خوا ته راشئ زه رښتونی نبي او د عبدالمطلب زوی یم) پدې ساعت کې ډیر کم کسان د رسول الله

ﷺ سره په خوا کې جنګ او له رسول الله ﷺ څخه دفاع ته ټینګ شول د هغه کسانو په سر کې حضرت عباس ؓ هم وو کله چې رسول الله ﷺ ده ته وویل چې انصارو او نورو مجاهدینو ته په لوړ آواز سره چغه وکوه چې دېخوا ته راشي نو الله ﷻ چې ده ته ډېر شکلی او لوړ آواز ورکړی وو نو په خپل آواز سره یې چیغه کړه (ای انصارو مجاهدینو ای هغه کسانو چې د رسول الله ﷺ سره مو په جهاد او نه تېښته باندې بیعت کړی دی) کله چې مجاهدینو دا آواز واورېدو ټولو ویل (لبیک لبیک) او د رسول الله ﷺ لوري ته یې ورمنډه کړه او لږ ساعت نه وو تېر چې د رسول الله ﷺ په ماحول کې اویا کسان فدایان را ټول شول او نور هم بېرته د رسول الله ﷺ لور ته را روان شول د یو څو لحظو سخت جنګ نه وروسته د جنګ نقشه بدله شوه کفارو ماتې وخوړه الله ﷻ مسلمانانو ته فتح ورکړه .

رسول الله ﷺ یو ځل د خلکو نه پوښتنه وکوله : د زمکې په مخ باندې الله ﷻ ته تر ټولو ګران څوک دي؟ ورته وویل شول ته یا رسول الله ﷺ بیا ده وویل حضرت عباس له ما څخه دی او زه له عباس څخه یم ، هغه کسان چې مړه شوي دي هغوی ته شکنځل مه کوئ ژوندیو ته وربانـدې تکلیف رسیږي (یعني ابي لهب اګر که د کفر په حالت کې مړ دی

هغه ته شکنځل مه کوئ دوه زامن او یوه لور یې اوس صحابه دي هغوی پرې خفه کیږي ابو جهل اګر که د کفر په حالت کې ووژل شو لکن زوی یې حضرت عکرمة 8 بن ابي جهل اوس جليل القدر صحابي دی هغه پرې خفه کیږي .

د حضرت عمر 8 په زمانه کې چې یو کال سخته وچ کالي شوه ډېر وخت باران نه وو شوی خلک سخت وارخطا وو باران نه کېدو نو مسلمانان د باران غوښتلو لپاره دښتې ته ووتل حضرت امیر المؤمنین عمر فاروق 8 د حضرت عباس 8 ښی لاس په لاس کې ونیولو او دعا یې وکوله ویل یې : ای الله ① مونږ به ستا دنبي په ستركو باران غوښتو هغه وخت هغه زمونږ په مینځ کې وو اوس هغه زمونږ په مینځ کې نشته ای الله ① اوس یې د رسول الله ☸ د تره حضرت عباس 8 په ستركو درخخه غواړو ا ی الله ① په مونږ باندې باران وکوه خلک په دې ځای کې له دعا او مانځه څخه نه وو فارغ شوي چې په شنه اسمان کې وريځې سره را تولې شوې او باران شروع شو خلکو تولو حضرت عباس 8 ته غاړې ورکولې او هغه یې ښکلولو .

د جمعې په ورځ د رجب په ١٤مه نېټه د هجرت په ٣٢ کال یو آواز وشو : الله ① د په هغه کسانو باندې رحم وکوي چې عباس بن عبد المطلب یې لیدلی وو ... ددې آواز مطلب دا وو چې هغه

وفات شو پدې وخت کې دده مبارک عمر ۸٦ کاله وو خلک را ووتل چې په جنازه کې يې شرکت وکوي ډېر زيات خلک را ټول شوي وو دريم خليفه حضرت عثمان بن عفان ❽ يې د جنازې مونځ وکولو او په بقيع کې خاورو ته وسپارل شو .

دده مېرمن حضرت ام الفضل رضی الله تعالی عنها (لبابة بنت الحارث بن حزن) د حضرت ام المومنين حضرت سيده ميمونة رضی الله تعالی عنها خور وه الله ① ورته لس زامن ورکړي وو .

الفضل بن عباس، عبدالله بن عباس، عبيد الله بن عباس، قثم بن عباس، عبد الرحمن بن عباس، معبد بن عباس، الحارث بن عباس، کثير بن عباس، عون بن عباس او تمام بن عباس .

الفضل بن عباس 8 (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

دا حضرت الفضل بن عباس بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف القرشي الهاشمي وو په ابو عبدالله او ابو محمد سره هم يادېدو مور يې ام الفضل لبابة بنت الحارث د رسول الله ﷺ د بي بي حضرت ام المومنين ميمونة رضى الله تعالى عنها خور وه او حضرت عباس 8 ته هم دده له امله ابو الفضل او مور ته يې ام الفضل ويل کېدل د حضرت عباس 8 په اولادونو کې تر ټولو مشر وو .

دده په اړه ويل کيږي کله چې حضرت ابراهيم د رسول الله ﷺ ماشوم زوی په حق رسېدلی وو غسل هم ده ورکړی وو او قبر ته هم ده پخپله داخل کړی وو او اسامة بن زيد ورسره مرسته کړې وه .

دی هم له هغه کسانو څخه وو چې د حنين په جنګ کې په هغه وخت کې چې مسلمانانو ماتې وخوړه له رسول الله ﷺ څخه نه وو تښتېدلي د حضرت علي بن ابي طالب نه په مسند امام احمد بن حنبل کې روايت نقل شوی دی چې رسول الله ﷺ په اوښه باندې سپور وو په عرفات کې پداسې حالت کې ولاړ وو چې

الفضل ؓ یې شا ته پسې سپور کړی وو (حضرت الفضل ډېر ښائسته د سپین مخ او تورو ویښتانو مالک وو) یوه ځوانه ښځه رسول الله ﷺ ته راغله ورته ویل یې یا رسول الله زما پلار زوړ سړی دی او حج وربانديې فرض شوی دی لکن هغه حج نشي کولی داسې کېدای شي چې زه یې د هغه په ځای وکوم؟ رسول الله ﷺ ورته وویل : هو ! حضرت الفضل بن عباس ؓ په هغه ښځه پسې کتل رسول الله ﷺ یې په مخ باندې لاس ور کېښودو او دهغه مخ یې له ښځې څخه واړولو .

وروسته بیا چا ورڅخه پوښتنه وکوله : یا رسول الله ﷺ مونږ ته ولیدې چې د الفضل بن عباس مخ دې ډېر په تېزی سره دهغه ښځې له خوا څخه واړولو؟ ده ورته وویل ځکه چې هغه یوه ځوانه ښځه او دا یو ځوان هلک وو نو زه وډار شوم که دا ورته وګوري هسې نه چې د دوی دواړو په مینځ کې شیطان ورننوزي .

دا مبارک هغه کس وو چې د رسول الله ﷺ سره په حنین کې په غزوة کې شریک وو په حجة الوداع کې ورسره شریک وو او کله چې رسول الله ﷺ وفات شو حضرت علي ؓ ورته غسل ورکولو او ده مبارک ؓ اوبه وربانديې اچولې .

ﷲ ① په علم الحديث کې ورته ښه مهارت ورکړی وو او لاندې کسانو ورڅخه روايت کړی دی او په علم الحديث کې دده مبارک ❽ شا ګردان وو .
ربيعة بن الحارث بن عبد المطلب.

رفيع بن مهران.

سليمان بن يسار.

عامر بن واثلة.

عباس بن عبيد الله بن عباس القرشي الهاشمي.

أبو هريرة (عبد الرحمن بن صخر).
عبد الله بن عباس بن عبد المطلب القرشي الهاشمي.
عكرمة مولى ابن عباس.
كريب بن أبي مسلم مولى ابن عباس.

د مجاهدينو په قافله کې د شام لوري ته ووتلو هلته د لګېدلي وبا له امله د هجرت په ١٨ کال د حضرت عمر الفاروق ❽ د خلافت په زمانه کې وفات شو اولادونه تري نه وو پاتې صرف يوه لور يې وه ام کلثوم نومېده او حضرت حسن بن علي ❽ په نکاح کړي وه بيا يې په مينځ کې جدايي راغله بيا حضرت ابو موسى الاشعري رحمه الله په نکاح کړه .

حضرت عبدالله بن عباس (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

داحبر الأمة ، فقیه العصر ، إمام التفسیر حضرت عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف وو او مور یې ام الفضل لبابة بنت الحارث وه

مېرمن یې شمیلة بنت أبي حناءه بن أبي أزیهر بن أنیس بن الخیسق بن مالك بن سعد بن كعب بن الحارث بن عبد الله بن عامر بن بکر بن یشکر بن مبشر بن صعب بن دهمان بن نصر بن زهران.

رسول الله ﷺ ورته په ماشوم توب کې حبر الامة لقب ورکړی وو کله چې رسول الله ﷺ وفات کېدو دده عمر ۱۳ کاله وو د رسول الله ﷺ ډېر زیات حدیثونه یې روایت کړي دي او ټولو صحابه وو به د استاذ په نظر ورته کتل په مکه مکرمه کې تر هجرت ۳ کاله وړاندې پیدا شوی وو لوی بخت الله ① ورته دا ورکړی وو چې رسول الله ﷺ به هروخت ورته دعا کوله چې الله ① دي دده جوف له علم نه ډک کړي الله ① د دی نیک کړي چې وړوکی وو رسول الله ﷺ به خان ته رانېږدې کړو وبه یې ویل :

اللهم فقهه في الدین وعلمه التأویل (ای الله ① په دین کې یې پوه کړه او په علم التاویل کې ورته

مهارت ورکړه) د رسول الله ﷺ سره د دومره کم عمر سره سره او د ماشوم توب د ددوري سره ده له رسول الله ﷺ نه ۱۶۶۰ احاديث روايت کړي دي .

د دين د طلب په اړه دی 8 خپله فرمايي :کله چې رسول الله ﷺ وفات شو په انصارو کې زما يو ملګری وو هغه ته ما وويل چې اګر که رسول الله ﷺ وفات شو خو په غټ تعداد صحابه اوس هم زمونږ په مينځ کې دي مونږ به هغوی ته ورځو او ددوی نه به ديني علوم زده کوو ، هغه راته وويل چې په دې موجوده صحابه وو کې به څوک داسې وي چې هغه تا ته علم در وښيي؟ هغه اصلي د علم او برکت سرمايه (رسول الله ﷺ) خو لاړو ددې خبرو سره زما حوصله ماته نه شوه ما بيا هم کوښښ شروع کړو چې په هرځای کې به خبرېدم چې چا له نبي کريم ﷺ نه څه آورېدلي دي دهغه خواته به ورتلم پدې سره زه و توانېدم چې د انصارو نه مې ډېر معلومات را غونډ کړل او کله به چې په دې دوران کې کوم صحابي ته ورغلم او هغه به ويده وو ما به يې په دروازه کې خپل څادر خپور کړو او په انتظار به ورته کېناستم کله به داسې هم شول چې زما ځان او مخ به له ګرد نه خړ شول بيا به هم ما تر هغه وخته پوري صبر کولو چې هغه به را پاڅېدو او ما به ورسره رابطه وکوله په هغوی کې به ځينو راته ويل چې

ای عبدالله ته خو د رسول الله ﷺ د تره زوی یې تا به څوک رالېږلي وو (بیا به مونږ درغلي وو) تا زمونږ ځای ته د راتلو تکلیف ولې کولو؟ ما به ورته ویل چې نه زه باید خامخاپه تاسې پسې راشم ځکه زه یو شاګرد او تاسې زما استاذان یاست یو کس چې ما ورته له اوږده وخت نه انتظار کولو لما پوښتنه وکوله چې له څه وخت نه انتظار یې؟ ما ورته وویل چې کافي اوږد وخت وشو چې دلته مې ستا د راتلو په تمه انتظار کولو هغه وویل څومره د افسوس خبره ده ! خو څوک به دي رالېږلو وو زه به دي را وېښ کړی وم ما ورته وویل چې ما تاته زما د ضرورت له امله تکلیف درکول نه غوښتل ما دا خپل کوښښ په همداسې توګه روان وساتلو تردې چې د خلکو د زده کړې لپاره زما لوري ته مخه کړه زما انصاري ملګري له هغه وخت نه دا خبره په خپل ذهن کې ساتلې وه او په ما پسې متوجه شوی وو او بیا یې ویل چې دي هلک یقیناً خپل ځان له مونږ نه هوښیار ښکاره کړو .

دده د فراخه علمیت له امله دده ته بحر ویل کېدو کله به چې پوښتنه تري وشوه که د هغه خبرې ځواب به په قرآن کریم کې وو ده به ورته وویل او که به په حدیثو کې وو ده به له هغه ځای نه ورته وویل او که پدې دواړو کې به نه وو نو د کوم صحابي په سیرت کې به وو نو له هغه ځایه به یې ورته وویل او که پدې اړه پدې

دریو واړو کې څه معلومات نه وو نو په خپله رایه به یې ډېر ښه او اطمنان کونکی ځواب ورکړو .

او ده ❽ به خپله کله فرمایل د تفسیر په اړه لما څخه پوښتني وکوئ الله ① ماته داسي ژبه راکړي سوالونه به مې ډېر زيات کول الله ❽ داسي زړه راکړی دي چې ډېر ښه پوهيږي .

حضرت سعد بن ابي وقاص ❽ دده په اړه فرمايي : ما تر حضرت عباس ❽ نه زيات څوک زر پوهېدونکي نه دي ليدلي ډېر زر به پوهېدو او ډېر زر به يې د کومې خبرې ځواب ورکولو حضرت عمر ❽ به په کوم مشکل وخت کې په داسي حالت کې د کومې مشورې لپاره را وغوښتو چې بدريان صحابه کرام به ورڅخه تاو وو ده ❽ به ډېر په زړورتيا سره خپله رايه وړاندې کړه او حضرت عمر ❽ به هم دده له رايي څخه نه تېرېدو .

دده ❽ په اړه ويل کيږي کله به يې چې خبرې کولې نو تا به ويل چې په ټولو خلکو کې زيات فصيح دی او کله به يې چې کوم روايت او يا قصه کوله نو تا به فکر کولو چې په ټولو خلکو کې زيات بليغ دی .

حضرت عبد الله بن عمر ❽ دده په اړه فرمايي ابن عباس أعلم الناس بما أنزل على محمد (هغه څه چې

په محمد ﷺ باندې نازل شوي دي ابن عباس په هغه باندې تر ټولو خلکو نه ښه پوهيږي) .

امام مجاهد رحمه الله فرمايي ما به چې ابن عباس ؓ ته کتل چې د قرآن کريم تفسير به يې کولو تر مخ به يې نور خپريدو .

ده به خپله ويل چې ماته به کوم شی نوی ښکاره شو ددې لپاره چې زما وربانديې پوره يقين جوړ شي نو لږ تر لږه د دېرشو کسانو صحابه وو څخه به مې د هغه کار په اړه پوښتنه کوله .

دده په اړه عبدالله بن عبدالله بن عتبة فرمايي ابن عباس ؓ په څو خويونو کې له خلکو نه وړاندې وو داسې علم ورسره وو چې له بل چا سره نه وو ، داسې رايه يې وه چې څنګه رايې ته به ضرورت وو، ښکلې نرمي يې درلوده، دعالي نسب خاوند وو د رسول الله ﷺ په احاديثو باندې تر ده څخه ښه عالم ما بيا نه دى ليدلى ترده څخه د ښې رايې مالک ما نه دى ليدلى نه مې تراوسه څوک ليدلي دي چې په شعر باندې له ده څخه ښه پوهيږي او نه مې داسې څوک ليدلي دي چې له ده څخه په عربيت باندې ښه پوه وي او نه مې د قرآن کريم په تفسير کې له ده څخه غوره پوه څوک ليدلي دي او نه په علم الحساب کې له ده څخه څوک غوره پوهېدل او کله به چې کومې رايې ته ضرورت وو نو تر ده څخه د ښې رايې مالک ما نه دى ليدلى کله به داسې وشول چې دى مبارک به يوه ورځ

ناست وو بغیر د فقه نه به یې بله خبر نه کوله او یوه ورځ به کېناستو په ټوله ورځ کې به یې د علم التاویل نه بغیر بله خبره نه کوله او کله به چې کېناستو ټوله ورځ به یې په مغازي باندې بحث کاوه او یوه ورځ به یې په شعر باندې خبرې کولې او یوه ورځ به یې د عربو په ورځو او تاریخ باندې خبرې کولې ما تر اوسه داسې عالم نه دی لیدلی چې دده په مخ کې ناست وي مګر ده ته یې عاجزي نه وي کړې او ما تر اوسه داسې سوال کونکی ونه لیدو چې له ده ځخه یې پوښتنه کړې وي او ده هغه ته ځواب نه وي ویلی .

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمایي ماته یوه ورځ پلار امر وکولو چې نن شپه به ته د رسول الله ﷺ سره په کور کې کوې زه جومات ته لاړم د ماسخوتن له مانځه نه خلک خپاره شوي وو رسول الله ﷺ د مانځه ځخه وروسته وکتل په جومات کې هېڅوک هم نه وو بیا چې زما په خوا کې تېرېدو پوښتنه یې وکوله دا څوک دی؟ ما ورته وویل : عبدالله یم رسول الله ﷺ را ځخه پوښتنه وکوله : د څه لپاره تراوسه دلته پاتې یې؟ ما ورته وویل : والد مې 8 راته وویل چې نن شپه زه باید لتا سره وکوم .. ده ﷺ راته وویل نو ښه ده راځه را سره چې کله کور ته ننوتلو نو د کور خلکو ته یې وویل عبدالله ته بستره واچوئ

بیا یو بالښت ماته راکړل شو لکن ماته مې پلار ویلي و چې ته به ددې لپاره هلته شپه کوې چې د رسول الله ﷺ د شپې مونځ وګورې او زده یې کړې .
ما رسول الله ﷺ ځارلو هغه ویده شو بیا لږ وخت چې تېر شو را پاڅېدو په خپله بستره مبارکه باندې کېناستو سر مبارک یې اسمان لوري ته پورته کړو درې ځله یې وویل : سبحان الملک القدوس بیا یې د سورت آل عمران آخري آیتونه ولوستل ترڅو چې سورت وربانديې ختم شو بیا یې د سورة بقرة ١٦٤ آیت تلاوت کړو بیا پاڅېدو قضاء حاجت یې وکولو مسواک یې ووهلو بیا یې اودس وکولو او هغه ځای ته لاړو چېرته به چې ده مبارک ﷺ مونځ کولو دوه رکعته مونځ یې وکولو نه ډېر اوږد وو او نه ډېر لنډ وو درمیانه رکعتونه وو بیا یې وتر وکول او بیا یې دعا شروع کړه ما آورېدل چې ده ویل :

اللهم اجعل في بصري نورًا، واجعل في سمعي نورًا، واجعل في لساني نورًا، واجعل في قلبي نورًا، واجعل عن يميني نورًا، واجعل عن شمالي نورًا، واجعل أمامي نورًا، واجعل من خلفي نورًا، واجعل من فوقي نورًا، واجعل من أسفل مني نورًا، واجعل لي يوم القيامة نورًا، وأعظم لي نورًا.

حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما چې د رسول الله ﷺ په ژوند کې وړوکی ماشوم وو دی رضي الله عنهما فرمایي رسول الله

☸ ته کسری یوه قچره ورکړې وه په هغه باندې سپور شو زه یې ورپسې شا ته کېنولم مونږ روان شوو یو څه وخت چې تېر شو ماته یې وویل : هلکه ما ورته وویل لبیک یا رسول الله ☸ ده راته وویل :

ته الله ① یاد ساته الله به تا وساتي ، الله ① یاد ساته هغه به هروخت ته له ځان سره مومې الله ① ته ځان په راحت کې نېږدې کړه ① به په زحمت کې درسره مرسته وکوي کله د چې څه غوښتل نو الله ① نه غواړه ، کله د چې مرسته غوښته نو له الله ① نه مرسته غواړه هغه څه چې کېدونکي دي دهغې قلم وهل شوی دی که خلک ټول کوښښ وکوي چې تاته فایده ورسوي هغه فایده تاته نشي رسولی چې ا لله تاته نه وي لیکلي او که خلک ټول وغواړي چې تاته داسې ضرر ورسوي چې الله ① ستا لپاره نه وي لیکلی نو نه یې شي درته رسولی که د په وس پوره وه چې د یقین او صبر سره یو کار وکوې نو ویې کوه او که د په وس نه وه پوره نو صبر کوه ځکه په صبر کې سره ددې چې ستا خوښ نه وي ډېر زیات خیر دی پدې پوه شه چې له صبر سره نصر شته او پدې پوه شه چې د تنګي سره فراخي شته او پدې پوه شه چې له سختي سره اساني شته .

حضرت عبدالله بن عباس ❽ ډېر حاضر ځوابه وو ډېر ښه ذکاوت يې درلود او چا به چې ورسره خبرې کولې څرنګه چې دده علم په هرڅه کې ډېر فراخ وو نو قناعت يې ډېر ښه ورکولی شول يوه ورځ چې د حضرت علي ❽ له لوري نه خوارجو ته ورغلو او د هغوی سره يې خبرې کولې دده ❽ او د هغوی په مينځ کې دليلونه شروع شول نو ده ❽ له هغوی نه پوښتنه وکوله چې تاسې د حضرت علي ❽ مرګ ځان ته ولې حلا ل ګڼئ ؟

هغوی ورته وويل د دريو خبرو له امله .

١. اول دا چې ده په يو ځای کې فيصله خلکو ته په لاس ورکړه او خلکو چې کومه فيصله وکوله هغه ده منظوره کړه او الله ① حکم کوي چې فيصله به صرف په ما انزل الله سره کيږي.

٢. ده د جمل په واقعه کې جنګ وکولو د څه خلکو سره او کاميابي دده په لوري شوه نو په هغه جنګ کې نه ده بنديان ونيول او نه يې په غنيمت مال ونيولو که چېرته هغه جنګ ده ته روا وو نو بيا دهغوی مالونه او د هغوی ښځې د بنديانو په شکل کې دا هرڅه ده ته غنيمت وو او که دا هرڅه دده لپاره غنيمت نه وو نو بيا يې معنی داده چې هغوی مسلمانان وو نو بيا يې جنګ ورسره ولې کولو؟

٣. کله چې د څه کسانو سره دده صلح کېده نو هغوی تري وغوښتل چې ته به دلته ځان امير

المؤمنين نه گنې بيا به مونږ لتا سره خبره كوو او كه مونږ ومنو چې همدا ته امير المؤمنين يې نو بيا خو څه خبره پاتې نه شوه نو دى پدې رضا شو چې صحيح ده زما د نوم سره به امير المؤمنين نه ليكل كيږي نو چې دى امير المؤمنين نشو نو بيا خو امير الكافرين شو .

حضرت عبد الله بن عباس ❽ دوى ته د يوې يوې خبرې ځواب پدې ډول وويلو :

١. كه په يو ځاى كې ده له خلكو نه فيصله وغوښته نو پدې كې څه مشكل دى الله ① پخپله په قرآن كريم كې فرمايي كه چېرته تاسې د حرم په ساحه كې ښكار وكولو او بيا مو دهغې قيمت معلومول غوښتل چې دهغه په ځاى تاسې فديه وركړئ نو دوه كسان به پيدا كړئ چې هغه تاسې ته دهغې قيمت معلوم كړي نو د مثال په توگه د يوې هوسى په حق كې چې په حرم كې ووژل شوه دوه كسان فيصله كولى شي نو ولې كه چېرته د څه كسانو په فيصله باندې د انسانانو د وينې تويېدل بنديږي نو په دې ځاى كې كه انسانان فيصله وكوي دا بده خبره ده؟

٢. د جمل په واقعه كې د حضرت علي ❽ مقابل لوري كې حضرت ام المومنين عائشه رضى الله تعالى عنها وه چې حضرت علي ❽ په عزت كې مدينې منورې ته را ولېږله نو ولې ستاسې دا مطلب دى

چې ام المؤمنين به هغه وينزه كړي وه او بندي كړي به يې وه؟

۳. تاسې وایاست چې په يوه فيصله کې ده له ځان څخه د امير المؤمنين لقب لرې کړو نو تاسې ته ياد نه دي چې په صلح الحديبية کې مشرکينو رسول الله ﷺ ته وويل چې ته به د صلح په ليک کې داسې نه ليکې چې دا تړون د محمد رسول الله له لوري نه د قريشو سره کيږي ځکه مونږ چې ومنو ته رسول الله يې نو بيا څه پاتې شول .... بلکه داسې به ليکې چې محمد بن عبد الله نو په هغه ځاى کې بيا همداسې وليکل شول نو ستاسې څه مطلب دى چې صرف ددې تکې د نه ليکلو سره رسول الله ﷺ بيا رسول الله پاتې نه شو او حال دا چې رسول الله ﷺ په هماغه ځاى کې دوى ته وويل : زه د الله رسول يم اګر که تاسې يې ونه منئ (1).

د خوارجو او حضرت عبد الله بن عباس ؓ په مينځ کې خبرې په همدې ډول روانې وې او ده مبارک ؓ ورته همداسې دليلونه وړاندې کول تردې چې شل زره کسانو د حضرت عبد الله بن عباس ؓ په دليلونو قناعت وکولو او د حضرت علي ؓ له دښمنې څخه يې لاس واخيستو او دهغه ؓ اطاعت يې شروع کړو.

حضرت عبد الله بن عباس ❽ فرمايي كله چې ته د بادشاه يا بل داسي لوی كس مجلس ته ورغلې او ته ډاريدلې چې د هغه تاثير په تا باندې ونه غورځيږي او يا هغه په تا باندې زياتی ونه كوي نو دری ځله شكتنی دعا ولوله ته به د هغه تر تاثير لاندې او د هغه تر ظلم لاندې هم نه راځې :

الله أكبر، الله أكبر من خلقه جميعًا، الله أعز مما أخاف وأحذر، أعوذ بالله الذي لا إله إلا هو، الممسك السموات السبع أن تقعن على الأرض إلا بإذنه من شر عبدك (...........) (د هغه كس نوم به پكې ياد كړې) وجنوده وأتباعه وأشياعه من الجن والإنس، إلهي كن لي جارًا من شرهم، جل ثناؤك، وعز جارك، وتبارك اسمك، ولا إله غيرك .

ترجمه : الله ① لوی دی الله ① تر ټولو مخلوقاتو څخه لوی دی الله ① تر هغه څه نه ډير د عزت مالک دی چې زه تري نه ډاريږم او ويريږم زه پناه غواړم په هغه ذات باندې چې د هغه نه بغير د عبادت وړ نشته هغه ذات چې اوه اسمانونه يې په زمكه باندې بغير د اجازې له را لويدلو څخه نيولي دي پناه غواړم له شر د ستا د بنده (........) او د هغه د لښكرو نه او د هغه د تابعدارانو كسانو څخه كه له انسانو څخه وي او كه له پيريانو څخه وي ای الله ① د

هغوی له شر نه زما ساتنه وکوه ستا ثناء ډېره لويه ده ستا په حفاظت کې چې څوک وي هغه به د عزت خاوند وي ستا نوم ډېر پاک او عالي دی او لتا نه بغير د عبادت وړ نشته .

حضرت عبد الله بن عباس ❽ فرمايي : د حکمت او علم خبره دې چې له هرچا څخه آورېده ترېنه اخله يې ځکه کله کله داسي هم کيږي چې يو څوک د علم او حکمت نه ډکې خبرې کوي او خپله حکيم نه وي داسي مثال يې دی لکه څوک چې ويشتل وکوي او هغه ښه ويشتونکی نه وي .

حضرت عبد الله بن عباس ❽ د هجرت په ٦٨ کال په طائف کې د ٨١ کلونو په عمر کې وفات شو او هماغلته خاورو ته وسپارل شو او علي بن عبد الله محمد بن الحنفية ،العباس بن محمد بن عبد الله بن العباس ، صفوان اوکريب. يې په قبر کې ور ښکته شوي وو او دی مبارک يې قبر ته ور ښکته کړی وو الله ① يې د علم برکات په مونږ کيږدي او الله ① د مونږ په آخرت کې له ده سره د علماوو شهيدانو صالحانو او پيغمبرانو په صف کې يو ځای کړي .



عبيد الله بن عباس (رض) (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

دا يې تر ورور عبد الله نه يو كال كشر وو د دواړو مور ام الفضل لبابة بنت الحارث الهلالية وه عبيد الله ډير د عزت سړى وو په شكل كې ښائسته وو لكه پلار يې دوى چې ماشومان وو رسول الله ﷺ به ددوى سره مشغوليدو او د دوى به ئې ساعت ور تېرولو او له ځان څخه به يې لږ لري ودرول بيا به يې ورته وويل څوک به ماته زر را ورسيږي دوى به دواړو ورته را منډه كړه يوه به رسول الله ﷺ د شا له خوا ونيولو او بل به له مخې خوا وربانديږ ورغلو غيږه به يې وركړه او رسول الله ﷺ به په مينه دواړه له ځان سره ونيول .

د حضرت علي ؓ د خلافت په زمانه كې دى د حضرت علي ؓ نائب وو په يمن باندې .

او د هجرت په ۳٦ كال باندې يې په حج كې د خلكو امامت وكولو همدارنگه په ۳۷ كال كې بيا د هجرت په آتم كال كې دى څرنگه چې د حضرت علي ؓ د لوري نه د حج امام وو نو د حضرت معاوية له لوري نه يزيد بن سمرة الرهاوي راغلى وو نو د هغه سره يې دعوه شوه چې هغه ويل اوس زه بايد امامت وكوم بيا يې په مينځ كې د فيصلې

لپاره شيبة بن عثمان الحجبي خوښ کړو هغه فيصله د عبد الله بن عباس په حق کې وکوله پدې کال باندې هم دی امام پاتې شو او په خلکو باندې حج ده مبارک 8 وکولو بيا چې کله د معاويه قوت زيات شو په ده مبارک 8 باندې يې بسر بن ارطاة مسلط کړو هغه په ده پسې ورغلو دده مبارک 8 دوه ګلونه زامن يې ورته شهيدان کړل او په يمن کې حالات خراب شول .

کله کله به چې دوی دواړه ورونه (عبيد الله او عبد الله ابناء عباس ﵄) په مدينه منوره کې وو نو حضرت عبد الله 8 به مدينه منوره د علم نه او ده مبارک 8 به مدينه د کرم او عزت نه ډکه کړه .

په يوه سفر کې دی د خپل يو غلام سره د يوه کوچي کور ته ورغلو او د هغوی سره مېلمه شو هغه چې دده ښائسته شکل ته وکتل ډېر زيات ورځخه متاثر شو پوه شو چې د کوم شريف خاندان ځوان دی نو يې خپلې ښځې ته وويل :


دې مېلمه ته د ورکولو لپاره په کور کې څه شی شته ؟

ښځې يې ورته وويل : يوه هغه مېږه ده چې ستا د لور ژوند دهغې په شودو پورې تړلی دی .

ده ورته وويل : چې هرڅنګه وي اوس يې د حلالولو نه بغير بله چاره نشته .

هغې ورته وویل : ته خپله لور وژنې؟
دی لاړو هغه مېږه یې حلاله کړه او پخه یې کړه
حضرت عبیدالله بن عباس ❽ ته یې په مخ کې کېښوده
دوی دواړو ترینه خوراک وکولو او حضرت عبید الله
❽ دده خبرې له ښځې سره آورېدلې وې او پدې
پوه شوی وو چې د دوی په کور کې بس همدا یوه
مېږه وه او هغه یې زمونږ لپاره قرباني کړه .
چې کله ترې روانېدل خپل غلام ته یې وویل : ته
وګوره څه شی درسره شته پیسې؟
غلام یې ورته وویل : هو ! د مصرف له پیسو څخه
پنځه سوه درهمه پاتې دي .
ده ❽ ورته وویل : دي کوچي ته یې ورکړه .
غلام ورته وویل : سبحان الله ته ده ته پنځه سوه
درهمه ورکوې او ده څه کړي دي مونږ ته یې صرف
یوه ګډه حلاله کړه چې په بازار کې د هغې قیمت
پنځه درهمه دی ؟
ده ❽ ورته وویل : خوار شې هغه تردې زیات
سخي دی ته دېته نه ګورې چې مونږ ده ته د خپلو
پیسو څخه یو څه برخه ورکوو او ده مونږ ته ټول
هغه څه قرباني کړل چې درلودل یې او پداسې
حالت کې یې خپله ګډه مونږ ته حلاله کړه چې د
لور د مرګ خطر یې دی .
حضرت امام خلیفه بن خیاط رحمه الله دده ❽ په
اړه فرمایي چې د هجرت په ۸۵ کال کې او د بل
روایت له مخې د یزید بن معاویه په زمانه کې

په مدینه منوره کې وفات شو او د یو روایت له مخې په یمن کې وفات شو .



حضرت قثم بن عباس (رض) (د رسول الله ﷺ د تره زوی)

قُثَمُ بن العباس بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مَنَاف بن قُصَيّ مور يې ام الفضل لبابة بنت الحارث الهلالية او دا هغه ښځه وه چې تر خديجې بي بي نه په ښځو کې اول په اسلام مشرفه شوې وه .

حضرت عبد الله بن جعفر 8 فرمايي : مونږ ما شومان وو لوبې مو کولې چې رسول الله ﷺ په سپرلۍ باندې سپور په هغه لاره روان وو چېرته چې مونږ لوبې کولې رسول الله ﷺ و دريدو ويل يې دا ... يعني قثم ... ماته را پورته کړئ هغه چا ور پورته کړو شاته يې ورپسې کېنولو او زه يې تر مخ کېنولم او بيا يې مونږ دواړو ته دعا وکوله .

الله ① ده 8 ته د اداري ډېر ښه صلاحيت ورکړی وو او په مکه مکرمه باندې اولسم امير وو چې تر فتح وروسته وربانديې د هجرت په ٣٦ کال مقرر شوی وو تر حضرت ابي قتاده الانصاري څخه وروسته .

د ابن ماجه د روايت له مخې د حضرت قثم 8 مور بي بي رضی الله تعالی عنها رسول الله ﷺ ته ويل خوب

مې لیدو چې زمونږ په کور کې ستا کوم اندام وي ... رسول الله ﷺ ورته وویل : تا رښتیا خوب کتلی دی د فاطمې رضی الله تعالی عنها به اولاد پیدا شي ته به هغه ته شودې ورکړې بیا د حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها ماشوم پیدا شو ما ورته د قثم شودې ورکولې را مې وړو رسول الله ﷺ ته مې په غېږه کې ورکړو هغه د رسول الله ﷺ په جولی مبارکه کې بولې وکولې ما هغه ورو په لاس باندې په څپړ ووهلو رسول الله ﷺ راته وویل : الله د په تا باندې رحم وکوي زما زوی دې خوږ کړو .

دده په اړه امام ابن سعد په طبقات کې فرمایي تر ټولو څخه کشر چې د رسول الله ﷺ قبر ته ور ښکته شوی وو هغه قثم وو او دی تر ټولو نه وروسته را وختلو .

کله چې خلافت حضرت علي ه ته حواله شو دی یې په مکه مکرمه باندې والي مقرر کړی وو تردې چې حضرت علي ه شهید کړل شو .

د حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه د خلافت په دوره کې حضرت قثم ه د خراسان سیمې ته د اسلامي امارت د لمنې د فراخولو او د هغه ساحو د فتح کولو لپاره ووتلو او د هجرت په ۵۷ کال باندې په شهادت ورسېدو او ویل کیږي چې قبر یې په سمرقند کې دی .

د حضرت عباس ❽ د کورنۍ په اړه ویل کیږي چې ډېره رښتونې مجاهده کورنۍ وه او د لویې قربانۍ نښه یې دا وه چې متعدد ځوانان د یو پلار عباس ❽ او د یوې مور ام الفضل رضی الله تعالی عنها نه پیدا شول او د ال① له د دین لپاره په زمکه کې داسې خپاره خښ شول چې الفضل په اجنادین کې شهید شو معبد او عبدالرحمن یې په افریقا کې شهیدان شول ، عبدالله په طائف کې وفات شو ، عبید الله د یو قول له مخې په یمن کې وفات شو، قثم یې په سمرقند کې شهید شو او کثیر یې په ینبع کې شهید شو الله ① دې ټولو قربانۍ ورته قبولې کړي په دنیا کې به نور داسې ورونه پیدا نشي چې له یو بل نه داسې لرې لرې خښ شي او هغه هم بیا صرف د الله ① د دین لپاره .

معبد بن عباس (رض) (د رسول الله ☸ د تره زوی)

دا هم د رسول الله ☸ د تره زوی وو کله چې د مسلمانانو د فتوحاتو لړۍ افریقا خواته وغزیده دا مبارک هلته په شهادت ورسېدو .

سيد الشهداء ❽ (د رسول الله ☸ تره)

حضرت حمزه ❽ بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف .

نسب يې :

د پلار له لوري : حمزة بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر و هو قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

مور يې : هالة بنت وهيب بن عبد مناف بن زهرة بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر او هغه قريش بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان.

د رسول الله ☸ د عمه او د حضرت زبير بن العوام د مور حضرت صفية رضى الله تعالى عنها سكه ورور وو او د رسول الله ☸ په ترونو كې په ده باندي زيات قربان كېدونكى تره وو او په رضاعت كې يې ورور هم وو مخكې چې تېره شوه حضرت ثوبية رضى الله تعالى عنها ده ته هم شودي وركړي وې د رسول الله ☸ نه دوه كاله مشر وو او يا ترينه څلور كاله مشر وو په اختلاف د رواياتو سره لكن

اول قول غوره دی دده مور بي بي هم د رسول الله ﷺ د مور بي بي د تره لور وه .

څرنګه چې دده او د رسول الله ﷺ عمر سره يو شی وو دواړه د يوې زمانې ماشومان وو دوی دواړه به د حضرت عبد المطلب په کور کې لکه د ورونو داسې هستېدل او په يو ځای به يې د ماشومتوب لوبې کولې او الله ① دواړه تره او وراره په غيرت شجاعت پاکي باندې موصوف او ښائسته پيدا کړي وو.

په ځوانی کې حضرت حمزة ﷺ سخي ځوانمرده غيرتمن ځوان وو د عربو په تاريخ کې په مشهور جنګ حرب الفجار کې شامل وو دا جنګ د کنانة چې قريش هم له دوی نه دي او د قيس العيلان په مينځ کې واقع شو حضرت حمزة ﷺ پدې وخت کې د ۲۲ کلونو ځوان وو چې په عملي بڼه يې جنګ وليدو او په سختو جذباتو سره يې د دوو جنګي صفونو سره يو ځای کېدل وليدل او د اول ځل د پاره ده په عملي توګه د رښتيا په جنګ کې د سلاح استعمال وليدو او ويې کولو د جنګ سخت حالت يې تجربه کړو او د مرګ او ژوند په مينځ کې د يوې ثانيې په فاصله کې پاتې شو او ويې ليدل چې تر اوسه پورې به ده سلاح چلول او جنګي تکتکيونه د زده کړې په ډول زده کول دهغې عملي بڼه څنګه وي .

د یو قول له مخې حضرت حمزة 8 هماغه کس دی چې حضرت خدیجة رضی الله تعالی عنها یې د رسول الله ﷺ لپاره غوښتې وه .

حضرت حمزة 8 د اسلام په شرف باندې د بعثت په دوهم کال هغه وخت مشرف شو کله چې ابو جهل له رسول الله ﷺ سره د صفا په خوا کې مخامخ شو ده ته یې ضرر ور ورسولو بدې خبرې یې ورته وکولې او ښکنځل یې ورته وکول رسول الله ﷺ هېڅ ځواب هم نه ور کرځولو او ورته چپ وو پدې وخت کې دحضرت حمزة 8 په لاس کې قوس وو را روان وو دی به چې د قریشو په مجلس تېرېدو په هغوی باندې به یې سلام اچولو له هغوی سره به یې خبرې کولې او هغوی یې هم قدر کولو او ده ته یې د مشر په نظر کتل او تردې دمه لا په اسلام مشرف شوی نه وو یوه آزاده شوې وینزه وه د ابو جهل ښکنځل او د رسول الله ﷺ چپتیا او دا ټول حالت یې ولیدو هغې ورته وویل د عمارة پلاره کا تا هغه حالت لیدلی وای چې لږ وړاندې ابي الحکم (ابي الجهل) ستا د وراره محمد څومره بې عزتې وکوله او هغه ته یې ښکنځل وکول محمد له هغه سره خبرې ونه کولې او پټه خوله ترې تېرشو حضرت حمزة 8 چې دا خبرې واورېدې ورته غصه شو او په غصه کې له کوره پسې را ووتلو د حرم خوا ته را روان وو فکر کېدو لکه دی چې طواف کول

غواړي لکن دی په ابي جهل پسې ور روان وو تردې چې ابي جهل یې ولیدو ورغلو د سر سره یې ودریدو او په غیشي باندې یې په زوره ووهلو تردې چې سر یې په بده توګه ورمات کړو او په حیدري او د غصې نه په ډک آواز کې یې ورته وویل : ته هغه ته شکنځل کوې او زه د هغه په دین یم هغه چې څه وایي زه هم هغه وایم؟ که رښتیا دومره تکړه وې هغه خبرې د چې هغه ته کړي دي ماته یې وکوه د بني مخزوم قبیلې څه خلک را پاڅېدل چې د ابي جهل مرسته وکوي نو حضرت حمزة ❽ ته یې وویل : حمزة ته لکه چې له خپل دین څخه آوښتی یې؟ حضرت حمزة ❽ چې په غصه کې وو سره ددې چې لدې وړاندې په اسلام مشرف شوی نه وو اوس یې وویل هو! ما څوک ددینه منع کولی شي؟ زه ددې ګواهي ورکوم چې محمد د الله ① رسول دی او هغه چې هرڅه وایي رښتیا وایي که ستاسې څه په وس پوره وي اوس ما ددې څخه منع کړئ ...

ابو جهل چې بله چاره ونه لیده او د حضرت اسد الله و اسد رسول الله حمزة ❽ سره یې په جنګ مخامخ کېدل په وس کې نه وو نو یې وویل : د عمارة پلار پرېږدئ ما دده وراره ته بد شکنځل کړي دي .

ددېنه وروسته حضرت حمزة ۞ اسلام قبول کړو او د رسول الله ﷺ سره یې دهغه په مرسته باندې بیعت وکولو او دده د اسلام سره د رسول الله ﷺ په ژوند کې ډېر فرق راغلو اوس قریشو ویل بس نور رسول الله ﷺ له مونږ نه محفوظ شو چې حمزة ۞ یې نور حمایت کوي او بیا یې دومره تکلیفونه نشوای ورکولی لکه مخکې به یې چې ورکول .

پدې وخت کې کور ته لاړو شیطان به ورته ویل : ګوره ته هوښیار سړی وې اوس د قریشو مشر وې ته له خپل دین څخه د محمد له امله واوښتې او خپل دین دې پرېښودو؟

دی چې ددې فکرونو او چورتونو څخه تنګ شو نو یې وویل ای الله ۞ که چېرته د محمد رسول الله ﷺ دین په حق وي نو زما په زړه کې یې محکم کړه او که په نا حقه وي ای الله ۞ ماته بېرته ترېنه د وتلو لپاره لاره برابره کړه .

ټوله شپه یې ډېره زیاته بې ارامه تېره کړه شیطان په زړه کې ورته شکونه اچول او خوب یې ترې نشوای کولی او شیطان وربانډې ټوله شپه خواري کوله چې په زړه کې ور واچوي چې دا یې ښه کار نه دی کړی چې صرف د یو څو دقیقو غصې له امله یې اسلام قبول کړو او په زړه کې یې ورته اچول چې ستا مشري اوس په قریشو کې یو مهم شی دی او ستا عزت په خلکو کې صرف د

پلرونو په دین باندي په پاتې کېدلو کې دی او داسې نوري وسوسې وې چې دی ترې زیات تنګ شو کله چې سهار شو رسول الله ﷺ ته راغلو ورته یې وویل : ای وراره زه په داسې کار کې واقع شوم چې بېرته ترې وتلی نه شم زه په داسې ځای کې یم چې نه پوهېږم چې دلته څه دي؟ زه نه پوهېږم چې زه کوم ځای ته راغلی یم دا هدایت دی او که ګمراهي؟ ته ماته څه خبرې وکوه ستا خبرو ته زما زړه کیږي .

رسول الله ﷺ ورته شروع وکوله هغه ته یې نصیحت وکولو وعظ یې ورته وکولو د الله له لوري نه یې ده ته زیری ورکړو چې ته اوس په سمه لاره یې د اور او د الله ① له غصې نه یې دی وډار کړو الله ① د رسول الله ﷺ خبرې دده زړه ته ور ننه ایستې او د شیطان فکرونه او چورتونه یې ترې وویستل بیا یې وویل بس اوس زه په رښتیا او د زړه له اخلاصه ددې ګواهي ورکوم چې ته د الله ① رسول ﷺ یې او اسلام مې اوس دومره خوښ دی چې والله که تر اسمان لاندې ټوله دنیا زما کیږي بیا مې هم پخواني دین ته ور آوړېدل نه دي خوښ .

د حضرت حمزة ⑧ تر اسلام وروسته مسلمانان ډېر تکړه شول او ددېنه وروسته به مسلمانان له هېڅ ظالم او باغي پهلوان او جنګي کس څخه نه ډارېدل او حضرت حمزة ⑧ چې له مسلمانانو سره

وو نو يو لوی روحاني او ظاهري قوت ورسره وو او کله چې حضرت عمر 8 چا ته وويل ماته محمد ☸ را وښيئ زه ورتلل غواړم نو چا ورته وښودو چې د صفا په خوا کې يو کور دی رسول الله ☸ هلته تشريف لري دی راغلو دروازه يې ورته وټکوله د دروازې له سوريو څخه چې وکتل شول عمر 8 ولاړ دی او توره يې په لاس کې ده صحابه وو ورمنډه کړه رسول الله ☸ ته يې وويل عمر راغلی دی په دروازه کې ولاړ دی او توره يې په لاس کې ده ..

حضرت حمزة 8 ورته را پاڅېدو ورته يې وويل : اجازه ورکړئ چې راشي که د خير په نيت راغلی وي نو ورته و به رسيږي او که د شر په نيت راغلی وي نو د همده په توره به يې مونږ ووژنو (دا داسې خبره وه چې د ټولو مسلمانانو زړونو ور باندې اوبه و شيندلې او ډېر پرې خوشحال شول او په مسلمانانو کې همدا يو د الله ① او دهغه د رسول زمری وو چې دا خبره يې کولی شوه) رسول الله ☸ امر وکولو چې دروازه ورته خلاصه کړئ هغه را ننوتل تردې چې د رسول الله ☸ خوا ته ورسېدلو او رسول الله ☸ ته نېږدې ودرېدو رسول الله ☸ هغه تر ځادر را ونيولو او په زوره يې وښورولو او ورته ويل يې : د خطاب زويه د څه لپاره راغلی يې؟ ماته ښکارېږي چې ترڅو الله ① په تا باندې

عذاب نازل نه كړي ته له خپل كفر څخه لاس نه اخلې ... حضرت عمر ❽ ورته وويل : يا رسول الله ☸ زه تاته ددې لپاره راغلى يم چې په الله ① او دهغه په رسول ☸ باندې ايمان راوړم او په هغه څه باندې ايمان راوړم چې دا لله ① له لوري نه راغلي دي رسول الله ☸ داسې په زوره تكبير وويلو چې په كور كې څومره خلك وو ټول پوه شول چې حضرت عمر ❽ په ايمان مشرف شو او هرې خواته مسلمانانو د اسلام اعلان وكولو او دوه صفونه مسلمانان برابر شول د مكې مكرمې په كوڅو كې د مباركو تكبيرونو او كلمو د ويلو سره را ووتل د يوه صف په سر كې حضرت عمر ❽ او د بل صف په سر كې د الله ① او د هغه د رسول ☸ زمرى حضرت حمزة ❽ وو خلكو به چې دوى دواړه د مسلمانانو په مخ كې ليدل هېڅوا ورته د څه ويلو جرئت نشواى كولى .

كله چې په مكه مكرمه كې د مسلمانانو حالات سختېدل نو رسول الله ☸ څه كسانو ته مشوره وركړه چې تاسې مدينې ته هجرت وكوئ او دهغه مسلمانانو سره يې حضرت حمزة ❽ تر خپل هجرت يوڅه وخت وړاندې ولېږلو .

كله چې د الله ① په لاره كې د جهاد وخت شو حضرت حمزة ❽ هغه زړور مجاهد وو چې سارى يې نه

درلود او اول د صحابه وو ډله چې رسول الله ﷺ د سيف البحر سيمې ته لېږلې وه مشري يې د ده ❽ په غاړه وه په اسلامي تاريخ کې اول ځل وو چې د هجرت په اوومه مياشت د روژې په مبارکه مياشت کې د حضرت حمزة بن عبد المطلب ❽ په مشرۍ کې ۳۰ کسان مجاهدين چې ټول پکې مهاجرين وو د جنګ په نيت ووتل او د بحر احمر ساحل ته ددې لپاره ورسېدل چې دهغه تجارتي قافلې مخه ونيسي چې د ابو جهل په مشرۍ کې د شام نه مکې مکرمې ته روانه وه د سيند د غاړې سره نېږدې يو بل ته سره مخامخ شول او د جنګ لپاره يو بل ته تيار شول چې پدې وخت مجدي بن عمرو الجهني چې د همدې ساحې اوسيدونکی وو او د دواړو ډلو (مسلمانانو او مشرکانو) سره يې تعهد لرلو ددوی په مينځ کې و ګرځېدو کله به مسلمانانو ته راغلو او کله به کفارو ته ورغلو تردې چې دوی يې دواړه رضا کړل چې جنګ بايد ونشي او بيغير د جنګ نه د مکې کفار مکې ته روان شول او حضرت حمزة ❽ د خپلو ملګرو سره مدينې منورې ته ستون شو .

د بدر په جنګ کې شريک وو او هلته يې بې ساري کارنامې وکولې قصه ئي ددې سلسلې په دريم کتاب کې تېره شوېده د موضوع د تکميل لپاره يې را ګرځوم کله چې د بدر د جنګ نه وړاندې باران وشو نو مسلمانانو د باران اوبه په يوه حوض

کې جمع کړې وې چې د ضرورت په وخت کې به يې ترې استفاده کوله پدې وخت کې د کفارو د لښکر سره د اوبو نعمت او سهولت بالکل نه وو نو د جنګ د شروع کېدو اول قدم دا وو چې يو کس د کفارو له ډلې نه اسود بن الاسود المخزومي چې ډېر بد خويه بد اخلاقه سړی وو را ووتلو او ويل يې زما د قسم وي يا به زه د مسلمانانو له حوض نه اوبه څښم او يا به هغه حوض ړنګوم او يا به مړ کېږم هغه د همدې نيت سره حوض ته روان وو چې په لاره کې حضرت حمزه ❽ ورپسې ورغلو او په پښو يې په توره ووهلو چې پښه يې تر پنډۍ نه شکته ور پرې کړه هغه شا په تخته ځملاست او خپلو ملګرو ته يې خپله پښه ور ښکاره کوله او ځان يې بيا هم د حوض لوري ته ور کش کولو د حوض غاړې ته ورسېدو چې د حضرت حمزه ❽ بل وار پرې ور ورسېدو او قتل يې کړو پدې سره د مسلمانانو حوصله نوره هم ډېره زياته لوړه شوه .

د اسود بن اسود د قتل سره د جنګ لمبې شروع شوې د کفارو له لوري نه درې کسان چې جنګي تجربې يې لرلې ميدان ته را ووتل عتبة بن ربيعة، شيبة بن ربيعة، وليد بن عتبة بيا عتبة بن ربيعة مسلمانانو ته آواز کړو چې خپل درې پهلوانان راولېږئ د انصارو له مجاهدينو څخه درې کسان ور ووتل او د دوی په مقابل کې و

دريدل مشرکينو ورته آواز کړو چې ستاسي سره زمونږ څه کار نشته مونږ ته خپل د تره زامن را مخکې کړئ چې زمونږ سيال وي او مونږ ورسره جنګ وکوو بيا رسول الله ﷺ حضرت عبيدة بن حارث (د رسول الله ﷺ د تره زوی) حضرت حمزه رضی الله عنه او حضرت علي رضی الله عنه ور ولېږل پدې کې اختلاف دی چې په دې دريو کسانو کې څوک چا ته په مقابله ورغلل خو د ابو داؤد د حديث له مخې حضرت علی رضی الله تعالی عنه شيبة ته حضرت حمزه رضی الله عنه عتبة ته او حضرت عبيدة بن حارث رضی الله عنه وليد بن عتبة ته په مقابله ورغلل د بل روايت له مخې عبيدة رضی الله عنه د عتبة بن ربيعة سره په جنګ شو او حضرت حمزه رضی الله عنه د شيبة سره او حضرت علي رضی الله عنه د وليد سره په جنګ شو ددوی په مابين کې جنګ شروع شو د کفارو له لوري نه دری واړه ووژل شول او د مسلمانانو له لوري نه صرف حضرت عبيدة رضی الله عنه زخمي شو چې بيا يې د مسلمانانو د لښکر تم ځای ته نقل کړو (چې بيا تر صفراء پورې په زخمي حالت کې ورسېدو او مدينې ته په لاره باندې شهيد شو او هماغلته په لاره کې دفن کړل شو)

د بدر په جنګ کې د حضرت حمزة رضی الله عنه قرباني او ايثار او مقابله په سرو زړو د ليکلو وړ ده په داسې حالت کې چې صرف د تکبير اوازونه آوريدل

کېدل چې د تورو د شرنگهار سره په يوځای راتلل
په حضرت حمزة ❽ پسې لاندې کسان حساب شوي دي
چې ده ❽ ووژل :
شيبة بن ربيعة العبشمي القرشي دا هغه کس وو
چې د جنگ تر شروع وړاندې دی ورسره په ميدان
کې مخامخ شو او د دواړو صفونو خلکو ورته کتل
چې دی يې مړ کړو (د يوه روايت له مخې) .
عتبة بن ربيعة العبشمي القرشي دا هغه کس وو
چې دده وراره حضرت عبيدة بن الحارث ته په
مقابله ورغلی وو حضرت عبيدة ❽ زخمي شو بيا
ده ☸ او حضرت علي ❽ ددې کس په وژلو کې
مرسته وکوله
حنظلة بن أبي سفيان بن حرب الأموي القرشي دا يې
دجنگ د گرمېدو نه وروسته ووژلو په يو روايت
کې چې پدې وژنه کې هم حضرت علي ❽ ا و حضرت
زيد ❽ ورسره شريکان شول .
طعيمة بن عدي النوفلي القرشي په يو روايت کې
دا په حضرت علي ❽ پسې حساب شوی دی او په يوه
روايت کې په ده پسې ممکن چې دواړو به وار
وربانديې کړی وي .
زمعة بن الأسود بن المطلب الأسدي القرشي
عقيل بن الأسود بن المطلب الأسدي القرشي
أبو قيس بن الوليد بن المغيرة المخزومي
القرشي.

الأسود بن عبد الأسد بن هلال المخزومي القرشي دا هغه کس وو چې قسم یې خوړلی وو یا به د مسلمانانو له حوض نه اوبه څښي او یا به یې ړنګوي خپل یوه ارمان ته هم ونه رسېدو د حضرت حمزة ❽ په لاس یې ځان مړ کړو .

نبیه بن الحجاج بن عامر السهمي القرشي

عائذ بن السائب بن عویمر المخزومي القرشي دا اسیر وو په لاره کې د هغه زخم له امله مړ شو چې په جنګ کې په ده باندې لګېدلی وو او دا هم حضرت حمزة ❽ زخمي کړی وو .

حضرت حمزة ❽ په اُحد کې هم شرکت کړی وو د بې ساري قرباني نه وروسته الله ① پدې ورځ ورته شهادت ورکړو الله ① شهید کړو لکن تر شهادت پورې یې د اُحد په غزا کې د خپلې برخې کار کړی وو دوه خو یې هغه کسان شکاره ووژل چې د کفارو بیرغ یې پورته کړی وو .

په قریشو کې بل مشهور جنګي کس سباع بن عبد العزی الغبشاني وو په اُحد کې ده ولیدو ورته یې آواز کړو ها دېخواته راشه د سنت کونکې زویه (په عربو کې د زنانه وو د سنت (ختنمې) رواج وو او دده مورپدې کې ماهره وه) هغه راغلو حضرت حمزة ❽ په توره ورسره مخامخ شو تردې چې هغه یې هم ووژلو ډېر زیات کسان یې ووژل یو وخت چې حالات ډېر سخت شول د رسول الله ﷺ

او د کفارو په مینځ کې د څه لحظاتو لپاره صرف دی ولاړ وو او درسول الله ﷺ نه یې دفاع کوله .

د جبیر بن مطعم یو حبش غلام وو وحشي ورته ویل کېدل هغه د نیزې په وار کې ډېر تکړه وو ډېره کمه نښه به تري خطا کېدله ده ته یې وویل خلک د اُحد جنګ ته ځي ته هم ورسره لاړ شه په بدر کې زما تره طعیمة بن عدي وژل شوی دی که دي په دي جنګ کې د رسول الله ﷺ تره حمزه ووژلو ته ازاد یې ټول خلک خبر وو چې وحشي په حضرت حمزة ؓ پسې روان دی او هند بنت عتبة چې د ابي سفیان مېرمن وه هغه هم د کفارو د لښکر سره ددې لپاره وتلې وه چې جنګیالي په جنګ ور تېز کړي د هغې هم زړه حضرت حمزة ته ځکه پوخ وو چې د هغې پلار په بدر کې هم ده وژلی وو چې کله به دی د هغې په خوا کې تېرېدلو نو هغې به ورته داسي خبرې کولې چې دی به یې په جذباتو کې راوستلو .

کله چې د جنګ په سختو لحظو کې حضرت حمزة ؓ سخت مصروف وو وحشي ور پسي ورغلو او چې کله ښه ورته نږدې شو نو په نیزه باندې یې وویشتلو (قصه یې په غزوة اُحد کې مخکې تېره شوېده) حضرت حمزة ؓ د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو مشرکین څرنګه چې ده ته زیات غصه وو نو یې غوږونه او پوزه ورڅخه پرې کړي وو او هند بنت عتبة راغله دده ګېډه یې وربانډې و څیرله زړه

يې را وويستلو خوله يې ورباندې ولګوله لكن تېر يې نشواى كړلى بېرته يې قى كړو .

رسول الله ﷺ او صحابه كرامو ؓ چې كله وليدل دوى د حضرت حمزة ؓ شكل خراب كړى وو او پوزه او غوږونه يې ترې پرې كړي وو نو دوى وويل كه چېرته دا ځل مونږ په دوى باندې همداسې كامياب شو نو مونږ به هم ورسره همداسې كار كوو بيا وروسته آيتونه راغلل چې مسلمانانو ته يې د صبر نه د كار اخيستنې لار ښونه كوله بيا يې دا فكر د زړه نه ووتلو .

كله چې په أُحد كې رسول الله ﷺ د حضرت حمزة ؓ د جسد مبارك سره و دربدو ويې فرمايل : ستا په جدايې چې زه ځومره و دردېدم بيا به زه داسې ونه دردېږم زه په خپل ژوند كې تردې په سخت ځاى كې نه يم ولاړ بيا يې وفرمايل ماته جبريل ؑ راغلو راته يې وويل د حضرت حمزة ؓ نوم په اوو اسمانونو كې حمزة بن عبد المطلب اسد الله و اسد رسوله ليكل شوى دى .

د حضرت عكرمة او ابن عباس رضى الله تعالى عنهما په روايت كې رسول الله ﷺ فرمايې تېره شپه زه جنت ته تللى وم ما وليدل چې حضرت جعفر ؓ د مرغانو سره آلوتلو او حضرت حمزه په يوه تخت ناست وو تكيه يې كړې وه .

د حضرت حمزة 8 په اولاد کي عمارة ،يعلى ، أمة الله وأمامة شامل وو په دوی کي صرف د يعلى 8 پنځه زامن وو او د هغي نه وروسته بيا د هغه نسل هم قطع شو او د حضرت حمزة 8 نسل پاتې نشو .

مـــا خـذ و نـــه

1-التاريخ الإسلامي مواقف وعبر، د. عبد العزيز الحميدي، دار الدعوة، الإسكندرية.

2- السيرة النبوية دروس وعبر، د. مصطفى السباعي، المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة التاسعة، 1406هـ - 1986م.

3- السيرة النبوية، لأبي محمد بن عبد الملك بن هشام، دار الفكر.

4- السيرة النبوية عرض حقائق وتحليل أحداث ,د.على محمد الصلابي الطبعة الأولى.

5- السيرة النبوية الصحيحة، د. أكرم العمري، الطبعة الأولى 1412هـ/ 1992م، مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.

6-السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصيلة:الدكتور مهدي رزق الله أحمد ط1-1412ه مكتبة الملك فيصل.

7- السيرة النبوية مواقف وعبر :الدكتور عبد العزيز بن عبد الله الحميدي ط2 دار الدعوة .

8-القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ

1990م.

9- تفسير القرطبي، لأبي عبد الله القرطبي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، لبنان، 1965م.

10- سير أعلام النبلاء: شمس الدين الذهبي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1403هـ.

11- صور وعبر من الجهاد النبوي في المدينة، تأليف: د. محمد فوزي فيض الله، دار القلم، دمشق، الدار الشامية، بيروت، الطبعة الأولى، 1419هـ- 1996م.

12- صحيح السيرة النبوية، إبراهيم العلي، دار النفائس، الطبعة الثالثة، 1408هـ - 1998م.

13- صحيح البخاري، محمد إسماعيل البخاري، دار الفكر، الطبعة الأولى، 1411هـ - 1991م.

14- على خطى الحبيب :عمرو خالد

17- فقه السيرة النبوية :الدكتور محمد سعيد رمضان البوطي ط11 1991م

18- من معين السيرة، صالح أحمد الشامي، المكتب الإسلامي، الطبعة الثانية، 1413هـ- 1992م.

19- فقه السيرة النبوية، منير الغضبان، معهد البحوث العلمية وإحياء التراث مكة المكرمة.

20- شرح النووي على صحيح مسلم للإمام النووي المتوفى 676هـ - طبع المطبعة المصرية ومكتبتها – القاهرة عام 1347هـ.

21-البداية والنهاية، أبو الفداء ابن كثير الدمشقي. دار الريان للتراث.

22- غزوة بدر الكبرى الحاسمة، محمود خطاب.

23-غزوة بدر الكبرى، محمد أبو فارس، دار الفرقان، الطبعة الأولى، 1402هـ-1982م.

24- غزوة بدر الكبرى، محمد أحمد باشميل، طبعة دار الفكر، الطبعة السادسة، سنة 1394هـ

25-فتح الباري، ابن حجر العسقلاني، دار المعرفة، بيروت، لبنان.

26- الدر المنثور في التفسير بالمأثور، الإمام السيوطي، الناشر محمد أمين دمج، بيروت، لبنان.

27-زاد المعاد في هدي خير العباد، أبو عبد الله ابن القيم حققه: شعيب الأرناؤوط وعبد القادر، الطبعة الأولى، 1399هـ، دار الرسالة.

28-السيرة النبوية في ضوء القرآن والسنة، محمد أبو شهبة، دار القلم، دمشق، الطبعة الثالثة، 1417هـ - 1996م.

٢٩-المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة، عبد الكريم زيدان، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1418هـ- 1997م.

٠3- طبقات ابن سعد الكبرى، محمد بن سعد الزهري، دار صادر، ودار بيروت للطباعة والنشر، 1376هـ- 1957م.

١3- المغازي للواقدي، محمد عمر بن واقد المتوفي 207هـ، تحقيق د. مارسدن جونس، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الثالثة، 1404هـ- 1984م

٣2- القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ-1990م.

٣3- إمتاع الأسماع بما للرسول من الأبناء والأموال والحفدة والمتاع، للشيخ أحمد المقريزي، صححه وشرحه محمود محمد شاكر، مطبعة لجنة التأليف والترجمة بالقاهرة 1941م.



د مؤلف چاپ شوي آثار

1. د حضرت محمد ﷺ د نبوت معجزې
پښتو

2. ژنکه څاله
پښتو

3. آشیانه سوخته
فارسي

4. په اسلام کې د انسان حقوق
انګلیسي

5. دین یې دام دی ددنیا په لار کې ایښی
پښتو

6. فرار از کزار
فارسي

7. له کزاره تېښته
پښتو

8. زوړ دین نوی مسلمان
پښتو

9. دم ډمکو جي او لیکوال
پښتو

10. ادیان پشت در
فارسي

11. له دروازې تر شا دېنونه
پښتو

12. د انصاف او اعتدال لاره
پښتو

13. کفري الفاظ
پښتو

14. کل بچه فارسي

15. معلومات عمومي
فارسي

16. د حج لارښود پښتو
او انګليسي

17. محمد رسول الله ﷺ سيرت اخلاق او پېژندنه
پښتو

18. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه اول
پښتو

19. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه دوهم
پښتو

20. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه دريم
پښتو

21. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه څلرم
پښتو